د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتيوت
د کابل مجلې مديريت

# کابل

## ۵ گڼه

کابل: ژبنۍ، پوهنیزه- څېړنیزه، فولکلوري او ادبي میاشتنۍ

مسوول مدیر

څېړندوی سیدنظیم سیدي

مهتممه

څېړندوی شکیلا میاخېل

کتنپلاوی

✓ څېړنپوه سیدمحی الدین هاشمي
✓ څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ
✓ څېړنپوه نصرالله ناصر
✓ څېړنپوه عبدالواجد واجد
✓ څېړندوی حبیب الله رفیع
✓ څېړندوی سیدنظیم سیدي

کلنۍ بیه

✓ په کـــابل کې: «۳۰۰» افغانۍ
✓ په ولایاتو کې: «۳۶۰» افغانۍ
✓ په نورو هېوادونو کې: «۲۰» ډالره
✓ د زده کوونکو او محصلینو لپاره نیمه بیه
✓ د یوې ګڼې بیه: «۲۵» افغانۍ

کابـــل – د افغانســـتان د علومـــو اکـــاډمي
د ژبـــو او ادبیـــاتو مرکـــز
د پښـــتو ژبـــې او ادبیـــاتو انســـتیتیوت
اکـــاډمۍ ځلـــور لارې
د پخـــوانۍ پښـــتو ټـــولنې ودانـــۍ

ګرځنده: ۰۷۹۶۶۵۰۶۵۸
او: ۰۷۷۳۳۰۸۳۳۰
برېښلیک:
magazinekabul@gmail.com

## د کابل مجلې په دې ګڼه کې

### لیکلړ



| سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| د صنوبر حسین مومند سیاسي | بریالی باجوړی | ۱ |
| د شعر او نظم ترمنځ ګډې | فهیم بهیر | ۱۵ |
| د غني خان په اشعارو کې د | عبدالواجد واجد | ۲۷ |
| د ګل پاچا الفت نثرونو کې | صحرا علیزی | ۳۵ |
| لیک او د عربي لیک ډولونه | بخت میر وزیري | ۴۹ |
| په پښتو ادب کې د ازاد شعر | ظفر خان | ۶۳ |
| د پښتو جملې عروضي | محبوب شاه محبوب | ۷۷ |
| استاد بختانی خدمتګار او | نصرالله ناصر | ۸۵ |
| هغوی چې بیا نه راځي | محمداصف احمدزی | ۹۹ |
| د ګل پاچا په شعرونو کې | س. اصغر هاشمي | ۱۰۸ |



## یـــــاد ونـــــه

✓ د کابل مجلې کتنپلاوی د رالېږل شوو مقالو په اوړون او سمون کې خپلواک دي.
✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی په خپله وکړي.
✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.
✓ رالېږل شوې مقالې بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

پوهندوی بریالی باجوړی

# د صنوبر حسین مومند سیاسي او ادبي شخصیت

د پښتنو په سیاسي او ادبي تاریخونو کې صنوبر حسین مومند یو داسې شخصیت تېر شوی چې په سیاست او ادب کې د پوره نوم خاوند و؛ خو د ده دژوند سیاسي او ادبي اړخ لکه څنګه چې ښایي نه دی را ښکاره شوی.

صنوبر حسین مومند چې په کاکاجي مشهور دی، په پښتو معاصرو ادبیاتو کې د یو لیکوال، شاعر، منتقد او په خاصه توګه په پښتو ادب کې د مترقي نظریاتو باني او روزنکی دی.

کله چې په روسیه کې کارګري انقلاب په (۱۹۱۷م) کال کې بریالیتوب ته ورسېد، نو په ډېرو ملکونو کې د سوسیالیستي نظریاتو ګوندونه جوړ او تقویه شول.

د هند په لویه وچه کې هم دغه ګوندونه د کمونیست پارټۍ په نوم جوړ او اغېزې تر پښتونخوا را ورسېدې. د دغه اغېزو په پایله کې هم یو شمېر کسانو دغه نظریه ومنله

او ددغه لاري د پلي کولو لپاره يې مختلفې ډلې او ټولنې جوړې کړې چې يو په کې صنوبر حسين مومند کاکاجي و.

همېش خليل د کاکاجي پېژندنه داسې کوي:

(( کاکاجي په قام مومند دی. د (۱۸۹۷م) کال په جنوري کې د پېښور په ((کګه وله)) نومي کلي کې پيدا شو.

د پلار نوم يې ګلفراز خان و. کاکاجي خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کې سرته ورسولې. بيا د پېښور په اسلاميه های سکول کې شامل شو. د لسم ټولګي تر فراغت وروسته يې د ښوونکي دنده پيل کړه، خو کله چې په (۱۹۲۰) کال کې يې عملي سياست پيل کړ، نو له خپل کار نه يې استعفاء وکړه او په کال (۱۹۲۶) کې يې د ((زميندارانو)) انجمن بنسټ کېښود. (۴ : ۹۴)

دا انجمن د بزګرانو او مزدورانو و. په کوزه پښتونخوا کې د زميندار کلمه د بزګر او دهقان لپاره استعمالېږي، خو ددغه انجمن د جوړېدو نېټه عبدالخالق خليق په خپل کتاب کې (۱۹۲۷) کال ښودلې.

خليق په خپل کتاب کې د (۱۹۲۷) کال د واقعياتو په لړ کې وايي: په دې کال يو بل انجمن جوړ شوی و چې هغې ته به د مهمندو د انجمن زميندارانو ويل شو. د دې تحريک ليډر صنوبر خان و چې هغه وخت کې يو ډېر مخلص قومي کارکن و او حکومت ته به يې د وفدونو په شکل خپلې مطالبې پېش کولې. په اخباراتو کې به يې مضمونونه شايع کول او جلسې به يې کولې. (۷ : ۱۲۶)

صنوبر حسين مومند د دغه انجمن له جوړېدو نه دوه کاله وروسته د سېلاب په نامه يو اخبار راوويست چې په دغه اخبار کې به يې د بزګرانو مسايل او ورځنۍ پېښې خپرولې.

همېش خلیل په خپل کتاب کې زیاتوي: چې د انجمن زمینداران یو کال پس یې د عبدالرحمن ریا او عبدالعزیز خان خوشباش په مرسته د (جمعیت نوجوانان سرحد) بنیاد کېښود، خو خلیق د دغه انجمن د جوړېدو نېټه (۱۹۳۰) کال ښودلي چې یقین ته سمه پرېوځي.

اصلاً دغه انجمن په هند کې د (نوجوان بهارت سبها) په نوم جوړ شوی و، چې یو تندروه ډله وه. د اسلحې له لارې یې خپلې مبارزې ته دوام ورکاوه. مصلحتاً د دغه انجمن نوم په سرحد کې (نوجوانان سرحد) کېښودل شو.

خلیق وایي، په هندوستان کې د انقلابي زلمیو یوه ډله جوړه شوې وه چې د هغې نوم (نوجوان بهارت سبها) و. چا به ځانته سوشلست وایه، چا کمونېست وایه.

په هر حال! دا ټول یو قسم جماعتونه وو، غرض یې د ملک د ازادۍ لپاره هر قسم قرباني ورکول وو. د دې ډلې صوبایي جرګه په پېښور کې هم جوړه شوې وه.

خو د دې جرګې مصلحتي نوم (نوجوان بهارت سبها) په ځای (نوجوانان سرحد) ایښی و. زموږ د صوبې قابله قدر سیاسي کارکن صنوبر حسین خان د (ګګې ولې) د دې جرګې صدر و.)) (۷: ۱۲۷)

په (۱۹۳۰ع) کې د (د سول نافرماني) د تحریک په سلسله کې چې کاکاجي په دې پوه شو چې د انګریز حکومت یې نیسي، نو د خپلو درې تنو ملګرو سیدامیر پادشاه، صاحب زاده محمد اسلم شهید او سید مرتضی شاه سره ازادو قبایلو ته لاړ او هلته یې د ترنګزو حاجي صاحب فضل واحد د تحریک سره د پرنګي استعمار پر وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ. په باجوړ او مومندو کې کاکاجي اتلس کاله د پرنګي خلاف وجنګېده او د (شغله) په نامه یې یوه مجله هم جاري کړه چې پخپله به یې لیکله او پخپله به یې په لاسي ډبرینه مطبعه کې چاپوله.

په دغه جریده کې کاکاجي د پیرنګیانو خلاف په قبایلي اولس کې د جهاد د جذبې پیدا کولو کوشش کاوه. (۴: ۹۴-۹۵)

د مبارزې په دغه دوران کې د کاکا جي نږدې ملګري صاحب زاده محمد اسلم د انګریزانو له خوا شهید شو، خو اجمل خټک وایي، چې د مومندو په غذا کې شهید شو. کاکاجي چې د پاکستان له جوړېدو نه پس ازادې علاقې ته راغی، نو د خپل ملګري صاحب زاده محمد اسلم په نامه یې یوه مجله جاري کړه. چې دغې مجلې (اسلم) په پښتو معاصر ادب کې ډېر درونډ او بنسټیز ځای درلود. دا وخت نو کاکاجي له تندروۍ نه را اوښتی و او د اعتدال لارې نیولې وه، خو مفکوره یې د هماغه سوسیالیسي نظام راوړل او د دغه مقصد لپاره یې خلک او اولسونه انقلاب ته چمتو کول وو.

صنوبر حسین کاکاجي خپله ټوله توجو دغه وخت ادب ته را واړوله او غوښتل یې چې له دغې لارې خپله مبارزه جاري وساتي. دغه وخت په هندوستان کې داسې انجمنونه جوړ شوي وو چې د ادب له لارې یې مترقي نظریات وړاندې کول.

د شعر او ادب له لارې یې خلک ویښول او متحرک کول، په ټولنه کې یې د نابرابرۍ، استعمار او استثمار پرضد خپل پیغام رساوه.

د لومړي ځل لپاره په هندوستان کې دغسې یو انجمن د (انجمن مصنفین ترقي پسند) په نوم جوړ شو، د دغه انجمن د جوړېدو نېټه په ځینو کتابونو کې (۱۹۳۴ع) او په ځینو کې (۱۹۳۶) راغلې ده. په دغه انجمن کې د هندوستان مترقي خوا لیکوال، شاعران او ادیبان راټول شول.

اجمل خټک د دغه انجمن په اړه لیکي: ((دې شخصیتونو کې د کمونیست پارټۍ مسوول ملګري هم شامل وو او د پارټۍ نه بهر ترقي پسند نامتو لیکوالان هم وو دغو کسانو کې چې ماته اوس ښه یاد دي، دغه کسان په سر کې وو: ملک راج انند،

سردار جعفري، کیفي اعظمي، سجاد ظهیر، فیض احمد فیض، سبط حسین، حسرت موهایي، کرشن چند، راجندر سنګ بیدي، صفدرمیر، ظهیر کشمیري، عصمت چغتایي، ن، م راشد، سعادت حسن منټو، احمد ندیم قاسمي، اختر حسین، راپوري، ممتاز حسن، فارغ بخاري، رضاهمداني، خاطر غزنوي او نور. دوی د (ترقي پسندو مصنفینو انجمن) په نامه د ټول هندوستان د ټولو ژبو خدمت او د هغوی ادب کې جدید رجهانات روزل. د دې تحریک اثر د اردو ادبیاتو له لارې نه زموږ خاورې ته هم را ورسېده. (۵ : ۲۲۵ – ۲۲۶)

افراسیاب خټک هم ورته نظر لري او وایي چې په دې کې د هند د نیمې وچې جمهوري او مترقي عناصر شامل وو چې په حقیقت کې دا د ملي او طبقاتي ازادۍ د مبارزې د انشورانو مخکښه او پر مختللې دسته او د هند په نیمه وچه کې د نوې ذهني فضا اګاه او باشعورو جوړونکو باندې مشتمله وه.

په دې کې فیض احمد فیض، فراق ګورکپوري، ساحرلدیانوي، جوش ملیح ابادي، منشي پریم چند، حسرت موهایي، اسرار الحق مجاز، جګر مراد ابادي، احمد ندیم قاسمي او نور ډېر نومونه شامل دي. دغه تحریک د قومي ازادۍ او سماجي خلاصون د ارمانونو سره په غوڅه توګه تعهد وکړو او د نړۍ د ټولو ازادي غوښتونکو مترقي او جمهوري دانشورانو، منورینو سره یې خپل غبرګیو کړو.

دغه ادبي تحریک د لرې پښتونخوا په ادبي شعور ژور تاثیر وکړ او د کاکاجي صنوبر حسین، فارغ بخاري، سیف الرحمان سلیم، قلندر مومند، لطیف وهمي او اجمل خټک غوندې انقلابي او مترقي شاعران او لیکوال د همدغې ښپې برخې بلل کېدای شي.)) ۹ : ۹.۸)

مخکې مو یادونه وکړه چې صنوبر حسین مومند خپله توجه ادب ته را وګرځوله او غوښتل یې چې له دغې لارې خپل پیغام ولس ته و رسوي.

صنوبر حسین مومند دامیر حمزه شینواري او دوست محمد کامل مومند په ملګرتیا په (۱۹۵۱) کال کې دولسي ادبي جرګې بنیاد کېښود او په دغه جرګه کې یې دخپل وخت تکړه فعال او باشعوره لیکوالان او شاعران راغونډ کړل، په دغې جرګه کې مهم غړي په دې ډول وو: اجمل خټک، مهدي شاه مهدي، قلندر مومند، افضل بنګښ، فضل حق شېدا، ولي محمد توپان، شیخ محمد، همېش خلیل، لطیف وهمي، سیف الرحمن سلیم، حسین بخش کوثر، نصر الله نصر، فیض الرحمان فیضي، مراد شینواری، ایوب صابر او نور ډېر وو.

دولسي ادبي جرګې دفتر د دوست محمد کامل مومند بالاخانه وه چې د هرې جمعې په ورځ به هلته غونډه کېده. د جرګې مجله هماغه د کاکاجي د (اسلم) مجله وه چې په دغه مجله کې به د جرګې د غړو لیکنې او د غونډو ګزارشونه خپرېدل، پر دغې مجلې سربېره په نورو اخبارونو کې هم د جرګې ګزارشونه خپرېدل.

د جرګې غونډې به د کره کتنې غونډې وې چې په کتاب، شعر، مضمون، لنډې کیسې او نورو باندې کېدلې. دغه جرګه یوه روزنکې جرګه وه. صنوبر حسین مومند، امیر حمزه شینواری او دوست محمد کامل مومند په کې د استادانو حیثیت لاره. له کره کتنې وروسته به بیا ازاده مشاعره کېدله او د بلې غونډې د کره کتنې موضوع به انتخابېدله او لیکوال به یې هم انتخابېده. د دې جرګې اصلي مقصد دا و چې ادب د ژوند په خدمت کې شي او د ادب له لارې د خلکو اصلاح، وېښېدنه او متحد کول وو.

د جرګې روح روان مترقي وو، خو په دې جرګه کې د هرې مفکورې خاوند ګډون کولای شو.

اجمل خټک وایي: د دې جرګې یو لوی صفت دا و چې که څه هم د دوی روح ملي مترقي و او د طبقاتي جبر خلاف د ولسي او اجتماعي انصاف سیاسي رحجانات پرې غالب وو، خو بیا هم دې جرګې ته د وخت د ټولو سیاسي او ادبي ډلو او فرقو

لیکوال په ازادۍ سره راتلل. په هره غونډه کې به فرقه پرست رجعت پسند قوم پرست او د مارکسیزم لینینیزم منونکي یو شان شامل وو او خپل خیالات به یې څرګندول. (۵ : ۲۲۴)

ولسي ادبي جرګې په معاصرو پښتو ادبیاتو کې د شکل او مضمون له پلوه یو بنیادي بدلون راوست، د مترقي نظریاتو یا پیغام په وړاندې کولو سره یې دادبیاتو کیفیت هم له پامه ونه غورځاوه او په خاص ډول د تخلیقي ادبیاتو د شعر او لنډې کیسې په اړه یې زیار او هڅې د هېرولو نه دي. هغه اثار چې په دغه وخت کې چاپ شوي او د دغې جرګې د کره کتنې له غونډو څخه تېر شوي دي. د دې خبرې ګواهي کوي چې ولسي ادبي جرګې شعر او لنډه کیسه د کمال لوړو پوړیو ته ورسوله. د بېلګې په توګه : د قلندر مومند (ګجرې) (د سباوون زېرى) د مهدي شاه مهدي (د بوډۍ ټال) او (پت) د همېش خلیل (زما سندرې) یو څو مثالونه دي.

دې جرګې په خپل لنډ عمر کې پښتو ژبې او ادب ته زیات کار وکړ، خو څرنګه چې د مترقي افکارو خورونکي وه، نو د پاکستان حکومت نه شوه زغملی د حکومت د محدودیتونو، تهدیدونو، دغړیو زنداني کولو او ځینو ته د رشوتونو په وړاندې کولو سره دا جرګه په (۱۹۶۱ع) او په ځینو کتابونو کې (۱۹۵۷) له منځه لاړه.

اجمل خټک د دې جرګې د له منځه تللو په باره کې لیکي: ((اولسي ادبي جرګې زما د یاداشت مطابق څه اووه کاله باقاعده د پښتو ژبې د مترقي ادب په خدمت کې بوخته وه. په دې دوران کې د پاکستان د حکمران ټولي له طرفه نه پټ او څرګند اخطارونه، ډول ډول طمعې، اسره او بډې رشتونه، د اتحاد شوروي، هندوستان او افغانستان د ایجنټۍ الزامونه و غیره په دې جرګه راغلل، خو دا جرګه هېڅ خاموشه نه شوه.

یو وخت داسې هم راغی چې د دې جرگې روح روان صنوبر حسین کاکاجي د پاکستان حکومت ناڅاپه د شپې گرفتار کړو... د کاکاجي د نیولو نه درې میاشتې پس اول یې همېش خلیل او بیا یې زه (اجمل خټک) ونیولو، د پولیس وېره زیاته شوه او چې هره غونډه به کېده، نو پولیسو به ویل چې دا وروستۍ غونډه ده. بیا دا جرگه چې د مخالفت د جبر مقابله یې کوله یو خوا د حکومت د پټو سازشونو ښکار شوه، بل خوا د دې ملگري ورو ورو په جلا سرگرمیو سر شول. څوک د گېډې په ویر اخته شول، څوک جېلونو ته ولاړل، چا د ادبي سرگرمیو لپاره نوي میدانونه پرانېستل، څوک څه شول څوک څه او لاړه ولسي ادبي جرگه تالا والا شوه.))

جرگه له منځه ولاړه، خو چې جرگې کوم اغېز په روان ادبي بهیر اچولی و تر ډېرو کلونو لیکوالو او شاعرانو په هماغه لاره تگ کاوه.

دوست محمد کامل مومند لیکي: ((د پښتو ادب دغه دوره چې (اولسي ادبي جرگې) په کې څو کاله نه صرف ډېر اهم علمي ادبي او ثقافتي کار کړی دی، بلکې د جرگې له ختمېدو نه پس هم لا تر اوسه د کار اثر یې د پښتو په علمي او ادبي ژوند او سرگرمیو کې نفوذ لري. په حقیقت کې یو ډېر او برکتي دور بلل کېدو وړ دی.))
(۳ : ۱۶۸)

زبیر حسرت وایي: ((د اولسي ادبي جرگې جوړېدل، د دغه دور یوه لویه واقعه وه چې ټول پښتانه شاعران او ادیبان یې د ژبې ادب او ثقافت د ودې او ترقۍ دپاره لکه د مرغلرو په تار کې هار کړي وو.)) (۴ : ۸۳)

دوست محمد کامل مومند هغه وخت په خپلو لیکنو کې وایي، چې صنوبر حسین مومند او امیر حمزه شینواری د ولسي ادبي جرگې دغړو او په خاصه توگه زما ډېره روزنه کړې ده او که زه دا یاد نه کړم، نو لویه بې انصافي به وي. (۳ :۱۵۸)

صنوبر حسین په سیاسي او ادبي ساحو کې د ډېرو ځوانانو روزنه کړې ده. د ډېرو انجمنونو جوړونکی هم و. په نظریاتي لحاظ سوشلست و او په ادبیاتو کې هم ده او ملګرو یې دغه نظریه وپالله. د ده یو ملګری لطیف وهمي چې شاعر او ادیب و د ده په باره کې ویلي وو:

هغه (صنوبر) د چا پییرچل د ناهمواری اندازه لګولې وه او دغې سخت بې کوره کړی و. هغه د ډېر سوچ او فکر نه پس سوشلزم خوښ کړی و او تر مرګه په دغه نظریه قایم و. هغه به د کایناتي ژوند اندازه د سوشلزم په پیمانه لګوله. دا به یې هم ویل:

((چې پښتون پیدایشي سوشلست دی. د پښتون خو هر کار په شریکه دی، د پښتون حجره د زرګونه کالو راهیسې د انسان دوستۍ یوه نمونه ده.))

د صنوبر حسین مومند په نظر ځمکه د هغه چا ده چې کري یې او په دې برخه کې به یې ویل عجیبه خبره ده!؟ ځمکه هم د چا کېدای شي؟ ځمکه خو د هغه ده چې سینه او په سینه ورکوي. (۸ : ۵۱)

صنوبر حسین په عملي او نظریاتي سیاست او مبارزې کې ډېر تودې سړې ولیدلې، خو هېڅکله تسلیم نه شو. ټول عمر یې په مبارزه کې له ستونزو ډک و، خو حوصله او عزم یې غښتلی و، چې د خپل عزم او استقامت په هکله وایي:

چې یې چرې سر خزان و ته ټیټ نه شو
په رښتیا پرې ادې نوم صنوبر کېښود

ښاغلی سلیم راز د ده په هکله وایي:

((ادب کې چې جدید او ترقي پسند رحجانات موجود دي. دا د کاکاجي د شعوري شعرونو برکت دی. دا نن چې په پښتو ادب کې د انقلاب او ترقي پسندۍ په حواله کوم غټ نومونه ښکاري د دوی په روزنه او تربیت کې د کاکاجي لاس دی. دا نن چې په پښتو ژبه کې تنقیدي او سماجي شعور نه ډک ادب موجود دی. د دې بنیاد

کاکاجي ایښی و او ولسي ادبي جرگه کې کاکاجي د پښتو لیکونکو ذهني روزنه او فکري رهنمایي کړې ده. کاکاجي د اولسي ادبي جرګې په موسیسینو کې و او په دې جرګه کې کاکاجي، دوست محمد خان کامل مومند او امیر حمزه خان شینواري نوي لیکونکو ته د لیک او تنقیدچل وښودلو.))

پر صنوبر حسین مومند باندې د ده په ژوند او وروسته له مړینې نه ډېرو پښتنو لیکوالو لیکنې وکړې. هغه لیکنې چې دوست محمد خان کامل مومند د ده دژوند په وخت او بیا را وروسته لیکلي دي عنوانونه یې په دې ډول دي:

کاکاجي د کبابیانو په دوکان کې ، کاکاجي د چایو په دوکان کې، کاکاجي د ډاکټر به دوکان کې، کاکاجي د کامل په کور کې، همدارنګه لطیف وهمي، قلندر مومند، میر مهدي شاه مهدي، سلیم راز او همېش خلیل خو پرې کتابونه لیکلي دي او اردو ژبې ادیبانو، فارغ بخاري، رضا همداني او نورو د صنوبر حسین مومند په ژوند او ادب مقالې لیکلې دي.

د کاکاجي د خوښې شاعر عمر خیام و او د ده ډېرې څلورېزې یې په منظومه بڼه ژباړلي دي. د سلیم راز په قول د مصري ادیب ډاکټر طه حسین او شاولي الله د کتابونو ترجمې او د مشهور صحابي ابوزر غفاري رض دژوند حالات یې هم قلمبند کړي دي او د دوه مبارزو شهیدانو صاحب زاده محمد حلیم او حاجي محمد اسلم د تحریک په حواله یې هم یو کتاب لیکلی دی. (۸ :۵۵)

صنوبر حسین کاکاجي په (۳) جنوري (۱۹۶۳) کال کې وفات شو. د صنوبر حسین کاکاجي شعرونه او نثرونه چې په متفرق ډول د هغه وخت په مجلو او ورځپاڼو کې خپاره شوي دي، د مجموعې په ډول نه دي راټول شوي. په ادب کې یوه مطرحه څېره وه او شعرونه او نثرونه یې د هغه وخت فضا محسور کړې وه. هغه نمونې

چې زما لاس ته راغلي دي دلته يې لوستونکو ته وړاندې کوم چې خوندي او له ورکېدو نه وساتل شي.

د کاکاجي صنوبر حسين د کلام نمونې:

غزل

قهقې دې په چمن باندې خورې شوې
خلقو نومورباندې ګل د سحر کېښود
چې يې ستا د زلفو بوی واخېسته پس ته
خلقو نوم ورباندې مشک او عنبر کېښود
بل څه نه و ستا د غاښو يو برېښنا وه
خلقو نوم ورباندې برق وشرو کېښود
تورو زلفو کې دې سپين مخ راښکاره شو
خلقو نوم ورباندې شام او قمر کېښود
چې يې ستا د ليدو توان نه وو، په زړه کې
دې خواراونو پر تا نوم ددلبر کېښود
چې دا ستا د کږو ورځو له محرابه
شم کافر که به مې بل ځای کې سر کېښود
چې مې مخ شولو دا ستا د مخ بهار ته
خزان ځکه راته تيغ او سپر کېښود
دغه ستا د مينې ساز په کې غږېږي
ګنې نور چا په غزل کې هنر کېښود
پښتون هېڅ طاقت ته ډال ايښودی نه دی
يو ستا مينې ته يې ډال او خنجر کېښود

چې چرې سر خزان و ټيټ نه شو
په رښتيا پرې ادې نوم صنوبر کېښود
(۱ : ۱۰۲)

غزل

په کوم ځای چې د زمرو نوکې رژېږي
عاشقان هلته په څوکو د ښو ځي
دا مرغان پرې باندې چتر چتر کېږي
د بگرامه جوړ بهر د سکښو ځي
خدايه دا بازار تالا کړې په مغلو
د مفلس حسن په يو موتي چښو ځي
د ملا ژبه قرآت کې تړ تړی شي
تر مهرابه چې چغار ستا د ښو ځي
جونه ستا ځوانيمرگی باندې ژړېږي
ځکه شوريې تر خيبره د ښکړو ځي
درنگ ساعت له يې غوزار په ميدان بويه
کوم مارغه چې د پرديو په ښو ځي
د ټوپک د دارو مست بوی به ترې تللو
اوس پښتون نه بوی د عطرو د منو ځي
(۲ : ۱۰۵)

غزل

دا دې په مخ څه ښکاري نوکارې دي
دا زما د غم د اوښکو لارې دي

دا دی پشکال په شپېو راغللو
دا زما داوښکو کرېږ لارې دي
څوک دي چې وریتې پریتې نارې وهي
دا خو دعاشق غریب کوکارې دي
ته ولې په څیر راته کتی نه شي
سترګې پېښتنې دي حیا دارې دي
دا مې اخر وخت دی لږ کرم وکړه
دوه سلګۍ مې تا وته ایسارې دي
تا خو صنوبره هېڅ غزل نه وې
دا خو د کامل او حمزه چارې دي
(۴ : ۹۵)

**اخځونه**:

۱. تاتره (درې میاشتنۍ مجله، اپریل، جون) ۲۰۰۱، پېښور: پښتو ادبي بورډ، پرنټینګ پریس.
۲. تاتره (درې میاشتنۍ مجله، جنوري، مارچ) ۲۰۰۲، پېښور: پښتو ادبي بورډ، برنټینګ پریس.
۳ـ حسرت، محمد زبیر، ادبي مقدمې، پېښور: باچا خان ترسټ ریسرچ سنټر، المکه پرنټینګ پریس، ۲۰۰۹ م کال.
۴. حسرت، محمد زبیر، میر مهدي شاه مهدي ژوند فکر او فن، پېښور: باچا خان څېړنیز مرکز، یونیورسټي پرنټرز، ۲۰۱۱م کال.
۵ـ خټک، اجمل، قصه زما دادبي ژوند، پېښور: ریاض ایجنسي معراج الدین پرینز، ۱۹۸۵ م کال.

۶ـ خلیل همېش : پښتانه لیکوال، لومړی چاپ، پېښور : پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸ م کال.
۷ـ خلیق، عبدالخالق : دازادی جنګ، پېښور : اداره اشاعت سرحد، حمدیه پریس.
۸.راز، سلیم، تنقیدي کرښې، پېښور : ماسټر پریس، ۱۹۹۹ م کال.
۹ .سلیم، سیف الرحمن، سندریز شفقونه، کابل : دچاپ او خپرولو دولتي کمېټه، دولتي مطبعه، ۱۳۶۳ م کال.

پوهنیار فهیم بهیر

## د شعر او نظم تر منځ کډې او بیلې خوا وې

په یو شمېر ادبي اثارو کې تر دې دمه د شعر او نظم د توپیر په اړه ځانګړې کرښې نه دي ویل شوي او حتی په تیوري اثارو کې هم ډېر ځله دواړه داسې معرفي شوي دي چې لوستونکی یا مخاطب نه شي کولای په اسانه د دوی تر منځ د بیلوالي کرښې وکاږي، نو په دې مقاله کې د دواړو تر منځ ګډې او بیلې خوا و باندې رڼا اچول شوې ده او دا توپیر د دواړو له پېژندنو پیلو:

۱ –شعر : شعر د خپل جوړښت لپاره هم داخلي او هم بهرني توکې لري چې د هرې برخې د توکو څېړل یې جلا رساله لیکل غواړي خو هغه څه چې په شعر کې مهم او د همدې توکو په اساس ورته شعر ویلای شو هغه عبارت له تخیل، تفکر، عاطفه او اهنګ څخه دي. کله چې دا توکي په یو موزوم کلام کې یا یو ازاد شعر کې وي نو بیا د شعر اطلاق پرې کولای شو، خو تر ټولو مهم شی په شعر کې تخیل دی او ډېر پوهاند هم په دې اند دي چې شعر یو مخیل کلام دی.

خو که هر فکر وي یا هر پیغام چې د تخیل په پروسه کې خپل مراحل طی کړي، نو د شعریت رنګ اخلي کنه وچ فکر یوازې په نظم کې وړاندې کېږي نه په شعر کې.

د نمونې لپاره د استاد صدیق پسرلي لاندې غزل به وګورو:

مه کره نازونه په هندارو کې
ګل کله ریشه ځغلوي ګارو کې
ما در پورې زړه چې تاړه خپل دې وم
سیوري دې اوس مه پرېږده په لارو کې
(۲: ۷۷)

۲ –نظم: په نظم کې تر ټولو اساسي شي وزن دی چې د همدې وزن په اساس د ټولو مسرو وزن یو ډول ساتل کېږي نو نظم هغه وینا ده چې وزن، قافیه او کله کله ردیف هم له ځان سره لري په نظم کې د تخیل رنګ تت وي. ډېر کسان نظم لیکلای شي دوی فکر کوي چې دوی شعر لیکلی؛ مګر د تخیل د کمزورتیا له امله شعر نه بلکې نظم ګڼل کېږي. دا هم د نظم نمونه:

له دوستۍ ډکه فضا لري کابل
ژوند ښېښونکي ښه هوا لري کابل
هر طرف په کې د ګلو ننداره دي
نازنینه محبوبا لري کابل
(۶: ۶۴)

۳ –وزن، قافیه او ردیف: دا درې توکې هم په منظوم شعر او هم په وزن کې راتلای شي، خو ازاد شعر له دې توکو څخه خلاص وي. ځینې کسان فکر کوي چې وزن او قافیه یوازې په نظم کې راتلای شي یا به پخوانیو خلکو د شعر د جوړښت مهم

توکي ګڼل خو دا توکې نه يوازې د شعر دي او نه د نظم، بلکې هم په منظوم شعر کې راتلای شي او هم په نظم کې ځينې وخت په ازاد شعر کې هم راتلای شي.

۴ – کالبونه: هره موضوع د وړاندې کولو لپاره يو ه ژانر يا کالب لري چې په همدې کالبونو کې هغه موضوع پر مخ وړل کېږي. زموږ پښتو ادب د عروضي ادب ډېر ژانرونه خپل کړي دي او په لرغونې، کلاسيکې او اوسنۍ دوره کې پرې ګڼ شمېر شاعرانو شعرونه ويلی دي او دا ژانرونه موږ د منظوم شعر لپاره جلا معرفي کړي دي يا د پښتو شعر په هندسي جوړښت کې د پښتو خپل او هغه ژانرونه چې له عربي څخه پښتو ته داخل شوي دي او د اوسني شعر دا ټول معرفي شوي دي، خو که فرض کړو د ديواني ادب ژانرونه موږ د شعر لپاره و ټاکو او همداسې شوي دي، خو دا کالبونه نه يوازې د شعر بلکې د نظم هم دي.

ځينې کسان شته چې نظم ليکي د غزل، قطعې يا مثنوي يا نورو کالبونو کې خو دوی فکر کوي چې دا شعر دی، مګر زموږ په ټولنه کې ډېر نظمونه په يادو چوکاټونو کې هم ليکل شوي دي چې دا چوکاټونه هم د شعر او هم د نظم لپاره کارول کېږي. د مثال لپاره به يې مخکينۍ نمونې ته ځير شو چې دواړه برخې (شعر او نظم) په يو کالب يا چوکاټ کې ليکل شوي دي.

۵ – ضمني کلمې: په شعر کې يوه کلمه نه يوازې د حقيقي معنا په توګه، بلکې په ضمني توګه وړاندې کېږي، يعنې په شعر کې چې کومه کلمه کارول کېږي نه بايد د هغې حقيقي معنا ته وګورو، بلکې هغه هلته د مطلب په رسولو کې ضمني معنا يې ارزښت لري.

د نمونې په توګه په دې بيتونو کې:

تمنا او وفا خويندې د ارمان دي
خو يوه يې ناسکه بله سکه ده

د حمزه پریشانۍ دې په زړه نه کړې
بس خو ته يې ائينه زلفې شانه ده
(۳: ۲۰۵)

د حمزه شينواري په بيت کې تمنا، وفا، سکه او ناسکه همدا ډول دائينه، زلفې شانه دا کلمې نه يواځې خپله حقيقي معنا وړاندې کوي، بلکې دلته ضمني معناوې لري او همدا ضمني معناوې دي چې يو ښه پيغام يې رانغاړلی دی او له ښکلا سره يو مطلب هم وړاندې کوي.

۶- تخيل: ارسطو په خپل وخت کې د شعر لپاره اساسي توکی تخيل ګڼلی دی (۴ : ۶).

تخيل له خيال څخه رامنځ ته کېږي او د همدې توکي پر اساس شاعر ځينې پېښې داسې انځوروي چې په لوستونکي او اورېدونکي کې عواطف او احساسات راپاروي. د تخيل په مرسته شاعر ځينې شيان د تشبې، مجاز او نورو ادبي فنونو پر اساس په هنري خم کې رنګوي، ښکلا اخلي او بيا ادبي ارزښت تر لاسه کوي. په نظم کې تخيل د شعر په پرتله نه وي يا تت وي. اوس به د شعر يوه برخه وړاندې کړو چې تخيل لري:

د يار کلک زړه راباندې وسو او زه خبر شوم
چې دغه کاڼی د غمي په شان رڼا هم کوي
يواځې زه نه يم چې شونډې ښکلوم د ښکلو
د ګل له پاڼو سره دغه کار هوا هم کوي
جانان دې لاړ، صبر دې لاړ، قرار دې لاړ د زړګي
درويشه پايې به دغه چل در سره سا هم کوي
(۴: ۲۸۴)

۷ –عاطفه: شعر په لنډه او اهنګینه ژبه د فکر او اند عاطفي تړون ته وايي، په عاطفي ډول په دې معنا، چې عاطفه د شعر یو اساسي رکن دی، باید د شعر ژبه عاطفي وي او احساس را وپاروي، ټول انسان په عاطفي لحاظ یو له بل سره ګډ یا مشترک عاطفي پېوندونه لري. د نمونې په توګه د ډاکټر اکبر ډېرو شعرونو کې دا برخه غښتلې ده. عاطفه هم په شعر او هم په نظم کې راتلای شي. د نمونې لپاره لاندې شعر:

لور د پلار په سینه پرېوته د پاســـه
اوس ګوډې اخلي د مړه بابا د لاســـه
په اسمان کې لا د اور جوپې خوځېږي
په خورو مزکو د وینو سیند خورېږي
چې په دې کې یوه ګرمه ګولۍ راغله
پرېښتـــې له د دوزخه لولۍ راغله
د ماشومې پرېښتې په تن سره شوه
د شهید بابا تر څنګه غوټۍ مړه شوه
د نینځکې تن په ګرمو وینو سور شو
(۱:۱۹۷)

۸ –د نظم په پرتله د شعر معنا پټه وي: د نظم په پرتله په شعر کې معنا پټه وي او ډېر ژر لوستونکي او اوریدونکي معنا نه شي اخیستلای. د شعر کمال همدا دی چې یوه ناشنا خبره کوي او په دې اړه لوستونکی او اوریدونکي فکر ته اړ باسي تر څو هغه پیغام تر لاسه کړي، مګر په نظم کې معنا یا پیغام په ښکاره ډول وړاندې کېږي.

۹ : د شعر ژبه د نظم په پرتله هنري وي: شعر هنري اړخ لري او د همدې هنري اړخ له پلوه یې له نظم سره توپیر کولای شو. د شعر ژبه په ادبي صنعتونو پسولل شوې وي، ښکلي کلمې او جملې لري اما نظم له داسې ځانګړنې څخه خالي دی.

۱۰ .د نظم په پرتله د شعر لمن پراخه وي: مخکې مو اشاره وکړه چې موږ د نظم لپاره کوم تعریف ټاکلی نو د نظم په پرتله د شعر لمن پراخیږي. د مثال په توګه که موږ د دیواني ادب کالبونه د نظم لپاره وټاکو او په دې فورمونو کې هر ډول ټولنیزې او د انسان دژوند پورې تړلې تجربې او مسایل وړاندې کړو، خو که همدا کالبونه هنریت ولري او د تخیل رنګ یې قوي وي نو بیا شعر ګڼل کیږي همغه ټولنیز او انساني مسایل د شعر په ژبه هم وړاندې کیږي او دلته د دواړو برخه برابره شوه، خو د شعر هغه برخه چې دا زد شعر په نوم یادیږي د نظم په پرتله د شعر لمن نوره هم پراخیږي او په دې فورم کې هم هر ډول مسایل وړاندې کیدلای شي.

۱۲ .په شعر کې د مینې او په نظم کې تاریخي او حماسي څرکونه ډېر لیدل کیږي: هغه څه چې ما لوستي او خپله مې مطالعه کړې دي د نظم په پرتله په شعر کې زیاتره د مینې او محبت دا مسایل وړاندې کیږي. شاعر خپله معشوقه ستایي، د هغې ښکلاوې یادوي، وفا، جفا، وصال، درد او غم، ژړا او خندا او په لسګونه بیلابیل موضوعات چې د نوموړي له معشوقي سره تړاو لري د شعر په ژبه بیانوي.

هر شاعر د خپل د ژوند هغه برخې چې نوموړی یې عاشق دی، ده ته خوښي او خفګان ورکوي په خپلو شعرونو کې رانغاړي؛ یعنې په شعر کې د مینې رنګ او خوند ډېر وړاندې شوی دی. اما په نظم کې زیاتره تاریخي، حماسي مسایل او پندونه وړاندې شوي دي .

۱۳ –د نظم په پرتله د شعر په اسمان کې نوي ستوري ښکاره کیږي: د دې ځانګړنې په تړاو بیا د نظم تعریف رامخکې کیږي، ځکه مخکې مو اشاره وکړه چې یوازې د دیواني ادب شکلونه د نظم او شعر لپاره کارول کیږي، خو

اوسمهال وینو چې په پښتو کې د شعر په اسمان کې ځینې نور شکلونه هم رامنځته شوې دي، لکه سپین شعر او ازاد شعر. البته په اروپا کې دوی ته ازاد نظمونه هم وایي؛ خو زموږ په ټولنه کې که چېرې هنریت ولري شعر یادېږي که هنریت ونه لري بیا نثر کڼل کېږي او د نظم په نوم نه یادېږي. په پښتو کې اوسمهال ازاد شعر، هایکو، له غزل سره د ټپو یو ځای والی دا هغه نوي ژانرونه دي، چې د پښتو د شعر په اسمان کې را ښکاره شوي دي او کیدای شي ځینې نورو ژانرونه هم په روانه پېړۍ کې رامنځته شي او یا پښتو ادب ته له نورو ژبو څخه داخل شي .

۱۴ .د شعر په نسبت نظم اسانه لیکل کېږي: ډېر شاعران وایي ځینې وخت دوی ته الهام کېږي د دوی په ذهن او فکر کې یوه موضوع را پیدا شي او غواړي چې هغه د شعر په ژبه وړاندې کړي په دغه ځانګړي وخت کې چې د دوی ټول حواس بیداره وي، نو بیا شعر لیکلای شي او شعریې بیا خوند او ښکلا هم لري؛ مګر داسې هیڅکله نه کېږي چې دوی وایي په دې موضوع به همدا اوس یو څه ولیکم که هر وخت یو څوک وغواړي شعر ولیکي دا کار امکان نه لري او د شعر پر ځای به یې نظم لیکلای وي. مګر د نظم لپاره چې د ټولو مسرو وزن یې یو شانته وي ډېر کسان کولای شي ویې لیکي، یواځې د لومړیو مسرو په تسلسل همغه وزن تعقیبوي او نورې مسرې جوړوي .

په دې اړه تاسو کولای شئ خپله تمرین وکړئ او یو نظم ولیکلای شئ.

۱۵ .د نظم په پرتله د شعر ناوې په ډېرو ګاڼو سینګار وي: شعر د تخیل په مرسته جوړېږي او شاعر دتخیل په مرسته ځینې داسې خبرې، پېښې او نور څه راوړي چې واقعیت ونه لري؛ مګر نوموړی د تخیل په مرسته تشبه، استعاره او بېلابېل ادبي فنون کاروي او همدا فنون دي چې شعر ښکلي کوي.

البته په دې معنا نه چې د هغې پیغام زیانمن کړي، بلکې د دې فنونو په مرسته خبره اغېزمنه کېږي او کله چې هغه بیت یا نیم بیتي باندې څوک بحث کوي، نو کیدای شي څو ډوله فنون په یو بیت کې وړاندې شوې وي او د بیت معنا پر همدې اساس پټه وي او لوستونکی یا اورېدونکي سوچ کوي او بیا اصلي پیغام چې په خونده ورو ورو بڼه وړاندې شوی اخلي؛ مګر په نظم کې موضوعات زیاتره وخت کټ مټ د حقیقت په شکل وړاندې کېږي.

۱۶. ولسي خلک د شعر په نسبت نظم خوښوي: ولسي خلک د شعر په نسبت نظم ډېر خوښوي په مشاعرو او ادبي غونډو کې اکثریت خلک نظم خوښوي؛ ځکه د شعر په معنا څوک ډېر نه پوهېږي د نمونې په توګه د یو نظم څو بیتونه وړاندې کوم چې او سمهال د هر کس په کمپیوټر او مبایلونو کې ثبت دی او په سیمو کې یې ډېر کسان خوښوي:

د پارلمان وکیله ساه دې وځه
ته د کرزي لالا سلام څه کوې
ته له تودې برستنې نه راوځې
برستن دې ېخه شه ارام څه کوې
دا د بمونو شور دې نه ویښوي
په خپله خاوره او خپل قام څه کوې
(۷ : ۲۱۶)

۱۷. زموږ د موسیقۍ ډېره برخه نظم جوړه وي: زموږ د موسیقي ډېره برخه نظمونو جوړه کړې ده؛ لکه مخکې مو چې اشاره وکړه چې ولسي خلک د شعر په نسبت نظم خوښوي، نو دا کانه په سندرو کې هم شوې ده. همدا

اوسمهال لـه څـو ځوانـانو سره پـه مبـایلونو کـې سـندرې دي چـې ټولـو نظمونـه ویلي نه شعرونه.

۱۸ .شـعر خپـل سـیوري نظـم او نثـر تـه هـم ورکـوي: شـعر خپلـه ښـکلا پـه نظـم او نثـر کـې هـم را ځرګنـدوي، مخکـې مـو وویـل کلـه چـې پـه یـو نظـم کـې شـعریت موجـود وي بیـا شـعر ګڼـل کېـږي همـدا ډول ډېـر نثرونـه شـته چـې یـو شـمېر ادیبوهـان یـې د منثـور شـعر پـه نـوم یـادوي چـې شـعر دلتـه هـم خپلـه ښـکلا د نثـر پـه لمن کې ښکار کوي.

۱۹ . شـعر پـه ادبـي تـاریخ کـې مطالعـه کېـږي: ادبـي تـاریخ بیلابیلـې دورې لـري او هـر شـاعر پـه خپلـه دوره کـې مطالعـه کېـږي. د ادبـي تـذکرې او ادبـي تـاریخ یـو تـوپیر دا ګڼـل کېـږي چـې پـه ادبـي تـاریخ کـې مـوږ شـاعران مطالعـه کـولای شـو د هغـوی شـعرونه راوړل کېـږي او بحثونـه پـرې کېـږي؛ مګـر مـوږ یـو نظـم لیکـونکی نـه شـو کـولای پـه ادبـي تـاریخ کـې راوړو او د هغـه نظمونـه ثبـت کـړو، البتـه دا دواړه (شاعر او ناظم) بیا په یو ادبي تذکره کې معرفي کېدای شي.

۲۰ . پـه کمـې لحـاظ نظـم لـه شـعر څخـه ډېـر دی: اوسـمهال پـه هیـواد کـې ادبـي هڅـې ډېـرې شـوې دي ادبـي غونـډې او پروګرامونـه جـوړېږي او ډېـر اثـار چـاپېږي؛ خـو لـه تېـر وخـت نـه تـر دې دمـه کـه مـوږ هغـه اثـار وګـورو چـې پـه لیکلي بڼـه یـا پـه غږیـزه بڼـه ثبـت شـوي دي ډېـره برخـه یـې نظـم ده او کـم شـمېر کسـان شـاعران دي. اوسـمهال ډېـر اثـار چـاپېږي چـې د وینـاوال لـه خـوا پـرې د شـعرونو اطلاق کېږي، مګر هغه په حقیقت کې نظم دی نه شعر.

۲۱ – د شـعر پـه څېړنـه کـې ګڼـې خـوا وې راسـپړل کېـږي: شـعر پـه جوړښـت کـې هـم داخلـي او بهرنـي تـوکي دخیـل وي او د همـدې توکـو پـر اسـاس شـعر رامنځتـه کېـږي. هـر انسـان بانـدې خپلـه ټولنـه یـا چاپېریـال اغېـزه کـوي، د

طبیعت لـه هـري برخـې څخـه اغېـزمن کېـږي دژونـد چـارې، ښـه او بـد، درد او غـم خوښـي او خنـدا اونـور مسـایل د انسـان پـه روان خپلـه اغېـزه شـیندي او بیـا د همـدې اغېزمنتیـاو لـه املـه یـو څـوک خپـل درد یـا خوښـي د شـعر پـه ژبـه وړانـدې کـوي، چـې ادبپوهـان بیـا د نومـوړي لـه شـعر څخـه د پوهنـو او نـورو برخـو څرکونـه هـم مطالعه کولای شي.

۲۲ .شـعر د یـو ملـت ادبیـات جـوړوي: ادبیـات هغـه څـه ګڼـل کېـږي چـې هنـري ارزښـت ولـري کـه دا وینـا پـه لیکلـي بڼـه وي یـا پـه شـفاهي توګـه. کـه هنـري ارزښـت ونـه لـري هـیڅ عـالي مفکـوره بیـا هـم ادبیـات ګڼـل کېـدای نـه شـي؛ نـو کلـه چـې یـوه مفکـوره کـه ښـه وي یـا بـده چـې د هنـر پـه خـم کـې رنـګ شـي او د تخیـل عملیـه تـر سره کـړي بیـا ادبي ګڼـل کېـږي دا کـه شـعر وي یـا نثـر د همـدې ځـانګړنې له مخې هغه د یوې ټولنې یا یو هیواد ادبیات ګڼل کېږي.

۲۳ .شـعر د نظـم پـه پرتلـه تلپـاتې تـوب لـري: شـعر پـه یـوه ټولنـه کـې تلپـاتې ځـای لـري او د خپـل لوړ هنـري ارزښـت لـه املـه د یـوې ټـولنې پـه اثـارو کـې ثبـت کېـږي. مـوږ اوسـمهال هـم سـلګونه او زرګونـه کالـه پخـواني شـعرونه لـرو چـې ځینـې د نـړۍ پـه کچـه اوسـمهال هـم مطالعـه کېـږي او ځینـې پـه یـوه ټولنـه کـې. کـوم شـعر چـې لـوړ هنـري ارزښـتونه او پیغامونـه ولـري پـه نـورو ژبـو کـې ژبـاړل کېـږي او کـه هـر څـومره پخـواني وي؛ مګـر بیـا هـم د اوسـنۍ نـړۍ انسـانانو لپـاره پـه کې پیغامونه شته دي.

**لنډیز**:

شـعر یـو مخیـل کـلام دی، چـې آهنـګ، عاطفـه او مفکـورې رنـګ هـم ور سره نغښـتی وي، یعنـې هـر هغـه وینـا چـې دا پـورتني تـوکي ولـري د شـعر پـه نـوم یـادیږي، البتـه دلتـه د فـورم موضـوع پـه کـې هـم مهمـه ده. کـه چېرې همـدا وینـا د

نثر په کالب کې وړاندې شي، موږ یې د نثر په نوم پېژنو نه د شعر؛ ځکه شعر جلا کالبونه لري او شعر کله کله خپل سیوری په نثر هم شیندي او د دې نثر په اړه موږ بیا ویلای شو چې شعریت لري اما ټول شعر نه ګڼل کېږي. شعر د خپل جوړښت لپاره بیلابیل فورمونه هم لري، ځینې د پښتو خپل پخواني جوړښتونه دي چې شعر په کې رانغاړل کېږي، ځینې له عربي څخه راغلي ژانرونه؛ لکه غزل، رباعي، قطعه، مخمس ترکیب بنداو نور او اوسمهال یعنې په شلمه او یوویشتمه پېړۍ کې ځینې نور کالبونه هم د شعر په اسمان کې را ښکاره شول.

نظم هغه څه ته وایي چې وزن ولري قافیه او ردیف هم ور سره ځینې وخت ملتیا کوي، زموږ ډیر نظمونه د شعرونو په نامه نومول شوي دي، که چېرې یو نظم تخیل ولري؛ نو بیا د شعر په نوم یادیږي.

شعر د نظم په پرتله ګڼې خواوې لري، د جوړښت، ادبي فنونو، د کیفیت او کمیت او بېلابیلو ارزښتونو له پلوه په خپل منځ کې سره لوی توپیر لري. زموږ په ټولنه کې ډیر خلک ازاد شعر هم د نظم په نوم یادوي زما په اند دا یوه ستره تېروتنه ده. که چېرې موږ ازاد شعر د نظم په توګه ثبت کړو، نو بیا د نظم او شعر د بیلتون په اړه چې کومې کرښې دي هغه له منځه ځي او ادبپوهانو او لوستونکو ته به د دواړو د توپیرونو پیدا کېدل ډېر ستونزمن شي.

**اخځونه**:

١ –اکبر، اکبر: مراندې، پېښور، امان خپرندویه ټولنه، ۱۳۶۸ ل –ل کال.

۲ .امیري، مجیب الرحمن: کابل مجله (دویمه ګڼه)، د افغانستان علومو اکاډمي، ۱۳۹۴ ل– ل کال.

۳.خلیل، همیش: پښتانه لیکوال(دویم ټوک)، پېښور، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۱ م کال.
۴.خلیل، همیش: پښتانه لیکوال(لومړی ټوک)، پېښور، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۱م کال.
۵.روهي، محمد صدیق: شعر پېژندنه: پېښور،میهن خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ ل – ل کال.
۶.قتیل، عبدالروف: د سولې پیغامونه، ازادي مطبعه، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، ۱۳۹۱ ل – ل کال.
۷.مرهون، محمود: د پښتو شعر معنوي توکي، کابل، مستقبل خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ ل – ل کال.

سرمحقق عبدالواجد واجد

# د غني خان په اشعارو کې د کليوالي لهجې او پخواني ليکدود ځينې بېلګې

انسان يو ټولنيز مخلوق دی او ټولنيز ژوند د افهام او تفهيم لپاره ژبې ته اړتيا لري او ژبه هغه وسيله ده چې له يوې خوا د هغې په مرسته کولای شو، چې يو د بل په هدف او مرام پوه شو او له دې لارې خپل هدف او مرام ته ورسېږو او له بلې خوا همدا ژبه ده چې انسان له حيوان څخه توپير پيدا کوي.

څرنګه چې د يوې ژبې ويونکي په يو ټاکلي ځای کې ژوند او استوګنه نه لري او د نړۍ پرمخ له يوه ځايه بل ځای ته تګ راتګ لري، نو د همدې دليل له مخې ددوی په ژبه او لهجه کې يو څه تغيرات او تحولات رامنځته کيږي، په همدې اساس ويلای شو چې په لرو او برو پښتنو کې د پښتو ژبې ډول ډول لهجې رامنځته شوې دي او حتی د يو قوم په بېلو بېلو څانګو، کليو او بانډو کې لږ ډېر لهجوي توپيرونه ليدل کيږي، چې غربيان ورته په لهجه کې لهجه وايي، د مثال په توګه که له يوې خوا ددوی د لهجو او غږيدو تر منځ تفاوت موجود دی، نو له بلې خوا ددوی تر منځ يوه پوله ټاکل

هم اسان کار نه دی ، ددې ترڅنګ دا خبره هم باید هېره نه کړو ، چې د ښارونو او سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د لهجو یا ګړدودونو توپیرونه زیات محسوس دي او دا ځکه چې د هر ځای په غرنیو سیمو کې د قومونو او قبایلو تر منځ د لویو لویو غرونو ، سیندونو ، خوړونو او ګڼو ګڼو ځنګلونو موجودیت ددې سبب شوی چې ددوی ترمنځ اوږد واټن واقع شي او دغه فاصله ددوی د لرېوالي سبب ګرځېدلې ده او ددوی ترمنځ د لرېوالي په نتیجه کې په ژبه کې زیاتې لهجې رامنځته شوي دي .

تردې ځایه په ژبه کې د لهجو د رامنځته کېدو په عواملو خبرې وشوې اوس به وګورو چې لهجه څه ته وایي : ژبپوهان وایي کوم ګروپي تغیر چې په وییز او غږیز سیستم او شکل کې لیدل کیږي او یا پیښیږي هغه لهجه بلل کیږي.

کوم ځانګړي توپیرونه چې د یوې ژبې د ویونکو له خوا لیدل کیږي د هغې ژبې بېلابېلې لهجې دي ، په بله وینا د یوې ژبې هر ویونکی ددغې ژبې د یوې لهجې ښکارندویي کوي او یو له بله سره د بېلابېلو بیولوژیکي ، سوسیولوژیکی او جغرافیایي دریځونو په لرلو سره د هماغې یوې ژبې په استعمال او کارولو کې توپیرونه لري ، خودا فردي توپیرونه په خپلو منځو کې دومره سره لوی نه وي او دې هر یو ته مونږ لهجه یا دیالکت نه ، بلکې ادیالکت ( Idiolect ) یعنې ( فردي لهجه ) وایو او په دې ډول له دغو فردي توپیزونو یا دیالکتونو هماغه ډلې ټپلې په پام کې نیسو چې سره یو راز او ګډ سیمه ییز یا ټولنیز خصوصیت ولري ، نو وایو د پلانۍ سیمې ، ډلې یا ټبر لهجه ....

کوم بریدونه چې د یوې ژبې ګړدودونه یا لهجې سره بیلوي هغه وییز ، ګړنې ، غږیز او ګرامري توپیرونه دي .

لهجه هغې وییزې او لیکل شوې ژبې ته وایي چې د اصلي ژبې او سیستم څخه په ځینو کلمو او تلفظونو کې بېله شوې وي ، دا بیلتون د قبیلو ، سیمو ، ښارونو ،

کلیو، بانډو، پوهو او نا پوهو ( سواد لرونکو او بې سوادو ) ترمنځ د خبرو اترو په وخت کې جو تیږي او د ژبې عمومي جوړښت ساتي .

تر اوسه د لهجې د رامنځته راتګ او پیژندولو په باب خبرې وشوې ، اوس به اصلي موضوع ته راوګرځو او هغه دا چې غني خان په خپلو اشعارو کې کلیوالي لهجه او عام لیکدود څنګه کارولی دی .

د غني او اجمل نومي کتاب په ۸ مخ کې د تکړه او پیاوړي لیکوال زرین انځور په مقاله کې د اروابناد ماستر عبدالکریم له خولې دارنګه لولو : «لکه څنګه چې د غني خان شخصیت مفرد مقام لري ، دغسې دده شاعرۍ هم ځانته یو منفرد مقام قایم کړی دی او د ژوند غوندې یې د تضادونو څخه داسې شی جوړ کړی چې د ژوندي غوندې یې سرې یو ځل وګوري ، نو بیا یې پرېښودو ته زړه نه کیږي ، دا تضادونه چې د غني شاعرۍ ته یې جدا مقام ورکړی دادي : فلسفي خیال ، د کور کلي کلیواله ژبه او د یو ماشوم شوخي ، معصومیت او بې باکي» .

د غني په شاعرۍ کې دده د سبک له منفردو بېلابېلو ځانګړنو څخه یوه ځانګړنه د کلیوالي ژبې او لهجې استعمال دی ، چې داهم دده د شعري سبک یوه په زړه پورې ځانګړنه ګڼل کیږي .

زه دلته یوازې د غني خان په اشعارو کې د کلیوالي سیمه ییزې لهجې او پښتواني لیکدود د استعمال په باب ځینې نمونې وړاندې کوم .

د غني خان د اشعارو په ځینو کلمو کې د تورو تغیر ، د تورو د ځای تغیر او د ځینو تورو په زیاتوالي او کموالي سره یوه ځانګړې کلیوالي او سیمه ییزه لهجه استعمال شوې چې په لاندې توګه یې بیلګې وړاندې کولای شو :

پنسن مِ " بخمیر " روک که قلم تش له سیاهئ
کوټه کــې یخ او تریخ لوګی باهر یخه سیلئ

په پورتني بيت کې د پنسن په کلمه کې د (ل) توری په (ن) توري اوښتی دی ، چې د پنسل * پر ځای يې د پنسن ځانګړې او کليوالې لهجه استعمال کړې ده.

او هم د (روک) په کلمه کې د (ر) او (و) تورو ځای تغير شوی دی او يوه نوې کلمه رامنځته شوې ، چې د (ورک) له کلمې نه د (روک) کلمه جوړه شوې ده.

همدا ډول د (باهر) په کلمه کې د (الف) د توري د زياتوالي په سبب د (بهر) کلمه په (باهر) اوښتې ده ، چې دلته د (الف) زياتوالی د (بهر) د کلمې په تغير کې پوره اغيز لرلی دی.

د غني خان د کلياتو چې د قومونو او قبايلو چارو وزارت له خوا په (۱۳۶۴) کال ترتيب او چاپ شوی په (۳۸۹) مخ کې (دګلونه دورخاړي) تر سرليک لاندې يو شعر شته چې په هغه کې وايي :

اغشـــتي يې سل رنګه ـ خنديږي ښنګ په ښنګه
سحر ځواني مشرنګه ــ او ماښام ولاړ وي ژاړي
ګلونه دورخاړي

د پورتني شعر په لومړي نيم بيتي کې د اغشتي کلمه راغلې چې په دې کلمه کې د (خ) توری په (غ) توري اوښتی دی او د اخستی پر ځای د اغشتي کلمه ترې جوړه شوې ده او يوه بله سيمه ييزه لهجه يې اختيار کړې چې دا د هشتنغر او ځينو نورو سيمو لهجه ګڼل کيږي ، چې غني خان هم په خپلو اشعارو کې استعمال کړې ده .

---

* سره د دې چې پنسل ( Pencil ) انګليسي کلمه ده ، خو او س مو نږ په ژبه کې پنسل په اصلي بڼه مفغن شوې او د پښتو ژبې جز ګرځېدلې ده.

د غني خان د کلیاتو په (۹۹) مخ کې یو بل شعر داسې دی:

د غني نه هشتنغر کې ـ اوچت غرونه د طور غواړي
د ګـــډوري نه خپـل ځانله . د روتولو* تنور غواړي
ستا وکیل وایي په چغو ـ چې خیرات او زکوت غواړي
زړې مېښې د پنجاب ـ اوبډې روجې د سوات غواړي

همدا ډول د وروستي بیت په وروستي نیم بیتي کې د وریجو له کلمې څخه روجې کلمه رامنځ ته شوې، چې دا هم د هشتنغر سیمې د لهجې ځانګړتیا راښئ چې غني خان په خپلو اشعارو کې استعمال کړې ده.

اوس به د غني خان د اشعارو د لیکدود په باب هم ځینې نمونې راوړو: لیکدود د یو لیکوال یا شاعر د لیکنې طرز او رسم الخط ته وایي، د غني خان په اشعارو کې د پخوانیو له لیکدودونه هم کار اخیستل شوی دی. د نمونې په توګه دغو بیتونو ته ځیر شئ:

---

* دا کلمه د پلوشې په ۲۱۰ مخ کې چې د کابل پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۳۱ هـ ش کال چاپ د وریتولو په معنا راغلې ده.
او د لټون اثر پـه ۲۳۳ مـخ کې چې د زبیـر حسـرت پـه زیـار پـه پېښـور کې پـه ۱۳۸۶ هـ ش کال چاپ شوی د روتولـو پـه شکل چې د غني کلیاتو د لیکنې سره سمون لري راغلې ده.
د محترم استاد عبدالله بختاني بـه نظر چې احتمالي بڼه لري، د دې بیت آخرني نیم بیتي د (د روټو تود تنور غواړي) پـه شکل وي، خو زما پـه نظر د کلیاتو او لټون پـه آثارو کې دا کلمه یو ډول (روتولو) پـه شکل راغلې او د غني خان د لهجې سره هم سمون لري.

مرګـــی د راشي ـ چه کله یې وس وي
ګل به مِ لاس کښ وي ـ او یا به آس وي
یا به ټـــوپک وي ـ یا به قلـــم وي
ډوب په خـــــندا کښ ـ ددنیا غم وي
چه څه مو بخت وي ـ دومره به بس وي
مرګـــی د راشي
چه کله یې وس وي

د پورتني شعر د لومړي بیت په لومړي نیم بیتي کې (د) ته د مجهولې (ې) پر ځای (زېر) ورکړ شوی او په دې (د) شکل لیکل شوی دی او د دوهم بیت په لومړی نیم بیتي کې د (مې) پر ځای (م) ته (زېر) ورکړ شوی او په دې (مِ) ډول لیکل شوی او د څلورم بیت په لومړي نیم بیتی کې د (کې) پر ځای (کښ) لیکل شوی دی ، څرنګه چې دا پخوانی لیکدود دی ، خو د غني خان په شعر کې تر اوسه لا همدغه لیکدود وینو چې استعمال شوی دی .

غني خان د قسمت او طالعو په باب وایي :

چه څوک سوال د پلاو وکړي ورکړي دا
اکثر خور کړي په ښکاري د ښکاري جال
چاته جام کې د سرو خاورې شکې واچئ
چاله ورکـــړي د ایرو په ډهېر کې لال

د پورتني شعر د (ډهېر) کلمه د ډېر یا ډېری یا انبار په معنا راغلې ده چې په (ډهېر) کلمه کې غیر ملفوظی (هـ) د اردو ژبې د لیکدود نه راغلې ، چې دا غیر ملفوظی (هـ) په ډېرو کلماتو کې لیکل کیږي ، خو په وینا کې نه ویل کیږي ، دلته نه

یوازې دا چې غني خان ، بلکې د پښتونخوا ځینې نور لیکوال هم ددغسې کلمو په لیکلو کې له اردو ژبې څخه تقلید کوي.

غني خان ددنیا ځینو خلکو ته د شک په سترګه ګوري او وایي :

دا په خپل خود کښې دنیا ته کـتل
ګرانه ده ، ګرانه ، ډېره ګرانه ده
دلته شل قسمه دهـوسان* ګرځي
رنګ د شهباز کې ټپوسان ګرځي

په نتیجه کې ویلای شو چې غني خان او د هشتنغر د سیمې د لیکوالو په لهجه او لیکدود کې ځینې خصوصیات او ځانګړتیاوې شته چې د نورو سیمو د لیکوالو په لیکنه کې دا خصوصیات او ځانګړنې کمې لیدل کیږي.

**اخځونه** :


۱. سـرمحقق عبدالواجـد واجـد ( لهجـوي څیړنـه ، د ماسـترۍ دورې کورنۍ دنده ).

۲. حبیب الله تږی ، نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل ، پښـتو ټولنـه ، ۱۳۴۵ کال ،۱۱۸ مخ.

۳. دوکتـور مجاور احمـد زیـار ، پښـتو څیړنې ، پښـتو ټولنـه ، ۱۳۵۶ کال ، ۲۰۶ مخ .


* دیوث مفرده عربي کلمه ده ، پښتو شوی شکل یې دووس دی چې جمعه یې دووسان کیږي او د غني خان په شعر کې دا کلمه د جمعې په شکل دهوسان راغلې .

۴. ق . م ، برزین ، د لیکچرز ان لنګوسټکس ، مسکو ، ۱۹۶۹ کال ، ۲۵ مخ.
۵. علی محمد منګل ، پښتو لهجې ، ۱۳۶۵ کال ، ۵ مخ.
٦. غني او اجمل ، د زرین انځور مقاله ، ۸ مخ ، ۱۳۶۵ کال.
۷. د غني کلیات ، د قبایلو وزارت ، ۱۳۶۴ چاپ ، ۶۳۸۹ مخونه
۸. پلوشه ، د کابل پښتو ټولنې چاپ ، ۱۳۳۱ کال ، ۲۱۰ مخ.
۹. لټون ، د زبیر حسرت په زیار ، پیښور ، ۱۳۸۶ کال چاپ ، ۲۳۳ مخ.

پوهنمل صحرا علیزی

# د ګل پاچا الفت نثرونو کې بدیعي ښکلاوي

استاد ګل پاچا الفت د پښتو په معاصر و ادبیاتو کې د رانه زړه ضمیر او وجدان خاوند او یو داسی ځلیدونکی مخکښ لیکوال دی، چې په نظم او نثر دواړو کې داستادی تر پولې رسیدلی دی . هغه دخپل ټول ژوند په اوږدو کې هر څه ،چې ولیکل په زغرده یې ولیکل ، په مینه یې ولیکل ،د الفت په وړانګو یې ولیکل ، انتقادي یې ولیکل ، او دهیڅ ډول تکلف او تصنع ګرد او غبار یې دلیکوالی پلو ګردجن نه کړ. او په همدې وجه خو زموږ لیکوالو هغه دخپل عصر «خوشال» بللي.

داستاد په نثرونو کې جملي د طنز ،تاکید ،وضوح، دمطلب د تصویري کولو ایا دنثر دآهنګ ساتلو په خاطر دمعنا په لحاظ تکراریږي. (۱۰ : ۳مخ)

داستاد دهمدغه انساني کرامت ، میني،الفت ،نفس دپاکی او تزکیې ، پښتو، پښتو نولی او انسانیت ته د خدمت یوه اوچت معیار پایله وه . (۱ : ۱ مخ)

که څوک غواړي، چې دخلقت او فطرت په رمزونو او اسرارو پوه شي او په یوه شنه پاڼه کې د معرفت دفتر وګوري خپل عقل شعور او احساس دې په کار واچوي او د زړه سترګې دې وغوړوي په یوه لاره ډیر خلک تیریږي ، مګر یو نیم په کې چیر ته یوه ښکلې مرغلره پیدا کړي، چې د چا له امله پریوتې او په خاورو کې پر ته ده .

د زړه په سترګو یې دا رازونه لیدلي او د مینې انسانیت او احساس مرغلره یې تری راکښلی ده. (۲ : ۳۵ مخ )

الفت دژوند تر پایه د خلکو په دردونو وږیده او د زړه د ددر ټولې خبرې یې له الفت نه په ډکو کلمو او تورو کې تاو ې کړې او د کاغذ په مخ یې موږ ته را وسپارلې .

الفت یو له هغو مخکنیو لیکوالانو څخه دی ، چې د پښتو د معاصر ادب په ویښتیا یې پیر کې یې د ښکلي هنری نثر مانۍ ودانه کړه . دښکلو الفاظو او رنګینو معناوو شال یې په سر کړ.

الفت په خپل څلویښت کلن ادبي ژوند بهیر کې لږ تر لږه د پنځه دیر شو ادبي اثار و په منځ کې خپل درې ځانګړي تخلیقي نثري اثار ( بله ډیوه ، نوی سبک او نوی ادب او غوره نثرونه) موږ ته پریښودل. ( ۹ : ۹۳ مخ)

الفت په نثر لیکلو کې ناظم وو او نثر یې لکه نظم داسې خوږ او مرتب وو په نثر کې یې د ادبي فنونو او بدیعی صنایعو څخه کار اخیستی چې زما د مقالې اصلي موضوع هم د الفت په نثرونو کې بدیعي ښکلاوو ته ځای ور کړل شوی دی .

لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبی دالفت نثر او نظم دواړه شعر بولي او وایې : پښتوادب چې په خپل سمسور بڼ کې یو ښکلی رنګین ګل غوړولی، هغه دګل پاچا الفت دی.

دی فطرتاً شاعر و، شاعري او نازکخیالي په خټه ور اخښلی شوی وه که به یې نظم لیکه ، هغه به ضرور خوږ روان او له معانیو ډک و خو، نثر یې تر هغه لا ښکلی

لطیف او په ګټورو نقطو پسوللی او ګاڼه ور و. هغه لفظي او ښکلې مانا وې، چې ده پر منثور و بداعاتو کې ځایولی شوای کټ مټ داسې سره ودولی و لکه شعر. (۴: ۳ مخ)

کوم بدیع ښکلاوی چې د ګل پاچا الفت په نثرونو کې راغلي په لنډ ډول درپیژنم:

**طباق:** د بدیعي ښایست کې په بیلا بیلو نومونو یاد شوي لکه: تضاد، تناقص، تقابل، مقابله، که شاعر یا لیکوال په خپل کلام یا وینا کې متقابل الفاظ لکه توراو سپین، شپه او ورځ مرګ او ژوند کلمه داسې یو د بل ضد سره راوړي، طباق یې بولي. (۷: ۲۷ مخ)

همدغه صنعت د الفت صاحب په نثرونو کې په لاندې ډول ګورو:

لا روی وویل ماته د خوړلوواجازه شته او تاسو ته نشته. (۱: ۴۸ مخ)

په پورته مطلب کې دشته او نشته ترمنځ طباق مو جود دي. طباق ډېر ډولونه لري لکه اسمي طباق، فعلي طباق سلبي اوایجابی طباق.

**اسمی طباق:** په کلام کې داسې متقابلې او متضادي کلمې راوړل چې دواړه نومونه یاستای نومونه وي. اسمي طباق یې بولي. (۷: ۲۴)

چې دالفت صاحب په نثرونو کې یې بیلګې په لاندې ډول راغلی:

څه شی چې وړوکی ګڼي هم لوی دی یا هغه چې تاته لوی ښکاري هغه هم کوچنی او اوړوکی دی نو راشه: هیڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه چې دلته غټ او کوچنی، لوی او وړوکی نشته ټول برابر دی یوازې خدای لوی دی او بس. (۳: ۵۱ مخ)

یا هلته یو ړوند بې لارې روان و، هغه په سمه لار برابر کړ، مګر ړوند پوه نه شو چې زما رهبر څوک دی هغه وخت زه هم هوښیار نه وم مګر هوښیاري مې ښه ګڼه او ناپوهی راته بده ښکاریده. (۳: ۵۶ مخ)

مګر چې شا او خوا مې ښه وکتل په رښتیا چې دکلي خان په ټوله ورځ په دیره کې

یخ سیوری ته پروت و او هیڅ به یې نه کول دهقان او مزدورانو به په سره غرمه کې وې لوونه او غوبلونه کول زحمت او خواري به د دوی وه ګټه به دخان کور ته تله . (۳: ۵۷ مخ )

هغه وویل دا یو دظالم پوستکی دی ځکه تر ښنو لاندې لوېږي ، دابل د ضعیفانو او مظلومانوله پوستکي نه جوړدی او په غاړه پوري تعلق نیسی. (۳: ۶۱مخ)

هغه څوک چې د دنیا په سود او زیان نه پوهیږي او دګټې په ځای تاوان کوی خلک ور ته احمق بې عقل او ساده وای. (۳: ۶۲مخ )

دا درې نمونه لکه د یوه سړي مختلف عکسونه، چې په بیلو بیلو کمرو او مختلیفو احوالو کې بیلو عکاسانو اخیستي وی په عین اتفاق کې اختلاف هم لري او په یووالي کې یې یوڅه بیلوالی معلومیږي . (۳: ۶۲م)

دغه عقل چې د خوار غریب رهبري کوي دبډایانو لپاره نه دی په کار .(۳: ۶۴ مخ)

زه دفکر آزادي له هر څه نه پورته ګڼم هر څوک له ځانه خوابدي کوم مګر خپله او خپل وجدان خوباید خوشاله وساتم . ( ۳: ۶۷مخ)

په پورته بیلګو کې د بې لاری او سمه لار، لوي کوچنی هوښیاري نا پوهي یخ سیوری سره غرمه کلمو کې اسمی طباق موجود دی

موږ ته په قهر دي او په هغوی پیرزوینه لري دلته ډیر تند او په څپو روان دی، هلته غلی ارام بهیږي. (۳: ۱۱۷ مخ)

ډیر خوشحالي هم شته چې دنورو له خپګانه پیداکیږي . (۳: ۷۰مخ)

دغه یو چې په زړه جونګړه کې اوسي او هغه بل چې لوړه ماڼۍ کې استوګنه لري ، دی دهغه جونګړه ویني ځکه خوشاله دی.

هغه دده قصر ویني ، ځکه خپه دی که چیري موږ ټول په جونګړو کې اوسیدلي یا ټول په لوړو ماڼیو کې وای نه به جونګړه دغم کوډی نه به لوړه ماڼۍ دخوشالۍ ځای وای. (۳: ۷۰مخ)

هغه په آس باندې دی او نور یې په مخکینی منډې وهې داس سپرلی دومره نه دي خوښ لکه چې دنورو له پلي توب څخه خوند اخلي .

مګر چې له کورونو نه دباندې وګورو ، نوبیا قوي په ضعیف مسلط دی . (۳: ۷۱مخ)

څنګه چې په زړه زمانه کې دیوان دښا پیریو تابع وو اوس هم دقوت اوقدرت خاوندانو ددغه ضعیف او لطیف جنس په مقابل کې ډیر ضعیف معلومیږي.

که عشق او مینه په منځ کې نه وي ، نو ددیو اوښا پیرۍ زور هیڅکله برابر نه دي او یو ماشوم هیڅ وخت دسپین ږیریو په ږیره لوبې نشي کولای او نه مشرانو په اوږو سپریدلای شي . (۳: ۷۲

هغه وخت خان او غریب معلوم و خانزاده او آب سړی پیژندل کیده عام او خاص یورنګه وو . (۳: ۷۸مخ )

څنګه چې فصاحت او بلاغت کله حق او ناحقه کوي او غلط ، صحیح ښي . (۳: ۸۱مخ )

دمنطق او بیان خاوندان خپله بدي هم نیکي ښودلای شي او دبل نیکي بدرنګولی شي.
(۳: ۹۲

مګر څه پوه شوئ چې لوی څوک دی او کوچنی څوک دی . (۳: ۹۰مخ)

دوی په همدغې جگړ کې اوخپل کاغذي پتنګان په هوا کوي او خاندي ددوی تصور او تخیل د دوزخ نه فردوس جوړولای شي او موږ په جنت کې هم له مارانو او لړمانو نه نشو خلاصیدای .(۳: ۹۱ مخ )

له دغه جګوالي سره دغه ټیټوالی تړلی او دلوړتیا راز په همدغه کنده کې پټ وو .(۳: ۹۲ مخ)

ددنیا جاه جلال عزت ومنزلت هماغه لوړ برجونه دي چې سر ګذشت یې له ډیر ټیټ ځای نه شروع کیږي .(۳: ۹۲مخ)

لکه ریا چې په عبادت کې وي او شیطانت په اوښیاری کې وي دغسې دوښمني هم که ده دوستی په جامه کې پټه وي او رقابت د محبت په څیر ښکاري سریودی ډیر محبتونه دي

چې ډیرې پټې کینې پکې پټې وي . (۳: ۹۴)

زما نیکبختي او بد بختي زما په عمل پوري اړه لري او جنت ته یادوزخ ته تګ زما دعمل نتیجه ده .(۳: ۹۷ مخ)

ته خالق یې او موږ مخلوق . (۳: ۹۷ )

زموږ کوچنیان چې پیداشي نو سپین بریري وي او په ډیره زړه زانګو کې څملي او زموږ للو ډیره زړه ده اووزړه دایې زموږ د ماشومانو تربیت کوي زموږ ځوانان که بریري ونه خیري یې نوسپین بریري ورته ویلی شی.(۶: ۱۱۴ مخ )

**فعلی طباق** : که چیرې په وینا کې ددوو فعلونو ترمنځ تضاد رامنځ ته شي دغه ډول صنعت ته فعلی طباق وایې دالفت صاحب په نثرونو کې یې بیلګې ګورو: (۷: ۳۱مخ)

داځکه چې دغه پرځیدل او جګیدل هغه ته څه زیان نه رسوي او بې سترګو هم تلای نشي .(۳: ۶۴ مخ ).

که څوک خپه کیږي ، که خوشالیږي زه خوځه وایم او خپله غاړه خلاصوم .
لیکوالی ۲۰۶

نوی کال سملاسي دورځو په اوږدولو اوشپو لنډولو یانې دخوبونو کموي او دبیداری وخت د کار او فعالیت لپاره زیاتوي . دتیاري او تور تم عمر لنډوي او دړنا عمر لنډواو رڼا عمر

آوږدوي. (۵: ۱۰۷ مخ )

په پورته بیلګوو کې د پرځیدل .جګیدل، خپه کیږي .خوشالیږي او اوږدولو- لنډولو په کلمو کې فعلي طباق موجود دي.

**اقتباس:**

اقتباس په لغت کې له آره درڼا دوړانګو اخستل دي . خو دبدیع په اصطلاح کې هغه صنعت دی چې یو شاعر په نظم یانثر کې د قرانکریم کوم آیت یا د پیپغمبر (ص) کوم حدیث یا کومه مقوله په بشپړه توګه او یا یې یوه برخه واخلي ، اقتباس یې بولي. (۷: ۹۴مخ)

الفت صاحب هم په خپلو نثرونو کې دغه صنعت ډیر ښه کارولی چې بیلګې یې دا دي:

همدغه شان په دې حدیث کې ((لاتبیعو الدرهم بالدرهمین ولا الصاع بالصاعین)) چې یوه روپۍ په دو روپیو او یوه پیمانه په دو پیمانو خر څول منع شوي دي. (۵: ۳۹۵ مخ )

که موږ په استثنا کې معارضه قایل شو ، لومړی په ټولوحکم وکړو بیا مستثنی ورځنې وباسو ، نو په دې آیت کې چې خدای پاک فرمایي ((فلبث فیهم الف سنة الا خمیس عاما)). (۵: ۳۹۸ مخ

په دې آیت کې ((ولا تقل الهمااف )) چې خدای پاک د مور او پلار په حق کې ((اف) ویل منع کړل. (۵: ۳۹۹مخ .

د دې ایت (( انکم وما تعبدون حصب جهنم)) ابن زبعري د اعتراض په ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې وویل،)) . (۵: ۴۰۱

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وویل (( ما اجهلک بلغت قومک )) یعنې خپل قوم په ژبه نه پوهیږې. (۵: ۴۰۱

**تنسیق الصفات**:

د تنسیق لغوي معنا ،نظم برابرول او پیل یا امیل کول دي.

اصطلاحاً: هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې دیو څیز لپاره څو صفتونه یو څو صفتونه یو پر بل پسې ذکر او بیان کړي. ( ۸: ۲۰مخ)

کله چې یوه ښکلې او نفیسه تابلو په ډېرو روپیو اخلي یا ځیني انتیک او زاړه شیان د تش نمود لپاره په ډېر لوړ قیمت رانیسي .(۳: ۶۵مخ )

هغه خبره ربښتیا او صدق ګڼې او په هیچا کې دغدر ، خیانت او فریب علامې نه شي لیدلی. (۴: ۲۴۶

-هو ! د شعر موضوع ښکلي خیالات ،عالي احساسات ،د زړه تاثرات ،د غم او خوشحالۍ خوبونه د روحي او جسمي ښکلا اغېزې او عشق و محبت دي. (۳: ۹۹

-موږ د دې عصر په شپو کې دا خوبونه لیدلي دي ،چې علم او لیاقت ،خیر او اصلاح به ډېر ژر خپله کرسۍ اشغال کړي او جهل او ناداني ،ظلم ،ستم ،ریاکاري او فریب کاري به له خپلې چوکۍ راولوېږي. لیکوالی املا انشا(۲ : ۲۰۴

**جمع** :

دجمع لغوي معنا ټولول یا یوځای کول دي. دبدیع په اصطلاح کې دڅو شیانو یا صفاتو تر یو حکم لاندې راوستلو ته جمع وایې .(۷: ۶۴مخ)

چې بیلکې یې دالفت صاحب په نثر کې ګورو :

کله چې موږ له دغې تیارې ړنا ته راوو تواو د پښتونخوا دغرونو په څوکو باندې د سعادت وړانګې او پلوشې و ځلیدې ، زموږ په زړونو کې د حیات مینه . دوطن محبت، د ملت احساس ، د علم او ترقی شوق او دژوندانه ټول صفات او خواهشات پیداشول. دوطن ښایسته غرونو اوشنو ناوونو ، ډکو سیندونو او ګڼو ځنګلونو زموږ په زړه کې وطنی عشق پیداکړه. (۴: ۲۵۶)

په پورته بیلګې کې د وطن ښایسته غرونو اوشنو ناوونو ، ډکو سیندونو او ګڼو ځنګلونه تر یو حکم لاندې راغلې ،چې دغه صنعت ته جمع ویل کیږي.

**تقسیم**:

که چیري په یونیم بیتې یا بیت کې څو شیان ذکر شي او بیا وروسته هر یو ته په تفصیل سره خپله معینه معنا یا وظایف تقسیم شي ، دغه ډول ښایست ته تقسیم وایې. (۸: ۷۰مخ)

صبر ،رحم ، کرم شجاعت د زړه کاربولی ،عشق او مینه په زړه کې وي.(۳: ۹۹

له دماغ نه علم وفلسفه پیدا شوه، له زړه نه شعراو ادب.

اروپایان زړه دعواطفو او نفسي احوالو ځای ګڼي، مسلمانان دایمان او عقیدې ځای ته زړه وایې.

پورته مطلب کې الفت صاحب د دماغ دنده اودزړه دنده سره بیله کړي او تقسیم کړی یې دی نو دې ډول ښایست ته تقسیم وایې.

**ارسال المثل**:

په شعر کې دیو مشهور متل را وړلو ته ارسال المثل وایې. (۷: ۸۸مخ)

.هو !انسان کله د لاس غوټه په خوله خلاصوي او اسانه کار ځانته ګرانوي. ( ۴: ۲۳۸ )

الفت صاحب دامتل چې دلاس غوټه په خوله خلاصول په خپل مطلب کې ډیر ښه کارولی دی.

.له ښاره وځه ،خو له نرخه او له چتې مه وځه! (۴: ۲۷۰)

.څوک وايي ؟! چې کوږ بار تر منزله نه رسيږي او د دروغو منزل لنډ دی؟ د دروغو منزل خو تر اخره پورې دی او کاږه بارونه په هماغه وخت منزل ته رسيږي.

لوی لوی کورونه دځان لپاره جوړ کړه، خو دخپل بام واوري دبل په بام مه غورځوه.

خلک وايې په ډیرو لیونې خوښ دي ، ته هم په لړه ګټه قانع شه او لیونی کیږه مه. (۴ : ۲۸۰)

**تدبیج**:

تدبیج لغوي معنا ښکلا ورکول یارنګول دي.

په ادبي فنونو کې هغه بدیعي ښایست دی چې شاعر اولیکوال په خپل کلام کې څوډوله رنګونه راوړي. (۷: ۱۰۰مخ)

دا سړی په تور او سپین نه پوهېده ،الف او بې يې نه وه لوستي ،دلفظ او مانا فرق يې نه شو کولای ،مګر دنیکۍ او خیر رسولو په لوړه مبدا يې ټینګه عقیده لرله او دا جذبه يې دعشق حد ته رسېدلې وه.

. که سړی خپل سپین مخ تور کړي ملامت دی. (۴: ۱۳۶)

که انسان تعقل قوي شي او د حواسو له قیده ووځي (که څه هم دبشر اوسنۍ پوهه هماغه رڼا ده ،چې د حواسو له کړکیو رانوتې ده) په هر شي کې به يو نور وګوري او په موجوده نړۍ کې به دا تور او سپین نه وي. اوس موږ د حواسو تر تاثیر لاندې يو ،چې په تېلو غوړ لاسونه په پندانه وچوو. (۳: ۱۵۲

هغه اشخاص باید له سرو او سپینو سره وتلل شي. (۳: ۱۸۶)

تور هر کله تور او سپین سپین وي. (۳: ۱۸۷)

هو !د دنیا تیتوالی او لوړوالی زمور سترګو او زمور اعتبار پیدا کړی دی او دا سره او شنه رنګونه زمور د دوو سترګو مولود ګڼل کیږي. (۴-۲۳۷)

په پورته نثري بیلګو کې د بیلابیلو رنګونو لکه تور، سپین، سره، شینو... څخه کار اخیستل شوی نو تدبیج یې بولو.

## الذم بما یشبه المدح:

داسې یو بدیعي ښایست دی، چې شاعر په خپل کلام کې دیوشي غندنه په داسې ډول سره وکړي چې ښکاره ستاینه او په معنا کې غندنه وي .(۷: ۱۲۰مخ)

له یوه لیکونکي سره چې تخلص یې الفت و، څو تنه ملګري ولاړو.

څو خره په لاره تیریدل، چې وربوزونه یې یو له بله نږدې کړي وو او څټونه یې ګرول.

یوه غږ کړ، چې په خرو کې هم الفت شته.

الفت سمدلاسه وویل:

هو !لکه زه چې په تاسې کې یم. (۴-۲۷۴)

## سیاقت الاعداد:

په لغت کې داعدادو طرز ته وایي . اصطلا که شاعر په یوه نظم کې د شمیرې مرتب یا نامرتب ذکر راوړي ، سیاقت اعداد یې بولي.(۷: ۱۴۰مخ)

یوه میاشت یا دوه میاشتې، پس به چې څوک مېلمانه راغلل او چرګ به په کار شو نظر لالا به هغه پیسې په چر ګوړو ورکړې. (۳: ۱۳۳)

زموږ دا عادت دی چې د چا په کاله کې نه میاشتنی اولاد مړ پیدا شي ویر ورسره نه کوو او هغه هم د غم کمبله نه غوړوي ،مګر په کوم کاله کې چې دوه ورځنی ماشوم مړ شي ،نو د غم ومصیبت مجلس جوړېږي او خلک ورسره همدردي کوي. (۳: ۱۴۲)

د ده یو حسابي درس دا و: که یو عدد له بل سره داسې یو ځای کړو، چې یو پاس او بل لاندې وي ۲ او ۲ ترینه ۴ جوړېږي او د دواړو وجود هم پخپل حال پاتې کېږي. (۳: ۱۶۰)

که داوړه ښنګ په ښنګ یو ځای کړو لکه ۲۲ نو دوه یشت ورسره جوړېږي او دوه شل کېږي ،د دواړو عددونو شکلونه او صورتونه هم پخپل حال پاتې کېږي ،ځکه چې دلته د ملګرتیا او ورورلۍ راز پټ دی او په هغه بل صورت کې تفوق ،تسلط او محوه کول معلومېږي. (۳: ۱۶۰)

ده ویل که دوه مساوي عددونه لکه (۱–۱)(۲–۲)(۳–۳)هر یو له بل نه وړاندې یا وروسته کړو نتیجه یې یو ده ،مګر په دوو متفاوتو عددونو کې تقدیم او تاخیر ډېر زیات فرق راولي او په مقدار کې ډېر تفاوت. (۳: ۱۶۰)

که موږ (یو) او (نهه) یو ځای کو او داسې یې لیکو (۱۹) نولس کېږي مګر شل کېږي نه. (۳: ۱۶۰)

که همدغه دوه عددونه داسې ولیکو (۹۱) خبره سلو ته نېژدې کېږي او ډېر زیاتوالی پکې راځي. (۳: ۱۶۰)

ته به وایې دی رشوت خواره ماموران او حاکمان یادوي ،چې په لکونو روپۍ او بې حسابه جایدادونه لري،له یوه ډېر عاجز سړي نه هم په ډېره جزیي فقره کې ترڅو سل دوه سوه روپۍ وانخلي ،نه یې پرېږدي. (۳: ۲۰۶مخ)

په پورته بیلګو کې لیکوال دمختلفواعدادو ذکر په پرله پسې راوړي چې سیاقت الاعداد صنعت یې بولي.

**پایله**:

داستادالفت ادبي ټوټو سبک هم شاعرانه دی او دموضوع په لحاظ اجتماعی او خلاقي پیغامونه لیږدوي .

په ادبي صنایعو کې دلفظي صنعت استعمال داستاد الفت په نثرونو کې په ډیر دقیق ډول سره راوړل شوی دی.

خو دعلم معاني د خاوندانو په نزد دشاعراولیکوال هغه فن کمال او کاریګري ده چې دهمدغو صنعتونو په وجه دالفاظواو نوو معناوو داستعمال په ذریعه خپل کلام ښا یسته کوي. کله چې استاد یوه خبره کوی یا یې په نثریانظم لیکې نویو پوره او بشپړ مفهوم لري او کوښښ کوي لوستونکی او اوریدونکی پري ښه پوه کړي .

لفظي صنعتونه هغه دي چې شعریا نثر فقط الفاظو سره ارتباط لري یا هغه ښایست چې دکلمو ظاهري اړخ او الفاظو شکل سره رابطه لري ،بدیعی صناعی د کلام په ښایښت کې ، ښکلا ، خوند ، کیفیت ، او سرور ډیرولو کې ځانګړی ځای او ونډه لري.

ګل پاچا الفت نثر لیکنه کې دهري کلمي طبیعي ځای ته ډیره ښه پاملرنه کړي ده.

الفت صاحب په نثر لیکونکو لیکوالانو کې دشاعري صفت هم لري، او په خپل کلام کې یې په ډیره استادانه بڼه کارولي دي چې ما په خپله مقاله کې لومړی دادبي فنونو دعلم ، ارزښت ، مزایا لطافت ، او اغیزې په انسان باندې، لنډ معلومات بیا ورپسې د ګل پاچا الفت په نثرونو کې بدیعې ښکلاوي په لنډ ډول دشاعرپه ژوند او

شاعری باندې هم معلومات وړاندې کړي دي. چې دډېرو ښو او نويو ماخذو څخه مې پکې ته اخيستې ده هيله ده لوستونکو ته په زړه پوري واقع شي.

په درناوي پوهنمل صحراعليزی

## اخځليکونه:


۱ــ الفت، ګــل پاچــا : الفــت نثــري کليات، کابــل، دانــش خپرندیويــه ټولنــه، ۱۳۸۷ل.ل.

۲ـ الفت ، ګل پاچا : ليکوالي املاانشا ، جلال آباد، ياد خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۲ ل.ل.

۳ـ الفت ، ګل پاچا : غوره نثرونه، لاهور ملت پرس، ۱۳۸۰ل.ل.

۴ـ الفت ، ګل پا چا: لوړخيالونه ژورفکرونه، لاهور ملت پرس، ۱۳۸۰ل.ل.

۵ـ الفت، ګل پاچا: ادبي بحثونه، لاهور ملت پريس، ۱۳۸۰ل.ل.

۶ـ بختـانی عبـدالرحيم پـه زيـار : الفـت نثـري کليـات دوهـم ټـوک، پيښـور، دانـش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۱م.

۷ـ شير زاد محمد اقا: ادبي فنون، ۱۳۹۲ل.ل.

۸ـ مسلم، دوست: خوږه ژبه ، پيښور، عنايت خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ ل.

۹ـ محمد صديق: ادبي څېړنې ،ننګرهار، ننګر هار پوهنتون، ۱۳۶۰ ل.

۱۰ــ غضــنفر، اســدالله : اســتاد الفت نثــر ځــانګړنې، سباســترګه مجلــه ،لـومړۍ ګڼه، کابل، کابل پوهنتون ، ادبياتو پوهنځي، پښتو څانګه، ۱۳۸۹ل.ل.

پوهندوی بخت مير وزيري

# لیک او د عربي لیک ډولونه

## سریزه

د لیک د پیدایښت تاریخ د انسان د پیدایښت له تاریخ سره ذاتي تړاو او پیوند لري او تر دغه ننني شکل چې زموږ په لاس کې قرار لري، د ټولنې د پرمختګ او ترقۍ سره په موازي ډول پرمختګ او تکامل کړی دی.

د لیک د پیدایښت په اړه اسلامي دین پوهان په دې عقیده دي، کله چې (ادم ع) پر ځکمه میشت شو، نو یې لیک پیل کړ او وروسته له ده څخه د ده لمسی (ادریس ع) د (شیث ع) زوی د قلم په وسیله په خپلو ګوتو لیکنې کړي دي. ویل کیږي چې حضرت (ادم ع) په ادبي ډګر کې نه یوازې دا چې انسان ته یې د نثر لیکنه په میراث پرېښې ده، بلکې د شعر بنسټ یې هم ایښی دی.

همدا راز د لیک په اړه په ختیځ او لویدیځ کې ځینو افسانوي نظریاتو هم شتون درلود، چې ویل کېدل: کله چې دېوانو په جنګ او جګړو کې د (پیشدادیانو) د دویم واکمن په مقابل کې ماته وخوړه، دېوانو د خپل ځان د خلاصون په بدل کې هغو ته د

لیک ور ښودلو وړاندیز وکړ. په دې افسانه کې لیک د انسانانو یوه ارزښتمنده اختراع ګڼل شوې او بل دا چې د نړۍ د ټولو لیکونو مبدا یې هم یوه ګڼلې او وایي چې د نړۍ له یوې نقطې څخه د نړۍ نورو ټولو برخو ته ورغلی دی.

لکه څنګه چې مخکې وویل شول، د لیک پیدایښت د انسان له ژوند سره نه بېلېدونکی پیوند لري، د انساني ټولنو له پرمختګ سره سم پرمختللی دی چې اوسنۍ بڼې ته یې ځان را رسولی دی. په لومړي ځل انسان د خپل ذهني انځور د څرګندولو لپاره له انځورونو څخه کار اخیستی، تر انځوریزو لیکونو مخکې کوم بل ډول لیک د پوهانو لاس ته نه دی ورغلی او که ورغلی هم دی په لوستو یې نه دي بریالي شوي.

په دغه څېړنیزه لیکنه کې لیک او د عربي لیک ډولونه تر سر لیک لاندې د لیک پېژندنه، الفبایي لیک، عربي لیک او د هغه ډولونه تر څېړنې لاندې نیول شوي دي چې د لیکدود پوهنې له مینه والو سره د ستونزو په حل کې مرسته کولای شي.

**لیک پېژندنه:**

په عمومي توګه د لیک پیدایښت له (لسو زرو تر پنځلس زرو) کالو پورې اړه‌کل کېدای شي او د ژبې پیدایښت له (پنځوسو زرو څخه تر یو میلیون) کالو پورې اټکل کیږي. د لیک د پیدایښت او اختراع له دورې څخه دمخه دور ته قبل التاریخ او له هغه څخه وروسته دور ته تاریخي دور ویل کیږي.

یو لاتیني متل دی چې وایي: خبره الوزي او لیکنه یې پاتې کیږي.

**لیک د ژبې په څېر دوه مفهومه لري:**

الف – عام مفهوم: په عامه توګه هر لیکل شوی شی چې د یو مفهوم لرونکي وي لیک ګڼل کیږي.

ب – خاص مفهوم: په خاصه توګه لیک د یوې ژبې د فونیمونو انځوریزې بڼې ته ویل کیږي.

لیک فزیکي نوري پدیده ده چې په ادب پوهنې پورې اړه لري او ژبه اوریدنیزه فزیکي پدیده ده چې په ژبپوهنې پورې اړوند ده.

لیک پوهانو د نړۍ لیکنیز پرمختیایي بهیر په څلورو پړاوونو کې څیړلی دی.

الف: جمله ییز لیک.

ب: کلمه ییز لیک.

ج: هیجا ییز لیک.

د: اوازي لیک.

**الفبایي لیک**:

د نړۍ د لیکنیزو څلورو پرمختیایي پړاوونو او میخي لیک څخه وروسته (فونوموس) یا الفبایي لیک د دویمې زریزې په دویمه نیمایي کې فنقیانو ایجاد کړ، چې د بشر په تاریخ کې له سترو بریاوو څخه ګڼل کیږي. الفبایي لیک د دغه وخت د انساني ټولنو پر مدني ژوند باندې ژورې اغیزې وکړې. له فنقیانو څخه الفبایي لیک د نړۍ نورو ملتونو هم واخیست. د فنقي لرغوني الفبایي پاتې شونې په (۱۲–۱۰م) پیړۍ پورې اړه لري چې یواځې کانسونټي سیستم یې درلود.

ډیر لرغوني آثار په (ګوبله) کې د کیندلو له پایلو څخه لاس ته راغلي چې دا یو زوړ فنقي ښار دی او په ننني (سوریه) کې یې موقیعت درلود.

دغه ښار ته یونانیانو (بیبلیوس) وایه. نوموړی ښار د یونانیانو تر منځ په ښه (پاپیروس) لرلو کې شهرت درلود، د یونانیانو او مصریانو تر منځ د سوداګرۍ ښه (مرکز) هم ګڼل شوی.

دغه نوم یونانیانو ته د کتاب (معنا) درلوده او بیا یې د مذهبي دیني کتاب (تورات) مفهوم یې هم ترلاسه کړ. دغه لیک د لومړۍ زریزې په لومړۍ نیمایې کې ډېره پراختیا وموندله، هم په ختیځ او هم په لویدیځو هېوادونو کې دود شو.

په ختیځ کې له فنقي لیک څخه (ارامي) لیک راووت چې کانسونتمي سیستم یې درلود.

د اسیا د قارې ټول لیکونه چې د فنقي – ارامي لیک څخه را منځ ته شوي دي په لاندې ډول دي:

– یهودي لیک او د دغه ډولونه
– سوریاني لیک او د دغه ډولونه
– عربي لیک او د دغه ډولونه
– فارسي لیک

په لوېدیځ کې له فنقي الفبایي لیک څخه یوناني الفبایي لیک منځ ته راغی چې واولي سیستم یې درلود. دغه یوناني لیک بیا د ټولو اروپایي لیکونو لپاره بنسټ شو.

یوناني لیک بیا پر دو برخو وېشل کیږي:

الف: یوناني غربي لیک
ب: یوناني شرقي لیک

د غربي یوناني لیک څخه لاتین، فرانسوي، الماني، انګلیسي، ایټالوي او نورو لیکونه منځ ته راغلي دي.

د شرقي یوناني لیک څخه ارمني، ګورجي، سلاوي، روسي، بلغاري، سربي او د دوی په څېر نور لیکونه منځ ته راغلي دي. یوناني لیک د مسیحي دین په را تګ سره زیات پرمختګ و کړ.

معاصر لیکونه لکه: الماني، انګلیسي، فرانسوي، هسپانوي، پرتګالي، ناروېژي، ایټالوي، ډنمارکي، مجاري، چکسلواکي، سویډني، پولنډي دغه ټول خطونه له لاتین لیک څخه را وتلي دي.

باید یادونه وشي د الفبایي لیک د سرچینې په اړه معلومات یو ډول نه دي، ځینې عقیده لري چې الفبایي لیک لومړی په مصر کي راپیدا شوی، ځینې روایتونه له کلاسیکو لیکوالانو څخه تر لاسه شوي چې په دې ډله کې (افلاطون، دیودور او تاسیتوس )یادولی شو، دوی وایي چې الفبایي لیک لومړی مصریانو ایجاد کړی بیا فنقیانو ترې زده کړ او یونانیانو ته یې وښوده.

خو دغه نظریې له نننی علمي دود سره سمون نه لري،دوی گومان کوي چې مصري فرهنگ ډېر لرغونی دی او انساني پوهه له مصري پوهې څخه اغیزمنه ده.

خو کله چې په (۱۸۲۲م)کال کې (شامپلیون)د (روزیته) ډبرلیک ولوست دا خبره په ډاگه شوه چې مصري لیک له فنقي لیک څخه راو تلی دی.

ډېر لرغونی لوستل شوی فنقي لیک د بابل شاه داهرام د قبر شناخته ده چې پوهانو یې نېټه لومړۍ زریزه بللې ده.

**عربي لیک او د هغه ډولونه**:

لومړنی او لرغونی عربي لیک کوفي لیک دی چې له نورو عربي لیکونو څخه یې سرچینه اخیستې ده. ډېر لرغونی یادگاریې په (۳۲۸م)کال پورې اړه لري چې د (سوریې)هیواد د (انماره) له مانۍ څخه لاس ته راغلی دی. تر اسلام وروسته کوفي لیک ډېر خپور شو چې د نورو ډېرو لیکونو ځای یې ونیو.

د عربي خلافت په پیل کې کوفي لیک په دوو بڼو سره لیکل کېده. یو یې (مبسوط)بلل کېده چې دیني کتابونه پرې لیکل کېدل. بل ډول یې (گرد) چې منځ یې تش وه، کانسونتني اوازي یا الفبایي لیک و، چې له (ارامي ) لیک څخه رامنځ ته شوی دی.عربي لیک په مستقیم ډول له ارامي لیک څخه نه دی راوتلی بلکې له عربي لیک څخه دمخه د نبطي لیک په نامه یو ډول لیک شتون درلود چې له ارامي لیک څخه منځ ته راغلی و.

نبطیان سامي توکمه ولس وو چې په (۵)ق م پیړۍ کې له عربستان څخه فلسطین ته راغلي او په (۲)ق م پیړۍ کې هلته دیو غښتلي دولت بنسټ کیښود، چې د سوریې جنوب لوېدیځ، د سینا ټاپو نیمه برخه او د عربستان شمال لوېدیځه برخه ددوی د دولت تر ولکې لاندې وه.

نبطیانو په تدریج سره ارامي ژبه خپله کړه، په (۲)م پیړۍ کې نبطي واکمنې د رومیانو له خوا ړنګه شوه او خاوره یې لاندې کړه. له دوهمې پیړۍ وروسته عربي متن په نبطي لیک لیکل کیده چې د ارامي ژبې په څیرېې (۲۲) توري درلوده. عربي لیک په (٦)م پیړۍ کې له نبطي لیک څخه راووت.

لرغونی عربي لیک هم له (۲۲) بې ټکو تورو څخه عبارت وه، چې ټول کانسونینټونه وو، واولونه په کې نه ښوول کېدل. وروسته د نومورې لیک ځینې توري چې سره ورته وو له لیکنیز سیستم څخه وایستل شول، یواځې (۱۷) توري پاتې شول یعنې (۵) توري له کارونې څخه پریوتل، پاتې (۱۷) توري د عربي ژبې لپاره بسنه نه کوله، د ټکو ایښودو له لارې (۱۱) نور توري پرې ورزیات شول لکه: (ت، ث، ج، خ، ذ، ز، ش، ض، ظ، غ، ق).

خو بیا هم د واول غږونو لپاره توري په نظر کې نه وو نیول شوي. له همدې امله د لیک په لوستلو کې زیاتې ستونزې وې چې په یوه کلمه کې واول له اټکل سره سم لوستل کېده.

دغه ستونزه هغه وخت لا زیاته شوه چې د اسلام مبارک دین خپور شو، د قرآن کریم د سمې لوستنې اړتیا زیاته شوه، ځکه قرآن کریم پر عربو سربېره عجمي قومونو هم لوسته، په داسې حال کې چې په نورو ژبو کې د قرآن کریم لیکل ناروا عمل ګڼل کېده، نو ددغې ستونزې له منځه وړلو لپاره لنډ واولونه (فتحه، کسره، ضمه) چې حرکات ګڼل کېږي او له اوږدو واولونو (ا، و، ی) څخه ګټه واخیستل شوه. عربي

لیک چې د ټولو سامي ژبو لپاره وړ لیک و، د نړۍ په سلو کې شل وګړي په عربي لیک لیکل او لوستل کوي.

عربي لیک مختلف ډولونه لري چې لیک پوهان یې شمېر (۵٦ – ٦۰) پورې ګڼي. ځینې لیک پوهان دغه بیلابیل ډولونه د ډېل والي، نري والي، لنډوالي او اوږدوالي او ځینې یې د ښایست او ښکلا له مخې لکه: سنبل، زلف او شجر او ځینې یې ډولونه د لیکلو د سبک له مخې لکه: کوفي، نسخ، محقق، تعلیق، شکسته او نورو توپیرونو په پام کې نیولو سره د (۲۸) عربي تورو په بنسټ لیکل کیږي.

د بني امیه د زمانې نومیالی قرآن کریم لیکونکی (قطیبه) نومېده، نوموړي کوفي لیک په څلورو ډولونو لیکه، د عباسیانو په دوره کې ضحاک بن عجلان مشهور قرآن کریم لیکونکي څلور نور ډولونه پرې زیات کړل، همدا راز اسحق بن صحاد هم څلور ډوله ورزیات کړل، چې د عباسیانو د واکمنۍ په لومړیو کې د کوفي لیک (۱۲) ډولونه دود شوي وو.

(ابولاسود دویلي) د څلورم خلیفه علي بن ابي طالب په زمانه کې چې د عربي ژبې د نحوې د علم رامنځته کوونکی هم دی، د عربي کلماتو لپاره حرکات و ټاکل.

### ۱ – کوفي لیک:

لومړنی او لرغونی عربي لیک کوفي لیک دی چې د عربي لیک نور ډولونه ترې راوتلي دي.

کوفي لیک په پیل کې د (حیري) لیک په نوم یادېده چې (حیره) ښار ته یې نسبت ور کړل شوی وه.

کله چې مسلمانانو (حیره) ته نږدې د (کوفې) ښار جوړ کړ نو د (حیري) لیک نوم په (کوفي لیک) بدل او واوښت. د کوفي لیک لرغونی یادګار چې تر اوسه لاس ته راغلی په (۳۲۸م) پیړۍ پورې اړه لري دا یو ډبر لیک دی چې د (سوریې) له (انماره)

ماڼۍ شخه پیدا شوی دی. کوفي لیک د اسلام مبارک دین تر خپرېدو وروسته ډېر خپور شو، ډېر نور لیکونه یې له منځه یوړل او په خپله یې د هغو ځای ونیو. د عربي خلافت په دوره کې کوفي لیک په دوه ډوله لیکل کېده یو (مبسوط) او بل (گرد) چې منځ یې تش و. په لومړي ډول باندې دیني کتابونه لیکل کېدل او په دوهم ډول باندې مکتبونه لیکل کېدل. په پیل کې یې ټکي او حرکات نه درلودل، همدغو نیمگړتیاوو د کوفي لیک متن لوستل له ستونزو سره مخامخ کړ، په ځانگړي ډول هغه وخت چې عربانو نور خلک تر خپل واک لاندې راوستل، د دې ستونزې د لرې کولو لپاره (فتحه، کسره، ضمه، تنوین) اختراع کړل. حرکتونه په پیل کې په تورو باندې د ټکو په بڼه لیکل کېدل لکه فتحه د توري په سر باندې ټکی، کسره تر توري لاندې ټکی، ضمه د توري منځ کې د ټکی او تنوین په دوو گردو ټکو سره لیکل کېده. زیات تفصیل یې په عربي لیک کې راغلی دی.

**۲ - محقق لیک:**

محقق د (م) په ضمه او د لومړي (ق) په فتحه حقیقت ته د رسېدو معنا لري. محقق لیک له کوفي لیک شخه جوړ شوی، ځینې پوهان په دې باور دي چې محقق لیک ابن مقله اختراع کړی ولې دا خبره اوس علم ثابته کړې ده چې محقق لیک تر ابن مقله دمخه هم شتون درلود ابن مقله یوائې بشپړ کړی دی. دغه لیک د عباسیانو په دوره کې رامنځته شوی، محقق لیک تر کوفي لیک اسانه دی او ښکلی ښکاري، ټول توري په بشپړ ډول لیکل کیږي پیچلتیا نه لري.

**۳ - ریحان لیک:**

د ریحان معنا ښکلا ده. دا چې دغه لیک هم ښایسته او هم ښکلی دی ځکه ورته ریحان وایي. دغه لیک له محقق لیک سره ډېر ورته لیک دی چې له محقق لیک شخه رامنځ ته شوی دی. ځینې پوهان وایي چې نوموړی لیک

دابن مقله ایجاد دی، خو دا خبره ثابته ده چې ریحان لیک تر ابن مقله مخکې هم شتون درلود او ابن مقله یوازې دغه په بشپړولو کې مرسته کړې ده. دغه لیک دعباسیانو د خلافت په دوران کې رامنځ ته شوی او پراختیایي مونډلې ده. دځینو لیک پوهانو په اند دریحان لیک نوښتګر (ابن بواب) دی. ثلث لیک ورو ورو دریحان لیک ځای ونیو، داچې له یوې خوا ددوی تر منځ ورته والی زیات و او له بلې خوا ریحان لیک زیات وخت او کاغذ ته اړتیا درلوده، نو ځکه ثلث لیک دریحان لیک ځای ناستی شو او ریحان لیک له رواجه پرېووت.

**٤ – ثلث لیک:**

د ثلث لغوي معنا (یو پر درې) ده، د قلم د (نوکې) دریمه برخه په لیکلو کې کارول کېږي چې دایرې او دور ته میلان لري، ثلث لیک د عباسیانو د خلافت په دوره کې ایجاد شوی، نوموړی لیک د ثقیل او خفیف ډولونه لري، ثقیل یې د (۷) ټکو په اندازه وي او حفیف یې د (۵) ټکو تر کچې غټوالی لري. ثلث لیک ډېرې ستونزې هم درلودې، لکه ځینې نښې یې یو له بل سره دومره ورته وي چې توپیر یې نه کېده دا کېدای شي د تېروتنو سبب شي. توقیع، رقاع،عبار او مسلسل د همدې لیک بېلابېل ډولونه دي.

**۵ – توقیع لیک:**

د توقیع معنا امضا کول دي خو په پیل کې یې دلنډې غونډلې معنا درلوده چې پر امر او فرمان باندې د خلفاوو له خوا لیکل کېده چې معمولاً د خلیفه په وینا او د منشي په امضا پای ته رسېده او د دغه مامور انشا ګڼل کېده چې د خفیفه تر څنګ به ناست او لیکنې به یې کولې او دربار ته راغلي لیکونه به یې لوستل. دغه منشیان او لیکونکي ډېر لایق او هوښیار خلک ګڼل کېدل،

ډېري ښې او لنډې غونډلې به يې کارولې. د توقيع ليکونکو په ډله کې (جعفر برمکي) و چې د هارون د دربار تو قيع ليکونکی ګڼل شوی. دده د توقيع هره ليکل شوې ټوټه په يوه درهم خرڅېده. څلور واړه خفيفه ګان د توقيع ليک ليکونکي ګڼل شوي دي. دوی خپلو منشيانو ته د توقيع په ليک د ليکنې سپارښتنه کوله. د توقيع د ليک مضمون قرآن کريم، حديثونه، حکيمانه نصيحتونه او ورمونه وو.

**۶ - نسخ ليک**:

ددی خط پيدا کوونکی تر اوسه معلوم نه دی، خو ځينې پوهان ابن مقله د دې ليک موجد ګڼي، دوی ګومان کوي چې دغه ليک ابن مقله له ثلث څخه جوړ کړی دی، خو ځينې پوهان بيا وايي چې تر ابن مقله دمخه هم نسخ ليک شتون درلود او له ثلث ليک څخه جوړ شوی دی، بلکې له محقق ليک څخه راوتلی دی. ويل کيږي چې د ابن مقله تر وخته پورې د نسخ ليک نوم نه دی کارول شوی. ابن مقله او ورور يې عبدالله ورته د ليکلو قانون جوړ کړ. دا چې ابن مقله په عباسي خلافت کې د وزارت دنده درلوده، ځکه يې ليک ژر دود شو او د نورو ليکونو ځای يې ونيو. د نسخ ليک د ژر خپريدو بل لامل د دې ليک د لوستلو ساده والی وو. په نسخ ليک کې توري په بشپړ ډول په يو تناسب سره ليکل کېدل، دا چې دغه ليک ژر خپور شو او د نورو ليکونو ځای يې ونيو، نو ځکه ورته نسخ ليک (منسوخ) کوونکی وايي. د نسخ ليک څخه د آثارو په چاپ کې هم کار اخستل کېده. د ابن مقله د ليکلو بڼې (سل کاله) دوام وکړ. د مصر واکمن لومړي فواد وغوښتل چې په عربي ليک کې هم ټکي، کامه، پوښتنه، خطابه او نور وکاروي، په غټو تورو ليکل چې د ځانګړو نومونو او جملو پيل وربانديې ليکل کېده بيا هم په نسخ ليک کې

بدلون رامنځ ته نه کړ. په (۱۹۲۹م) کال کې استاد محمد افندي د غتو تورو د لیکلو طریقه اختراع کړه چې د (تاج) د تورو په نامه یادېده، د تورو بڼه یې تاج ته ورته وه. نسخ لیک تر زرو کالو زیات عمر لري.

**۷ – تعلیق لیک**:

د دې لیک بنسټ هم عربي لیک دی چې د اوستایي او پهلوي لیکدودونو تر اغېزې لاندې وو چې (۱۰م) او (۴ه) پېړۍ یې د ایجاد زمانه ده، ځینې د دې لیک رامنځ ته کوونکي خواجه ابوالعلي او ځینې بیا حسن فارسي بولي. تر (۱۴م) پېړۍ پورې په پراخه توګه یې دود درلود، کتابونه پرې لیکل کېدل. تعلیق ورته ځکه وایي چې د (توقیع او رقاع) تر منځ دی. احمد بن علي شیرازي او ځینې نور په تعلیق لیکلو کې استادان ګڼل شوي.

**۸ – نستعلیق لیک**:

دغه لیک د (۱۴م) او (۸هـ) پېړۍ په پای او د (۱۵م) او (۹هـ) پېړۍ په پیل کې رامنځ ته شوی، ټول لیک پوهان د دې لیک رامنځته کوونکی میرعلي تبریزي ګڼل شوی دی. نستعلیق لیک د نسخ او تعلیق لیک له ګډون څخه جوړ شوی دی. د دې لپاره چې نسختعلیق ویل ګران و، نو ځکه د (خ) توری ترې لرې شو او په دې ترتیب په نستعلیق بدل شو. نستعلیق دوه ډوله درلودل: لومړی ډول یې په افغانستان کې دود شو او هغه د جعفرې تبریزي له دود څخه عبارت و.

دوهم ډول یې په عبدالرحمن خوارزمي پورې اړه درلوده، نستعلیق د عبدالرحمن سبک د ایران په جنوب غرب کې یو څه دود شو او تر لږ څنډ وروسته افغاني ډول یې رامنځ ته شو، هر استاد یې ځانته ځانګړی سبک درلود. سلطان علي مشهدي وایي:

نسخ تعلیق گر خفی و جلی است
واضع الاصل خواجه میرعلی است

**۹ – شکسته نستعلیق لیک**:

د دې لیک مخترع د (۱۷م) پېړۍ شاعر شفیعا ګڼل شوی، خو له اسنادو څخه داسې ښکاري چې شفیعا شکسته لیک له مرتضی قلي څخه زده کړ، سره له دې بیا هم شفیعا شکسته لیک ډېر ښکلی لیکه. عبدالمجید تالقاني د (۱۷۷۲م) کال کې دغه لیک ته ډېر خدمتونه وکړل ځینې څېړونکي وایي: چې تر عبدالمجید تالقاني شکسته نستعلیق بل چا دومره ښه ښکلی نه دی لیکلی.

**۱۰ – دیواني لیک**:

دا د عربي لیک یو ډول دی، چې د دې لیک پیداکوونکي د عثماني ترکیې منشیان ګڼل شوي او سرچینه یې تعلیق لیک بلل شوی، ځکه ورته تعلیق دیواني لیک وایي، دیواني لیک د لومړي ځل لپاره مشهور خطاط ابراهیم منیف د (۱۵م–۹هـ) پېړۍ په دویمه نیمایي کې ترتیب او وضع کړ. دیواني لیک په دوه ډوله دی، یو یې (خفي) او بل یې (جلي) نومیږي. د دیواني لیک پر دواړو ډولو باندې د سلطان فرمانونه او درباري کارونه کېدل. دیواني لیک ته سپیڅلی او همایوني لیک هم ویل کېده. په خفي دیواني لیک کې حرکتونه (فتحه، کسره، ضمه) نه لیکل کېدل. په جلي دیواني لیک کې ټول حرکات او ټکي جلا جلا په وړ او ښکلي ډول سره لیکل کېدل. ټکي که یو یا دوه وو په څلور کنجه بڼه لیکل کیدل او که درې ټکي وو نود (Y) رومي په بڼه لیکل کېدل. د دیواني لیک اول استاد او خطاط په

(۲۰م) پیړۍ کې عرب مصطفی بیک غزلان و چې په (۱۹۳۸م) کال وفات شوی د مصري واکمن لومړي فواد د دربار منشي و.

**پایله**:

د لیک پیدایښت د انسان له ژوند سره نه بېلېدونکی ذاتي پیوند لري، د انساني ټولنو له پرمختګ سره سم پر مختللی دی چې اوسنۍ بڼې ته یې ځان را رسولی دی. لیک د بشري تمدن او پرمختګ لومړنی ګام بلل کېږي، ځکه چې انسان د لیک په وسیله خپل ذهني او فکري انځور، شخصي تجربې او زده کړې نورو ته لېږدوي.

د لیک د ارزښت او اهمیت لپاره دا خبره بسنه کوي چې د نړۍ پوهانو د لیک پیدایښت او اختراع له دورې څخه دمخه دور ته قبل التاریخ او له هغه څخه وروسته دور ته تاریخي دور ویلی دی. د ځمکې په کُره کې د نړۍ د لیکنیزو څلورو پرمختیایي پړاوونو څخه وروسته الفبایي لیک د دوهمې زریزې په دوهمه نیمایي کې فنقیانو ایجاد او اختراع کړ، چې د بشر په تاریخ کې له سترو بریاوو څخه ګڼل کېږي او د نړۍ په لوریې د علم او پوهې لار پرانیسته. یو لاتیني متل دی چې وایي: خبره الوزي او لیکنه یې پاتې کېږي.

له دې متل څخه مقصد دا دی چې د انسان فکري او معنوي فعالیتونه د یوې ټاکلې ژبې د الفبا په واسطه د یادګار په ډول پاتې کېږي او په خپله ژبه مري.

**اخځونه**:

۱ – اورمړ، خلیل الله: مقدمه بر زبان اوستایي، کابل، مطبعه نبراسکا، ۱۳۹۲ المریز کال.

۲- اورمړ، خلیل الله: دژبې د تحول تاریخ (PHD) پرگرام، کابل، کابل پوهنتون، پښتو څانګه، . ۱۳۹۲ لمریز کال.
۳- حبیبي، عبدالحی: تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان، کابل، اکادمي علوم، ۱۳۵۰ لمریز کال.
۴- رشاد، عبدالشکور: د پښتو پخوانۍ الفبا، کندهار، علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۸۷ لمریز کال.
۵- زیور، زرغونه: لیکدود پوهنه(PHD) پروګرام، کابل، کابل پوهنتون، پښتو څانګه، ۱۳۹۲لمریز کال.
٦- هیوادمل، زلمی: د فرهنګ تاریخ (PHD) پروګرام، کابل، کابل پوهنتون، پښتو څانګه، ۱۳۹۳ لمریز کال.

پوهنیار ظفر خان

## په پښتو ادب کې د ازاد شعر ارزښت او پیدایښت

دپښتو شعر له بل هر وخت نه زیات له ۱۹ پیړۍ نه راهیسې نه یواځې دمحتوا او مضمون لـه مخې د سترو بـدلونونو شاهد دی، بلکې دبڼې پـه لحاظ یې هـم یـو شمېر ښکاره بدلونونـه منلي دي چې پـه دې برخـه کې بیـاهم تـر ټولودمخـه (ازادشـعر) چې ځینې یې نوی یا اوسنی هم بولي او په کوزه پښتونخوا کې دازادنظم او معری نظـم نـوم ورکوي ښکلې څیره راد مخه کېږي.

ترکومه ځایه چې معلومات په لاس کې دي که څه هم پښتوشعر لـه خپـل پیـل څخه تر اوسه د یو ځانګړي ملي او نسبتاً ازاد وزن لرونکی دی، خو ازاد شعر دوخـت د جـدي غوښـتنو پرېنسـټ نـه یـواځې پښـتو ادب تـه، بلکـې دري او اردوادب تـه هـم لـه لویـدیځې نـړۍ څخـه پـه تقلیـد راغلـی دی، پـه اروپـایې ژبـو کـې دوه ډولـه شـعر زیـاد عمومیت لري چې یوته یې سپین شعر ( Blank verse ) یعنې ازاد وزنونه اوبـل یـې ازادشعر ( Free verse ) یا ازاد بیتونه بولي، خو د دوی په څنګ کې یو بل ډول شعر هم رواج لري چې هغه ته منثور ( Poetic Prose) وایي.

د پورتنیو ډولونو د توضیح په لړکې باید ووایو د منثور شعر او ازاد شعر پولې لږ څه سره نږدې دي که څه هم منثور شعر، شعر نه دی، بلکې داسې کلام دې چې د معنا دبیان او په ذهن کې د اغیزې د څرنګوالي؛ یعنې د انفعالي حالت د ایجاد له امله شعر ته ورته کېږي، خود بڼې له مخې نږدې دی، یعنې د غږونو په اجزاو کې یې نظم او تناسب نه شته؛ مګر ازاد شعر چې د ۱۹ پېړۍ په پای کې په اروپایي ادب کې را څرګند شو، لـه یـو ډول موسـیقیت نـه بـر خمـن دی وزن لـري او پـردې سـربېره د شـعر اصـلي خصوصیات یا اصلي جوهر په کې نغښتی دی .

په ازاد شعر کې د معنا او تال تـرمنځ کـټ مټ هغـه رابطه ایجادېږي چې د لفظ او معنا تر منځ باید ایجاد شي نو ځکه ازاد شعر د مقفا هغه په شان موزون دی، خو وزن یې د شعر په ټولو برخو کې یوشان ته نه وي، یعنې وزن بدلون مومي لنډه داچې د منثور او ازاد شعر تـر منځ تـوپیر د شعري تلازماتو د پیژندلو لـه مخې کېدون مومي. پـه دې هلکه استاد روهی داسې وایي :

ددغو دواړو ډولو ترمنځ د توپیر معیار شعریت دی څرنګه چې پـه ازاد شعر کې فني او ظاهري خصایص نه شته او کـه وي هم د نظم پـه اندازه نـه وي، نو بایـد د شعر د پیژندلو لپاره د شعر معنوي عناصر وپیژنو.

د شعر معنـوي عناصر عاطفـه، مفکـوره او تخیـل دي، د تخیـل ( ایمـاژ – ذهنـي انځـور ) عمـده لـوازم تشـبه، مجـاز، کنایـه او اسـتعاره دي، کـه هـر څـومره پـه نثـر کـې د تخیل برخه زیاته وي په هماغه تناسب یې شعریت هم زیات دی. پـر دې سربېره ازاد شعر د شاعرانه نثر په نسبت یوډول اهنګ لري کـه څـه هـم دغـه اهنـګ پـه متریـک ډول، یعنې تقریباً عروضي نه وي.

اوس راځـو سـپین شعر ته چې زموږ ځینو لیکوالو له ازاد شعر سره ورتـه بللی دی، خو د دې شعر له ځانګړنو څخه داسې ښکاري چې زیات مقفی شعر ته ورتـه وي، ځکـه

په دې شعر کې بحر او وزن لازمي ګڼل کېږي، خو قافيه نه لري، تحقيقاتو څرګنده کړې ده چې دغه ډول شعر زيات له ډرامو سره جوړېږي.

د پروفيسور فيض الله (منصور) په قول سپين شعر په انګريزي ادب کې د ډرامو له ابتدا نه شروع کېږي. شرقي ادب کې د دې تاريخ ډېر وختي او مثالونه يې په ويدونو او تورات کې موندل کېږي، د دې يو ښکلی مثال د کلام پاک او احاديث په شکل کې هم شته. مقفی او مسجع نثرونه د دې مثالونه دي، خو ازاد شعر ځانته يوه جلا قسم شاعري ده چې موجد يې يو فرانسوي شاعر او محرک يې جنسي جذبات وو.

وروسته دا آزاده شاعري په يورپ کې خوره شوه بيا اردو ادب ته را ګډه شوه په ازاد شعر کې محض زيرا او بم خيال ساتل وي نور مخصوص قيود او متشکل صورت نه لري.

له پورتنی وينانه په جوته ښکاري چې سپين شعر او آزاد شعر يو تر بله زيات توپير لري او نه بايد زموږ د ځينو ځيرونکو په عقيده دغه دواړه ډوله شاعري سره ورته وبللی شي. (۱)

دکتور پوهاند مجاور احمد زيار بيا سپين شعر داسې را پيژندلی دی: دا داسې شعرونه دي چې وزن لري او قافيه نه او په رتميک ډول د ډېرو ټوټو شوېو بيت جملو په بڼه کښل کېږي چې زياتره له درې نه تر څلور اهنګي لوړتياوې لري بې له دې چې په بيلابيلو بندونو ويشنه مومي. د پښتو سپين شعر پر رښتينې توګه له اروپايي نا پيلي يعنې (منثور) شعر او يا له پارسي شعري اډانو يا انځورنو سره سمون درلودای شي.

پارسي (شعر سفيد) هغه ډول شعر بلل شوی دی چې د خليل بن احمد له عربي عروضو (مفاعيلو) سره تلل کېدای شي، بلکې د پښتو ازاد شعر غوندې يې تول او تال د خجونو (ضربو) له مخې سمباليږي.

موږ په پښتو ادب کې لکه چې وویل شول د سپین شعر نومونه یوائحې او یوائحې د شعري اډانې لپاره کاروو، اډانه یا انځور د ازاد شعر په خلاف کوم تول وتال نه لري، بلکې په ډېرو لنډو او یو څو جملو کې یو ښکلی انځور سېمبول اویا استوره را اخلي اوفکري محتوا یې هم ډېره لوړه وي، خو په زړه پورې کېدای شي چې له یو څه اړتیا او تول وتال سره پر آزاد شعربدله شي او که اړتیا هم ونه مومي او وزن یې ور برابرشي بیا نو اډانه یا سپین شعرنه، بلکې آزاد شعر بلل کېږي، د سپین شعر انځور یا اډانې (طرحې) یوه بیلګه:

ما پرېږده چې

ستا دمخ په باغ کې وغورېږم
او هم ستا د سینې ګل شم
( دکتور زیار، اور او وینې (۱۱۲) مخ)

که سپین شعر همداسې بې توله وتاله ارتتیا ومومي بیانو په تکل (داستاني اډانه) اویا ادبي ټوټه نومول کېږي، د ځینو لیکوالو او په دې لړ کې د محمد دین ژواک دغه رازیو ګڼ شمیر بې تول او تاله ناپیلې ټوټې بیا نه په تکلونو کې راځي اونه په سپینو شعرونو کې، بلکې که ادبي ټوټه یو ژانر ومنو، نو په همدغه ژانرپورې به اړه ولري.

هغه څه چې په اروپایي ژبو کې آزاد شعر بولي د پښتو له نیم آزادو شعرونو سره او بیاآزاد و کالبونو سره سمون خوري؛ لکه زموږ دیو شمیر شاعرانو یولړ شعرونه چې په خپله خوښه یې ځانته یو ډول یا بل ډول کالبونه په کاراچولي دي، هر بند یې له یوڅولنډو او یوې یا دوو اوږدو مسرو څخه رغښت مومي او لږوډېر له قافیو او ردیفو څخه هم کار اخلي یا یې لږ ترلږه دبندونو پایلې په هم قافیه مسرو پای ته رسیږي.

په اروپایي نومونو کې بیا دغه راز خپل خوښي آزادو قالبونو ته آزاد بیتونه وایي چې یو آلماني پوه (اوتوبسېټ) د دغه راز شعرپیژندګلوي داسي کوي: هغه ډول شعر چې د مسرو یا ټوټو اوږدوالی یې په خپله خوښه وي، مګر له یوراز قافیې او څپیز شمیر سره، چې «ګلیرت،لیسنګ،ویلاند» یې استازي دي را وروسته دغه راز شعرد څپو برابري هم له لاسه ورکوي اوله آزاد وزنی یا «سپین شعر» سره یې یوائځې په قافیه کې بیلتون رائځي. په پښتو کې د دغه راز نیم آزادو شعرونو بیلګې دادي :

زلفې چې ول ول شي خوخپل یار لره کنه
توره چې تیریږي خو ګوزار لره کنه
خوشحال خان خټک

اویا دا نمونه :

کله به راشې برهند براته
کله به کښینې ماته مخ راته
څو ته را درومې په کې ډیوې بـدي
غم به کا خونه د«حمید» میراته.
(حمید «۴۱۱» مخ)

مخکې له دې چې بشپړ آزاد شعر ته راوګرځو وبه ګورو چې مونږ یا سره پرې کړي شعرونه کوم شعرونه دي چې د او سنیو آزادو شعرونو په ترڅ کې هلته او دلته ځینې مونږی بیلګې لیدل کیږي.

زیار صاحب داشعرونه داسې معرفي کړي دي: هغه ازاد شعرونه چې قافیې ونه لري او نور مسره ییز او سلابوتو نیک انډول یې برابر وي دا ډول شعرونه دقافیې ماتونې او ازاد شعر له لومړنیو بیلګو څخه ګڼل کیږي، مګر دا چې د مسرو،خجو او څپودیوه

برابر انډول له کبله ورته بشپړ آزاد نظم یا شعر ویلای نه شو اوسم دلاسه پرې « مونډی » نوم ږدو لکـه واخلی. د صاحب زاده ادریس، امین الحق «امین»، ایوب صابر، د سایل ځینې بیلګې دعبدالرحمن پـژواک کلمـه داره روپـی. د (۱۳۱۷) هـ. ش کـال لیکنه او یا د بهاووالدین «مجروح» د ځانځاني ښامار ځینې برخې چې په آزادو کـالبونو پورې اړه نېسي . د مونډی شعر بیلګه:

لمر و، نوی څرک وهلی
د درو او غـرو له څنډو
پـــلوشې یې بریښولـې
لکه زر واورینې څوکې
( زیار، سوزونه اوسازونه«۲۲۳»مخ ) ( ۲ )

د سـپین او مونـډي شـعرونو پـه هکـله خبـرې وشـوې دآزادشـعریو بـل ډول آزاده منظومه ده چې یوه اوږده موضوع او پیښه انځوروي دا فورم داستاني بڼه لري په پیښه کې نورې پیښې هـم انځوروي، پـه پښـتو کـې دا ډول منظـومې هـم ډیـرې دي اوس دې دریـم ډول بشپړ آزاد شعر، په هکله بحث کوو.

استاد نورمحمدسهیم لیکلي دي: پښتو آزاد شعر په درې پړاوو کې په درې رنګه تر ستر ګو کېږي: یوهغه ډول آزاد شعر دی چې قافیـه بالکل پـه کـې غورځیـدلې وي. دوهم هغه آزاد شعردی چې په خپلـه آزادۍ کـې قافیـه هـم ساتي او دریـم هغه رنګه آزاد شعردی چې قافیـه پـه کـې غورځیـدلې خـود سیلابونو لـه مخې معین قیـد پـه کـې تـر ستر ګو کېږي. دآزادوشعرونو په دغه پړاو کې چې په یو روایت دروانې پیړۍ په دوهمه څلورمه او په بل روایت پـه وروستۍ نیمايي کـې راپیـل شـوي دي دقافیې د پریښو دلو پـه څنـګ کـې د شـعر تـول اوتـال او دغـه راز خیـالي انځـور هیڅکلـه لـه پامـه نـه دی غورځیـدلی او هڅه شوې شعر په خپلـه آره معنا پـه آزاده بڼه کـې وړانـدې شـي. پـه بره

پښتونخوا کې د دې شعر ښه نما ينده ګان (لايق، بينوا، زيار، مجروح، پيوند، تنګيال، مستان، سنګروال، لاهو، ليوال، فردا ملال اوداسې نور) دي او په لره يا کوزه پښتونخواکې د (سيدرسول رسا، ايوب صابر، اجمل خټک، اشرف مفتون، قلندر مومند، سليم، طاير، مجذوب او نورو) شاعرانو نومونه يادولای شو.

اوس به دايوب صابريعنې د دغه شاعر چې په لرى پښتونخواکې د دې ډول شعر لومړنی بنسټګر بلل شوی دی له ژوندي قلم نه د يو مړي فرياد واورو: دلومړي ډول آزاد شعر بيلګه:

چې ژوندی وم اولسونو دا مقسوم دی
په خپل کور کې چې هر چاته ښه معلوم دی
په تياروکې اوسيدمه دی زما دوطن خاورې
اوس چې مړيم دا تيارې چې له مهد نه
زما قبر ترلحده پورې راغلې
له ډيو ځينې محروم دی تر آبده خوبه نه وي
يوزه نه يم
دکروړونو
(ايوب صابر، جيګر خون. ۱۰۱ مخ)

په پښتو ادب کې دآزاد شعر دوهم ډول چې په خپله آزادۍ کې قافيه هم ساتي لاندې بيلګه راوړو:

پر دې تياروکې
په اوږدو شپوکې
په دې غموکې
په انديښنو کې

زړه ته مې رسي يوه نوې هيله
روښانه ښکاري دسبا ښه
(لایق، يادونه اودرمندونه، ۱۶۷ مخ )

خو په آزاده شاعرۍ کې دريم ډول چې په پښتو آزاده شاعرۍ کې يوائځنى اوځانګرى سبک بلل شوى دى، دپېژواک په کلمه داره روپۍ او دمجروح دځانځاني ښامار په ترڅ کې را تر سترګو کېږي. د دې آزادې شاعرۍ دغه ډول يا دا چوکاټ لکه څنګه چې په خپله مجروح صاحب وايي د «نوى شعر» قالب لري، خود اوسنيو نويو شعرونو تقليد نه دى، بلکې د دې چوکاټ له جوړښت څخه الهام اخيستل شوى دى په دې شان دښامار سبک داسې يو سبک دى چې هم داوسنۍ نړۍ دنوي شعر ښه لري او هم د پښتو ژبې په ليکلي او شفاهي ادب کې پخې ريښې لري که څوک د ټکو خج او دعباراتو صحيح تلفظ ته دقت وکړي نو دا مجموعه به زياته ديو ساده روان او آزاد شعر په شان ولوستلاى شي. اوس به را شو د دې ډول آزاد شعر بيلګو ته لومړى به د بينوا د (کلونو رنځور ) تر عنوان لاندې ډرامه وګورو:

هاخوا دې خوا
غځيدلي هسک دنګ غرونه
ښکلوي دآسمان شونډې
په سرولي په کې سپينې سپينې واورې
پټ په زړو کې يې لعلونه
شنې تالۍ شنې يې لمنې وي دسرو غاټولو ډکې
(مجروح، ځانځاني ښامار، ۳مخ)

بله بيلګه په(۱۳۳۷)کال کې خپره شوې دا ډرامه دى:

غرزی: خبره داده چې ما
سبا جګړې ته لیږي
د انګریز جنګ نښتی
که هلته ووژل شم
او تاؤنه وینم زه
آرمان په زړه به لاړشم
(پژواک، کلمه داره روپۍ، ۵ مخ).

زموږ په ادب کې آزاد شعر د زیاتو دوستانو په څنګ کې زیات شمیر مخالفان هم لري او هغه دایوب صابر خبره ځینې مفکرین داسې اظهار کوي چې ګڼې ازاد شعر د آسانتیا یا آسان خوښۍ پیداوار دي کوم خلک چې مقفي نظم نه شي لیکلی او په هغې قادر نه وي نو دا لاریې خپله کړې ده د دغو مفکرینو د دغو څرګندونو په وړاندې بهتره ده چې د پروفیسور نواز طایر چې د دغه راز شعرونو له سختو پلویانو څخه دی او په خپلو شهپاروېې ښه روزلی هم دی هغه څرګندونې را واخلو چې د پیښور راډیو له لارې یې د یوې مرکې په ترڅ کې وړاندې کړې دي:

« ... قافیه د یو مضمون د را غونډولو لپاره یوه ډېره لویه مجبوري ده؛ خو آزاد نظم د یو مضمون د خورولو لپاره یوه ډېره لویه اساني ده په دې وجه زه د دې په حق کې نه یم چې ګڼې ازاد نظم د تن آسانۍ پیداوار دی، بلکې دا په نظم لیکلو او په خپلو خیالاتو کې یو ډېر نوی جدیت دی او یوه ډېره لویه آساني پیداکوي ... زما په خیال آزاد نظم د مقفي نظم له لیکلو نه زیات ګران کار دی، په شرط د دې چې هغه صحیح نظم وي.» (۳)

د آزاد شعر په هکله د ایران فارسي ژبې شاعر او منتقد نادر پور د یوې پارسي مقالې « دو کفه لفظ و معنی در ترازوی شعر امروز » تر سرلیک لاندې داسې اشاره کړې ده:

لومړی باید زیاته کړای شی چې په ایران کې دې آزاد شعر، د پیشنهاد او رواج مخکښ «نیما» دی چې د «افسانه» په نوم منظومه یې د نوي شعر سر فصل ګڼل شوی دی، نوځکه نادرپور وایي: کوم مقام چې «نیما» نن لري دا دې هغه د سم درک او اوسني ضرورت له امله دی چې په شعر کې یې د مسرو د مساوات د قانون د ړنګیدو او د قافیې د شکل د بدلون په رښتني درک سره لاس ته راوړی دی . . . .خو کله چې هغه ویلي وو چې په زړو کالبونو کې د نوو او تازه مفاهیمو، ویینو او مضامینو تازه والی شونی نه دی او په دې خاطر یې د مسرو د اوږدوالي او لنډوالي او د قافیې تغییر ته زمینه برابره کړې وه ؛ دا په هماغه وخت کې د هغه زمان د شعر د مشکلا تو، ممکناتو او د هغه له سویې سره برابره خبره کېدای شی، خوله ده څخه را وروسته شاعرانو لکه حمید شیرازي په قصیده کې او سمین «بهباني» په غزل کې له زړو کالبونو سره سره نوي او تازه مفاهیم او اصطلاحات په موزون او مقفی شعر کې په اثبات ورسول.(۴)

داسې څرګندیږي چې آزاد شعر په ایران کې هم د علاقمندانو تر څنګ یو شمیر مخالفان هم لري چې د هغوی دلایل هم د آزاد شعر د لا کره کېدو لپاره د منلو وړ دي.

په هر حال! په پښتو کې آزاد شعر له یو شمیر مخالفتونو سره سره محبوبیت وموند، وده یې وکړه او لګیا دی، خو زموږ یو شمیر شاعران لا تراوسه داسې فکر کوي چې دغه شعر له هره قیده، آهنګ، قاعدې، وزن، تول او تال نه، آزاد دی دغې لاندې نمونې ته ځیر شیء او له ټولو شعري نزاکتونو څخه یې د آزادۍ ننداره وکړئ:

زه راغلـم
او ته په کور کې نه وې
پوه نه شوم چې چېرته به وې
خو زړه راته پټ پټ
په ګونګه ژبه وویل

ژاړه ! بیاهم ژاړه او بیاهم ژاړه
ماوژړل! ما ښه وژړل او بیا مې هم وژړل
خوګرانې! ته نه وې چې تا
لیدلی وای چې زه څنګه ژاړم .!!!
(دوست شینواری، دادب تیوري، ۳۱۲مخ).

اوداسې نورې په لسګونو بیلګې شته دي بې مناسبته نه ده چې د دغسې بیلګو په لیدلو سره ځینې کسان له آزاد شعر سره د مخالفت بیرغ پورته کړي او هغه ته په هیڅ ارزښت قایل نه شي او حتا د آسان خوښې پیداوارېې وبولي، خو له بل پلوه کله چې د خپل ادب په زرغونه ورشو کې د شعر دا نوي غوریدلي ګلان په خپل تاندوالي کې ښکلي او سمسور وینو نو ورسره جوخت دغه ښه راتلونکې زموږ مخې ته دریږي (۵) په دې تېنګار کوو چې له اوسني بد انګړ او کر غیړنتیا څخه د پښتو شعر دژغورلو لپاره یوائې اویوائې نوی آزاد شعر دی او بس؛ آزاد شعر چې په رښتیا سره د پیړیو-پیړیو او بیا په تیره له اوسني ابتذاله آزاد او نوی وي. د آزاد شعر بنسټ د ولسي یا وګړني لیکنې یا دیواني په شمول پر څپه (سیلاب)، خج (فشاریا آهنګ) ولاړ دی داسې چې له بیلا بیلو غونډونو نه رغیدنه مومي یو غونډ بیا درې نا خجې څپې او یو خج داره څپه لري په همدومره توپیر چې په وګړني او دیواني کې د هرې ټوټې (مسرې) د څپو شمیر ټاکلې اندازه لري کوچنۍ ترینه مسره یې اووه څپیزه او لوی ترینه یې شپاړس څپیزه ده، مګر په اوسني آزاد شعر کې هره ټوټه داصل له مخې تریوغونډ (څلورو څپو) پورې کوچنۍ کېدای شي او په ځانګړو حالاتو کې تر درې څپیز-دوه څپیز او یو څپیز هم لنډیدای شي او تر څلویښت څپیز لوړیدای شي نور پر ته کېدون یې، ځکه نه شته چې په خپله شاعر او بل هر لوستونکی او یا سندرغاړی یې نور په یوه ساه اوبې وقفې د لوستلو او ویلو توان نه لري.

د نوي آزاد شعر ښيګڼې: نوی آزاد شعر د قافيې، رديف، څپيز انډول او نورو راز راز کلاسيکو قالبونو او ځيلونو په کړيو کې ښکېل نه دی او يواځې د پښتو په شعري تخنيک (سيلابو تونيک) سمبا ليږي. د نوي آزاد شعرژبنۍ بڼه لوړه، معياري ادبي ده په نويو لغاتو او ترکيبونو سره کار لري بيځايه تکرار نه په کې راځي او له دې سره له لنډون او سپما څخه کار اخلي، د نوي او آزاد شعرهنري (ښکلاييز) اړخ له هر پلوه نوی پياوړی او زړه راکښونکی وي دلته د نوې تشبيهې – انځورونو تر څنګ پرنويو استعارو ډېر زور اچول کېږي له بله پلوه انځورونې (تمثيل) تخيل، استورو او سېمبولونو څخه هم ډېر کار اخيستل کېږي او په دې توګه په ډېره لږه ژبنۍ جوله کې ډېر څه رانغاړي او له دې پلوه چې کوم لنډون او پيچلتيا را دمخه کېږي له اوسني اصل سره سم د شعر بل اړين شرط پرځای کوي. د اند او منځپانګې له پلوه نوی ازاد شعر تل معمولي نوښتيا لري ډېرې پيچلې پديدې را اخلي او ډېر ژور اړپيچونه د علنيت او عينيت په رڼا کې را نغاړي لومړی به د بشپړ ازاد شعريوه بيلګه وګورو چې نوم يې ده د باران پيغله:

ما وليدله سپينه
خوځيدله
دآسمان په انګوکې
چا ويل د وريځو مور ده
اوس به وژاړي په کوکو
نه پيغله وه د لمر تر سيوري لاندې
چې اوربشت يې خرڅولو. (۶)
فاروق فردا، دګلپاڼو پرخې، ۱۵۱ مخ

بشپړ آزاد شعرهغه شعردی چې په هغه کې يوه ټاکلې موضوع انځوريږي، د

مسرو شمیر او اوږد والی یې مقید او ثابت نه وي قافیه او ردیف په کې مطرح نه وي، البته کله یو نیم ځای د خوند د زیاتون لپاره راځي خو وزن تر اوسه پورې د ازاد شعر په اساسي توکو کې راځي، لکه څنګه چې د ازاد شعر له نوم څخه ښکاري پر یوه ټاکلي او ثابت شکل مقیدنه دی، ازاد شعر د څپو او د مسرو د شمیر او د مسرو د اوږدوالي او لنډوالي له مخې آزاد دی، خو تر اوسه لا د وزن له بنده نه، نه دی ازاد شوی او هغه څپییز خجیز جوړښت چې د پښتو شاعرۍ پر نورو شعري فورمونو تطبیقېږي پر پښتو آزاد شعر کې هم د تطبیق وړ دی او په پای کې د «ګیله » تر سر لیک لاندې د کمال الدین مستان دا ازاد شعر د حُسن اختتام په توګه ګورو :

دا منم چې پرښته یې
د شنه سیوري په رڼا کې
لویه شوې ښایسته یې
مګر ګوره
ما دې څانګو ته
لا لاس در وړی نه و
تا د سرومڼو دغله په نوم رسوا کړم!!! (۷)

**اخځونه**:

اخځونه او هغه مخونه یې چې د لنډیز، کرښو او بیلګو څخه یې په ترتیب سره استفاده شوې ده:

۱ -نور محمد سهیم : په اوسني پښتو شعر کې د نوښت مسئله، د۱۳۶۹ کال چاپ، له ۳۴– ۳۵– ۱۳۶– ۱۳۷ – ۱۳۸ مخونو څخه .

۲ -دوکتور مجاور احمد زیار: پښتو شعر څنګه جوړېږي.؟، ۱۳۶۹ کال چاپ، له ۱۵۲ – ۱۵۴ – ۱۵۵ – ۴۴ – ۴۸ -۹۹- مخونو څخه .

۳ -نورمحمد سهیم: نوموړی اثر، ۱۴۷ – ۱۴۴ – ۱۴۶ – ۱۵۱ – ۱۳۹ – ۱۴۰ مخونو څخه .

۴ -نادر نادر پور: «دوکفه لفظ و معنی در ترازوی شعر امروز»، د سبا وون مجله، د ۱۳۶۸ کال د سلواغې ۲۹ مه پرله پسې ګڼه ۸۰ مخ.

۵ -نورمحمد سهیم: پورته اثر، ۱۵۴ – ۱۵۵ – ۱۵۸ مخونو څخه.

۶ -ډاکټر زیار: پورته اثر، له ۳۵ – ۱۶۵ – ۱۶۶ – ۱۰۷ مخونو څخه.

۷ -پوهنمل محمد اسمعیل یون: د پښتو شعر هندسي جوړښت، د ۱۳۷۷ کال چاپ، له ۸۶ – ۸۸ مخونو څخه.

پوهیالی محبوب شاه محبوب

# د پښتو جملې عروضي ځانګړتیاوې

**سریزه:**

د پښتو ژبې په نحوي چاپېریال کې د عروضي توکو بحث یو ډېر مهم او اړین بحث دی او په کې غوره څېړنې ته اړتیا لیدل کیږي.

که څه هم د نړۍ په ټولو ژبو کې عروضي توکي موجود دي، خو د ګاونډیو ژبو په پرتله دغه توکي په پښتو ژبه کې ډېر او ځانګړی حیثیت دي.

که چېرې د دغو توکو پر ګڼو او معلومولو بحث کوو، نو اړینه ده چې موږ باید یو غږیز لابراتوار ولرو او د همدغه لابراتوار له مخې د دغو توکو ارزښت ښه روښانه او موقعیت یې وټاکو؛ خو له بده مرغه پښتنانه په اوس وخت کې له دغه ډول لابراتوار څخه بې برخې او ډېر لرې پاتې دي.

خج، تون، بېلتون او پیوستون او داسې نور په پښتو جمله کې د جوړښت او معنا له پلوه تغییرات رامنځ ته کولای شي.

همدا راز ګڼو ژبپوهانو اهنګ هم د نثري جملې د یو مهم عروضي توک په بڼه منلی توک دی، مګر دا موضوع په حقیقي ډول نه ده روښانه شوې. له ډېر پخوا راهیسې اهنګ د جملې د یو عروضي توک په بڼه تشریح شوی دی، ښایي لامل به یې دا وي چې په هغه وخت کې په پښتو ژبه کې ژبپوهانو ګڼو لویو مسئلو ته پام کاوه، د اهنګ، لحن او تون تر منځ یې توپیر ته ډېر پام نه دی شوی.

دا او دې ته د ورته مسایلو تشریح به په دغه مقاله کې ولولئ.

**موخه**:

د دغې مقالې له لیکلو څخه مو موخه دا ده چې په پښتو جمله کې د عروضي توکو پر اهمیت او ارزښت پوه شو او هم هغه اختلافي موضوعات چې تر اوسه پورې نه دي حل شوي د حل لارې چارې یې د نوې ژبپوهنې په رڼا کې وړاندې کړو.

هڅه کوو چې په دغه مقاله کې هغه ګډوډۍ او بې نظمۍ چې د عروضي توکو د تشریح په برخه کې رامنځ ته شوي، سمې او د علمي دلایلو پر بنسټ داسې تیوري وړاندې کړو چې ټولو ته د منلو وړ وي.

**موضوع**:

کـه چېرې هم مورږ د عروضي توکو خبره کوو، نو حتمي به مو ذهن د یوه جوت ګرافیم په لټه کې وي، مګر دا توکي ګرافیمونه نه لري.

د فونولوژي دغه برخه د سوپراسیګمینټل په نوم ډېره مشهوره شوې، خو ځینې ژبپوهانو ورته د مقطعیي، نازنځیري او عروضي فونیمونو نومونه هم ورکړي دي.

*ایا عروضي توکي فونیمونه دي؟*

دا هغه پوښتنه ده چې د پښتو ژبې د ګڼو زده کوونکو په ذهنونو کې به ګرځي، خو مخکې له مخکې ورته ځینې ژبپوهانو ځواب ورکړی او دا ډله

توکي يې په فونيمونو کې حساب کړي دي، خو اصلاً داسې نه ده، که موږ د فونيم تعريف ته ځير شو، نو:

پوهاند مجاور احمد زيار په خپل کتاب پښتو پښويه کې د فونيم د تعريف په برخه کې داسې ليکي:

دژبې تر ټولو کوشني غږيز توک ته وايي، چې په خپله کومه معنا نه لري، مګر په معانيزو توکونو کې معانيز توپير پېښوي؛ لکه (ت) که په تور کې راشي يوه معنا لري او که چېرې د(ت) فونيم په (پ)بدل شي پور ځينې جوړيږي.

پوهاند زيار ځانګړو فونيمونو ته چې د شکل او غږ لرونکې وي، د زنځيري يا سيګمينټل ويونو نوم ورکړی او عروضي توکونو ته يې نازنځيري نوم ورکړی.

خو زموږ اصلي مطلب په عروضي توکونو کې دی، دا سمه ده چې عروضي توکونه به په نحوي يا صرفي چاپيريال کې معانيز تغيير رامنځ ته کوي، خو دا تغيير په ځانګړې توګه نه شي رامنځ ته کولی.

خو د فونيم په تعريف کې موږ وايو چې دژبې تر ټولو کوچنی غږيز او نامعانيز واحد دی، چې په خپله کومه خاصه معنا نه لري، مګر په صرفي چاپيريال کې يې تبديلي معانيز تغيير پېښوي؛ خو دا تغيير به داړوند فونيم د شکل او غږ تغيير وي، يعنې ځانګړی لوښی به لري؛ خو عروضي توکي يو بل فونيم ته اړتيا لري، چې بايد د هغه پر بنسټ خپله اغيزه وښيي.

نو ويلی شو چې عروضي توکي له فونيمونو جلا ځانګړ تياوې لري او هېڅکله يې په يوې کټګورۍ کې نه شو راوستلای.

## عروضي توکي:

### لومړی: خج:

پـر وییونـو، فونیمونـو او یـا هـم څپـو بانـدې د ځـانګړي فشـار وارېدېـدلو تـه خج وایـي. د پښـتو ژبې پـه نثر او نظم کې خج یـو لـه هغـو مهمـو توکـو څخـه دی، که چېرې ونه اوسي ښایي جمله له معانیز پلوه جوړه نه شي.

خـج کـوم ځـانګړی غږیـز لوښـی نـه دی، چـې پـر خپـل جسـمي تغییـر سره د کلمې پـه معنـا کـې تغییـر راولـي، بلکـې خـج یـوه ځـانګړي فـونیم او څپـې ته اړتیا لري چې د هغوی پر بنسټ خپل تاثیر روښانه کړي.

لکـه: ښـکاَري او ښـکارَي. کـه چېـرې دغـه دوه کلمـې سـره پرتلـه کـړو، نـو پـه شـکلي لحـاظ دواړه یـو ډول دي، لـه دوو څپـو او پنځـو فونیمونـو نـه جـوړې شـوي دي، خـو کـه خج تـه یې فکـر وکـړو، نـو پـه لومړی کلمـه کـې دلومړی څپـې پـر وروسـتي فـونیم خـج راغلـی او پـه دوهمـه کـې د دوهمـې څپـې پـر لـومړي فونیم خج راغلی دی چې معانیز تغییر پېښوي.

پـه عروضـي توکـو کـې خـج تـر ټولـو مهـم تـوک دی، چـې پـه نظـم کـې د خپـل ځـانګړي نظـم پـر بنسـټ اهنـګ رامـنځ تـه کـوي او پـه نثـر کـې د خپـل ځانګړي نظم پر بنسټ ځانګړی تون یا لحن رامنځ ته کوي.

### دوهم: اهنګ، تون او لحن:

### اهنګ:

زمـوږ اکثـره ژبپوهـانو تـون، اهنـګ او لحـن د یـوې معنـا لپـاره کـارولي دي. پوهاند زیار په خپل کتاب پښتو پښویه کې د اهنګ تعریف داسې کړی:

اهنګ د زیر او بمې یو ډول دی. دا معنا کله چې ګړهار په بهیر یا اوږدو کې د زیر او بمي پراختیا لمن د غونډلې په کچه وي، زیر و بمي اهنګ بلل کیږي.

همدا راز د تون او لحن په برخه کې هم ورته نظرونه موجود دي، مګر داسې نه ده.

کله چې موږ د نظم خبره کوو او وایو چې د نظم له اساسي توکو څخه یو هم اهنګ دی، نو تعریف یې داسې کوو:

پر څپو د خجونو له منظم تکرار څخه اهنګ رامنځ ته کیږي. د دغه مثال د ثبوتولو لپاره موږ دغه لنډۍ ښه بېلګه وړاندې کولی شوو:

پاس په کمره ولاړه ګله

نصیب د چا یې اوبه زه درخیږومه

که چېرې موږ پورتنۍ لنډۍ ته ځیر شو نو وبه ګورو چې د خج له منظم تکرار څخه اهنګ رامنځ ته شوی او د هرې څلورمې څپې پر سر خج موجود دی.

خو بیا دغې بېلګې ته ځیر شئ:

احمد به کور ته لاړ شي خو بیا

بیا هېڅکله نه راځي، نه به هم راشینه

که چېرې پورتنیو جملو ته وګورو نو لومړنۍ یې نهه سیلابه او دوهمه یې دیارلس ده، خوموږ یې لنډۍ نه بولو، دا ځکه چې د اهنګ تابع نه ده او اهنګ د خج له منظم تکرار څخه رامنځ ته کیږي، چې په پورته جملو کې خج منظم نه دی تکرار شوی.

نو ویلی شو چې اهنګ یواځې د پښتو نظم د عروضي توکو څخه یو مهم توک دی او باید په نظم کې پرې بحث وکړو.

**تون**:

تون په پښتو ژبه کې د جملې د اواز د لوړېدو او ټيټېدو يو ډول ځانګړې جامه ده؛ لکه څرنګه چې خج د پښتو جملې په جوړښت کې حتمي دی، تون هم یو له مهمو توکو څخه دی چې د خپلې ځانګړې جامې له مخې د جملې په معنا کې تغییرات راوستلای شي.

تون په درېوو برخو ویشلی شو:

۱: پوښتني تون: دا تون ټيټ پیلیږي او بیا پورته نیغ پای ته رسي؛ لکه: احمد راغی؟

۲: ګوماني یا تعجبي تون: دا تون ټيټ پیلیږي پورته ځي، خو بېرته ټيټ پای کوي. لکه: احمد راغی!

۳: خبري تون: نورمال پیلیږي خو غورځېدلی پای ته رسي؛ لکه: احمد راغی.

**لحن**:

که څه هم عربي کلمه ده، خو په عربي ژبه کې تقریباً تون ته په ورته معنا کارول شوې ده.

**دریم: بیلتون او پیوستون**:

بیلتون او پیوستون په نحوي چاپېریال کې داسې تعریفیږي، چې د نحوي واحدونو په ځنډاو یا پرته له ځنډه لوستلو ته چې معانیز تغییر پېښوي وایي.

**بېلتون**:

کــه چېــرې پــه نحــوي چاپېریــال کــې دوه نحــوي واحدونــه، دیــو پیــل او د بل پای په ځنډ سره ولوستل شي بېلتون یې بولو.

**پیوستون**:

کــه چېــرې پــه نحــوي چاپیریــال کــې دوه نحــوي واحدونــه، دیــوه پیــل او د بل پای پرته له ځنډه یا پیوست سره ولوستل شي، پیوستون یې بولو.

لکه: پاڅه، مه کښېنه او پاڅه مه، کښېنه

کــه چېــرې لــومړۍ جملــې تــه وګــورو هلتــه د کښېناســتو د منع خبــره شــوې او پــه دوهمــه کــې د پاڅېــدو د منــع چــې دې تغییراتــو بېلتــون او پیوســتون رامــنځ ته کړي دي.

**پایله**:

لــه دغــې مقــالې څخــه دا پایلــه راوځــي، چــې پــه پښــتو جملــو کــې عروضــي تــوکي معــانیز تغییــر پېښــوي او دغــه تــوکي بایــد دیــوه ځــانګړي ارزښــت پــر بنســټ ولوســتل شــي، کــار پــرې وشــي او پــه لابراتــوار کــې و ازمویــل شــي او ځایونــه یې وټاکل شي.

اهنــګ او تــون یــا لحــن ســره بېلابېــل تــوکي دي، چــې اهنــګ یــوازې د نظــم لپــاره اساســي تــوک دی او تــون پــه ټولــو نظمــي او نثــري جملــو کــې رامــنځ تــه کېــدلای شــي یــا پــه بلــه وینــا چــې اهنــګ یــوازې پــه نظــم پــورې اړیکــه پیــدا کــوي او تون په نظم او نثر دواړو پورې.

تــون د وینــا جامــه ده او د یــا د لوســت طریقــه ده، مګــر اهنــګ بیــا د خــج لــه منظم تکرار څخه رامنځ ته کیږي او یوازې د نظم له اساسي توکو څخه دی.

**ماخذونه**:

۱: زیار، پوهاند مجاور احمد: پښتو پښویه. دانش خپرندویه ټولنه. پېښور. ۱۳۸۴ ل کال.

۲: زېور، ډاکتره زرغونه: پښتو نحوه. د ساپې پښتو څېړنو مرکز. پېښور. ۱۳۸۵ ل کال.

۳: شېرزاد، محمد اقا او الکوزی جانداد: نحو. کابل ښوونې او روزنې پښتو څانگه. ۱۳۸۹ لمریز کال.

۴: رښتین، صدیق الله: پښتو گرامر. پښتو ټولنه. ۱۳۴۱ لمریز کال.

۵: تېرې، حبیب الله: نوې ژبپوهنه او ژبنې مسایل. پښتو ټولنه. ۱۳۴۴لمریز کال.

څېړنپوه نصرالله ناصر

# استاد بختاني خدمتګار او پښتو ادبي متون

مخکې تر دې چې د استاد عبدالله بختاني خدمتګار له خوا پر تهیه شوو ادبي متونو څه ووایم، غواړم د سریزې په توګه د ادبي متن د برابرولو او متن څېړونکي په شرایطو د لنډو خبرو په ترڅ کې په افغانستان کې د پښتو متن څېړنې د پیل په اړه د څو ټکو یادونه وکړم.

که څه هم د ادبپوهنې د څانګو د وېش په اړه د پوهانو ترمنځ د نظرونو اختلاف شته، خو زه دلته په یادو توپیرونو نه غږېږم، بلکې په لنډه توګه د ادبپوهنې د اصلي او فرعي څانګو یادونه کوم:

الف) د ادبپوهنې اصلي څانګې:

۱ – ادبي تیوري.

۲ – د ادبیاتو تاریخ یا ادبتاریخ.

۳ – ادبي کره کتنه. (۱)

ب) د ادبپوهنې فرعي څانګې:

۱ – د ادبپوهنې تاریخ.

۲ – متنپوهنه.

۳– کتابپوهنه. (۲)

د متن کلمه په بیلابیلو معناوو اخیستل شوې ده، همدارنګه یې تعریفونه هم سره په توپیر کې دي، خو دلته د ټولو راوړل موضوع اوږدوي، نو ځکه له موضوع سره په تړاو کې وربانديې لنډې خبرې کوم:

د کتاب اصلي نسخه چې له حاشیو او شرحو څخه بېله وي او د کتاب اصلي کلمات چې بل چا بدلون په کې نه وي راوستی، متن ګڼل کېږي. (۳)

ځینې بیا په دې باور دي چې د اصلي عبارت یا د کتاب د اصلي برخې ذکر سم کار نه دی، دا چې د یوه اثر په عباراتو کې هر ډول تبدیلي راغلې وي بیا هم د متن له تعریف څخه نه شي وتلی. بله خبره دا ده چې حاشیې، ضمیمې او شرحې ټول د متن په تعریف کې شاملېږي.

که په لنډو ټکو کې ووایو هره لیکنه متن بلل کېږي، خو یو وخت یوازې ادبي متونو ته متن ویل کېده، چې وروسته متنپوهانو دا تصحیح کړه او اوس ټول هغه آثار چې د هرې موضوع په اړه لیکل شوي وي متن ګڼل کېږي، لکه: تاریخي، فلسفي، جغرافیایي، ادبي او نور... (۴)

متون په عامه توګه دوه ډوله دي:

۱ – منظوم متون.

۲ – منثور متون.

څرنګه چې په ټولو علومو کې د څېړنې بنسټ په متونو ولاړ دی د اطلاعاتو او معلوماتو سترې او عمده سرچینې هم همدا متون دي، نو ځکه یې ارزښت او اهمیت هم له همدې څخه څرګندېږي.

متنپوهنه د متونو د احیاء په اړه څېړنې کوي، یعنې متون راژوندي کوي. دغه پوهنه کله د متن بېلابېل اړخونه، کله د متن لیکوال یا شاعر او د یوه متن د رامنځ ته کېدو تاریخ څېړي. یا په بله وینا:

د متن د تحقیق او تدوین د څرنګوالي د څرګندولو، تصحیح او سمون د روشونو او اصولو مجموعې ته متنپوهنه ویل کېږي.

د دې لپاره چې متون په سمه توګه وڅېړل شي متنپوهانو د متنپوهنې او متنڅېړونکي لپاره ځینې ځانګړنې وضعه کړي دي، چې دلته یې لنډیز وړاندې کېږي:

الف: د متن د څېړنې شرایط:

۱ – د متن لپاره لومړنی او مهم شرط دا دی، چې متن باید لیکلې بڼه ولري او شفاهي نه وي.

۲ – د متن لپاره د لنډوالي او اوږدوالي قید نه شته.

۳– په متن کې چاپي او خطي نسخې دواړه شامل دي.

۴ – متن باید معنا ولري، بې معنا متن نه څېړل کېږي.

۵– د متن لپاره د زمان او مکان قید نه شته. (۵).

ب: د متنڅېړونکي شرایط:

۱ – یو متن څېړونکی باید تر هر څه دمخه په ژبپوهنه او ګرامر وپوهېږي او باید د ژبې له بېلابېلو لهجو سره بلد وي.

۲ – د متن برابروونکی باید د متني کره کتنې د موازینو او تخنیکونو په اړه کافي معلومات ولري، یعنې د متنپوهنې په میتودولوژي پوه وي.

۳– متن څېړونکی باید نه یوازې کلاسیک متون، بلکې هر متن چې وي په بشپړې امانتدارۍ راتلونکي نسل ته ولېږدوي.

۴ – د متن څېړونکی باید په رښتیا او حقیقت پابند وي. (۶)

که څوک دغه ډول او دې ته ورته شرایط په خپل ځان کې ونهویني، نو د متن چمتو کولو ته دې لاس نه ور وړي.

د متن د ټاکنې، د نسخو د لټون، د اصل د انتخاب او نورو اړوندو موضوعګانو په اړه هم ډېرې خبرې کېدای شي، چې دلته یې تفصیل نه ځایېږي.

په افغانستان کې د پښتو د انتقادي او ادبي متنونو د برابرولو چارې د شوارلسمې هجري لمریزې پېړۍ په دوهمه لسیزه کې را پیل شوي دي او هغه لومړنی پوه چې دې کار ته یې ملا تړلې او د پښتو لومړنی انتقادي متن یې چمتو کړی، پوهاند عبدالحي حبیبي دی، چې د خوشحال خان خټک کلیات یې «د خوشحال خان خټک مرغلرې» په نامه د متن څېړنې له اصولو سره سم چاپ ته برابر کړی چې د هغه له اوږدې سریزې سره په ۱۳۱۷ کال په کندهار کې چاپ شوی دی. که څه هم د خوشحال خان خټک کلیات لومړی ځل په ۱۸۷۰ م کال پادري هیوز چاپ او خپور کړی دی، لومړی خو دا اثر له هیواده بهر چاپ شوی او دوهم دا چې انتقادي متن نه دی.

دا چې لومړنی متن څېړونکی څوک دی، په دې اړه یو لیکوال داسې نظر وړاندې کړی دی:

"کله چې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو متونو تهیې، چاپ او نشر ته لاس ور وغځاوه، نو په افغانستان کې د تحقیقي متونو خپرول بیخي نوي او زموږ د متن خپرونې په بهیر کې یو اوښتون و.... "(۷)

وروسته دا کار نسبتاً عام شو او په علمي او اکاډمیکو موسسو کې د انتقادي او ادبي متونو چاپ ته چمتو کول دود او دا لړۍ پسې وغځېدله، په دې برخه کې د پښتو ټولنې (پښتو اکاډمي) ترسره کړې چارې د ستاینې وړ دي، که څه هم په اوسنۍ بڼه د افغانستان د علومو اکاډمي له تاسیس څخه را وروسته هم دې کار ته لږو ډېر پام ور اوښتی و، خو که رښتیا ووایم په وروستیو شل پنځه ویشتو کلونو کې دا کار په ټپه

ولاړ دی، که کوم کار شوی هم وي هغه به د شخصي ذوق پر بنسټ ترسره شوی وي.
اوس راځم آرې موضوع ته:

څېړنپوه استاد عبدالله بختانی خدمتګار چې کلونه پخوا یې د دې اکاډمیکې او علمي موسسې د علمي غړیتوب ویاړ درلود او اوس هم موږ پرې ویاړو هغه هم د دغې لارې (متنپوهنې او متنڅېړنې) پوخ او فعال لاروی دی چې تر دې دمه یې د نورو علمي .څېړنیزو او فرهنګي خدمتونو ترڅنګ ځینې ادبي متون هم چاپ ته چمتو او خپاره کړي دي.

استاد خدمتګار یو نومیالی ادیب، ژورنالیست، متنپوه، ژباړونکی شاعر او یو پیاوړی او دروند استاد دی، چې زما په ګډون ډېر نور کسان هم د ده د شاګردۍ ویاړ لري.

هغه په څوارلس کلنۍ کې قلم را اخیستې او دا مهال یې چې د عمر نوي کاله تېر شوي، لا تر اوسه یې قلم په لاس کې دی، د ادبي او فرهنګي آثارو په لیکلو او پنځولو بوخت دی، دی په پښتو، دري، عربي او روسي ژبو پوهېږي او په دې څلورو واړو ژبو هم تالیفات لري او هم ژباړې، خدای ﷻ دې روغتیا او اوږد عمر ور په برخه کړي چې لا نورې ګټورې علمي پنځونې هم پر موږ ولوروي.

استاد خدمتګار چې د نورو علمي چارو د ترسره کولو ترڅنګ د متنڅېړنې غوره صلاحیت لري، د ادبي متونو په برخه کې یې دوه ډوله چارې ترسره کړې دي. د انتقادي متونو چمتو کول او خپرول او دوهم کار یې ټولونې او تدوین دی. همدارنګه یې پر ځینو اثارو سریزې هم لیکلي دي، زه په دې مقاله کې یوازې د هغه په انتقادي متونو غږېږم او د دوهم ډول اثارو یوازې د نومونو پر اخیستلو بسنه کوم.

په لاندې کرښو کې به یاد آثار (ادبي متون) په کرونولوژیکه بڼه لنډ لنډ در وپېژنم:

۱ – د خوشحال رباعیات:

د دغه اثر متن د خوشحال خان خټک د ۲۹۰ تلین د نمانځلو په مناسبت چاپ ته چمتو شوی دی، چې د ۱۳۴۹ لمریز کال د زمري په میاشت کې ۴+۲۲۹ مخه د ۱۵۰۰ نسخو په شمېر په دولتي مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی. د دې اثر انتقادي متن د پښتو ټولنې د پنځو تنو مسلکي غړو له خوا چې استاد خدمتگار هم ورسره ملگری و چاپ ته چمتو شوی دی.

د یادې ډلې د کار کولو په اړه یې د اثر په سریزه کې لولو: "د خوشحال د رباعیاتو د نقلولو کار په اول ځل د ادبیاتو په څانگه کې د ښاغلي محمداسمیعل سرېن له خوا سرته ورسېد، پس له هغه د ښاغلي بختاني، ځدراڼ، سرېن، حبیب الله اپریدي او شاه ولي صافي له خوا د نورو چاپي او قلمي نسخو سره مقابله شو او بیا د ښاغلي حفیظ الله او سرېن له خوا پاکنویس کړی شو. " (۹)

د خوشحال خټک د رباعیاتو په دې چاپ کې ټولې (۶۷۴) څلوریځې خوندي دي. دغه اثر له درې قلمي او درې چاپي نسخو څخه چاپ ته چمتو شوی دی.

د دې کتاب په چمتو کولو کې تر ډېره بریده د متنڅېړنې اصول مراعات شوي دي. دغه اثر ویې پانگه نه لري، خو په لمنلیکونو کې یې د ځینو وییونو معناوې لیکل شوې دي، همدارنگه په لمنلیکونو کې پر توضیحاتو سربېره نسخه بدلونه هم ښودل شوي دي. (۱۰).

## ۲ – کلید افغاني:

د دې اثر را ټولوونکی او مدون پادري هیوز دی، چې لومړی ځل په (۱۸۷۲ م) او دوهم ځل په ۱۳۵۶ هـ لمریز کال د زمري په میاشت کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت له خوا د (۱۰۰۰) ټوکو په شمېر په دولتي مطبعه کې له چاپه راوتلی دی.

په پیل کې د وخت د اطلاعاتو او کلتور د وزیر پوهاند دوکتو نوین یادونه، وروسته د «څو خبرې» ترسرلیک لاندې په (۱۱) مخونو کې د استاد بختاني مقدمه راغلې ده، د پوهان نوین د لیکنې په یوه برخه کې راغلي دي: «څېړندوی عبدالله خدمتګار چې د دې کتاب مقدمه، تعلیقات او حواشي یې لیکلي دي، د کتاب په باب یې یوه په زړه پورې څېړنه کړې ده... » (۱۱).

په دې اثر کې د مولف یوه سریزه او یوه مقدمه راغلې چې دواړه یې په لومړي چاپ پورې اړه لري. د مولف له سریزې او مقدمې وروسته د استاد خدمتګار تعلیقات راغلي چې په پیل کې یې د دې اثر د لیکلو موخه، ور پسې یې د اثر ښېګنې او نیمګړتیاوې په ګوته کړې دي او د کلید افغاني متن یې په ډېره ښه وجه چاپ ته چمتو کړی دی چې په ۷۶ مواردو کې یې د دې اثر نیمګړتیاوې سمې کړې دي.

د استاد د هغه یادښت په یوه برخه کې چې د «څو خبرې» ترسرلیک لاندې یې لیکلي دي راغلي دي:

"کلید افغاني یو درسي کتاب دی چې د هغه د مولف په وینا د پښتو یا د پختو ژبې د انګلیسي محصلانو د ضرورت له مخې د پنجاب د حکومت تر نظارت او حمایې لاندې په اولسي ژبه د یوه درسي کتاب په توګه تدوین او خپور شوی دی ". (۱۲)

په دې اثر کې پر "ګنج پښتو" سربېره د تاریخ مرصع انتخابات، د شهزاده بهرام او ګل اندامې کیسه، د رحمان بابا او خوشحال خان خټک او نورو منتخبات راغلي دي.

پادري هیوز د زبېښاکګر انګریزي حکومت یو چالاک کارکوونکی و چې په کوزه پښتونخوا کې کور په کور، کلي په کلي، ښار په ښار ګرځېدلی او د پښتو قلمي نسخې یې لټولي او را ټولې یې کړې دي. (۱۳)

### ۳- د یونس دیوان:

د یونس دیوان په (۲۶۸+ ۳۷+ ۶+ ۲۲) مخونو کې د ۱۳۵۶ لمریز کال د تلې د میاشتې په ۱۵ مه نېټه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا د آمریت له خوا د حکیم سنایي غزنوي د زېږېدو د نهه سوم تلین په ویاړ په دولتي مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی.

له سرپاڼې وروسته د اطلاعاتو او کلتور د وزیر دوه مخیزه یادښت راغلی وروسته د استاد خدمتګار سریزه راغلې، چې وروسته د دیوان متن پیل شوی دی. د دیوان په پای کې د قلمي نسخې او چاپسي نسخې خطاطي او نقاشي ته یوه لنډه کتنه او څو یادونې ترسرلیک لاندې د نصیر هنر پښتون یوه مقدمه راغلې، چې په هغې کې د دیوان پر قلمي او چاپي نسخې، خطاطۍ او نقاشۍ رڼا اچول شوې ده، د کتاب په پای کې د شعرونو فهرست راغلی دی، چې د دې فهرست له مخې هر څوک په اسانۍ سره د نظر وړ شعر پیدا کولی شي.

استاد خدمتګار په خپله سریزه کې په عام ډول د پښتو ادب پر ودې غږېدلی او په دې اړه یې لنډې خو پخې خبرې کړي دي، وروسته د یونس خیبري هغه ژوند لیک کټ مټ را اخیستل شوی چې په پټه خزانه کې راغلی دی او په دې توګه یې یونس د پټې خزانې په استناد او د ده د دیوان د داخلي شهادتونو پر بنسټ را پېژندلی دی.

په سریزه کې پر دغو موضوعګانو بحث شوی دی.

✓ د یونس لنډه پېژندنه، د یونس شاعري، هنري معیار، د شعر فورم، محتوی، د یونس خطي او چاپي آثار، دیوان.

د ده د دیوان د قلمي نسخې ترڅنګ یې د ځینو نورو هغو آثارو یادونه هم کړې چې د یونس لړو ډېر شعرونه په کې خوندي دي.

کوم متن چې استاد خدمتګار چمتو کړی، له هغې لاس کښلې قلمي نسخې څخه یې استفاده کړې چې د احمدشاه بابا د واکمنۍ پر مهال (۱۱۷۶هـ. ق) په پېښور

کې د اشنغر د فیض طلب خان (۱۴) په فرمایش د پېښوري زین العابدین په قلم کښل شوې ده.

استاد د دې نسخې په اړه وايي: « د یونس د دیوان دغه قلمي نسخه په ټوله نړۍ کې یوائینۍ (منحصر به فرد) نسخه ده چې د افغانستان د جمهوري ارګ د کتابخانې تر ۱۲۶/ ۲۱۷۶ لمبر لاندې ساتل کېږي. دا نسخه د رحمان بابا د یوې مطلې نسخې سره یو ځای په یوه وقایه کې ګنډل شوې ده او د یو کتاب په ډول تر پورتني لمبر لاندې خوندي ده. د رحمان بابا دغه نسخه د نوموړي فیض طلب په فرمایش د پېښوري محمدګل په قلم په ۱۱۷۶ هـ. ق کال لیکل شوې ده. (۱۵)

همدارنګه استاد د نسخې پرلیک غربېدلی، د ناسخ د غلطیو یادونه یې کړې او همدارنګه یې هغه غلطۍ هم سمې کړي، چې دا د اتو په بې ځایه کارونې سره رامنځ ته شوي دي چې دا په ځینو ځایونو کې د خطاط غلطۍ هم ګڼل کېدای شي. استاد زیاتره سمونې په متن کې کړي دي. دا د یونس د دیوان لومړی چاپ دی. استاد په دې دیوان کې، مشکل لغتونه په لمن لیک کې اصلاح کړي او خپل اصلاحي نظریې په لمن لیکونو کې څرګند کړی دی.

**۴– د بیاض دیوان:**

دغه دیوان لومړی ځل په ۱۹۵۱م کال د مولوي محمد ایوب په زیار چاپ شوی دی.

دغه چاپي نسخه یې چې د قلمي نسخې حیثیت یې غوره کړی و، د پاکستان د سفارت له کتابتون څخه ترلاسه او چاپ ته تیاره کړې ده. استاد دغه دیوان له چاپي نسخې څخه رانقل کړی، سم کړی او حاشیې یې پرې لیکلې دي. همدارنګه یې یوه مقدمه هم ورباندې لیکلې ده.

استاد دې اثر نیمګړ تیاوې او چاپي تېروتنې د متن څېړنې د اصولو په رڼا کې سمې کړي او دیوان یې چاپ ته تیار کړی دی.

✓ په کومو کلمو چې نه دی پوه شوی په لمن لیک کې یې د هغو ځای سپین پرېښی دی، یعني له ځانه یې ورته معنا او شرحه نه ده لیکلې.

دی د خپل کار په اړه یو ځای لیکلي: "نو ما د متن د اصل هغه عبارت چې ما ته ناسم ښکاره شوی دی، په حاشیه کې را اخیستی دی په دې برخه کې ما هېڅکله دا نه دي غوښتي، چې ناسمه برخه د خپل ذاتي احساس، ذوق او تمایل تر تاثیر لاندې سمه کړم، بلکې تل مې هڅه کړې ده، چې د شاعر د شعر د سبک د هغه دعامې روحیې، د هغه دژوندانه او زمانې له شرایطو سره سم، ناسمه برخه هغسې سمه شي، چې یقین ته نږدې وي، زما په ګومان د شاعر د خپل شعر له اصل سره سم وي. (۱۶)

دغه اثر چې په ۱۳۸۳ کال دوهم ځل د الفت اکاډمي له خوا (۱۰۰۰ ټوکه) چاپ شوی په پیل کې یې د الفت اکاډمي یادونه بیا د عرض حال په نامه د لومړي چاپ په اړه د مولوي محمد ایوب د لیکنې لنډیز راغلی دی.

بله لیکنه پرې «بیاض او دیوان ته یې لنډه کتنه» محمد اصف صمیم کړې ده، چې ورپسې د استاد خدمتګار سریزه راغلې ده.

## ۵- احوال و آثار میرزا عبدالرحیم رحیمي:

استاد خدمتګار د دې شاعر د شعرونو ټولګه د هغې نسخې له مخې چاپ ته برابره کړې چې د شاعر په خپل خط لیکل شوې ده.

دا ټولګه لومړی ځل په ۱۳۳۴ کال په عرفان مجله کې خپره شوې او په ۱۳۳۵ کال د آریانا مجلې خپره کړه، ورپسې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا په کتابي بڼه چاپ شوې ده.

دا کتاب په ۱۳۸۰ کال کې په (۹۶+ ۲) مخونو کې د (۱۰۰۰) نسخو په شمېر د الحاج محمدطاهر رحیمي او امین الله رحیمي په مالي مرسته په پېښور کې چاپ شوی دی.

د دې کتاب په پیل کې "د وړمو نخښې" تر سرلیک لاندې د ښاغلي حبیب الله رفیع یادښت راغلی، ورپسې د "یادآوری" تر سرلیک لاندې د استاد خدمتګار سریزې ته ځای ورکړل شوی دی. په دې سریزه کې د شاعر د ژوند او فن په اړه خبرې شوې دي.

د دې شاعر ژوندلیک او د پښتو شعر بېلګې د پښتانه شعرا په څلورم ټوک کې هم راغلي دي.

استاد خدمتګار دغه شاعر هر اړخیز معرفي کړی دی. د یادونې وړ ده، چې په دې ټولګه کې د شاعر دري شعرونه خوندي شوي دي.

د دې اثر لومړي چاپونه په عنعنوي توګه چاپ ته چمتو شوي وو، خو دا وروستی چاپ د متن څېړنې له اصولو سره سم دی، یعنې پر ټولګه باندې استاد بیا کار کړی او چاپ کړې یې ده. اوس له ژمنې سره سم د دغو آثارو لنډ فهرست چې استاد را ټول، تدوین او اوډلي یې دي وړاندې کېږي.

۱– د بابا مشالونه، دا کتاب په ۱۳۶۶ ش کال، د قومونو او قبایلو چارو وزارت له خوا چاپ او خپور شوی دی.

۲– پښتو چاپي آثار: په دوو وروستیو پېړیو کې، دا اثر د مقالو ټولګه ده، چې په ۱۳۵۷ کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت چاپ او خپور کړی دی.

۳– تور برېښ: د ولسي نظمونو (چاربیتو) ټولګه ده چې تر اوسه دوه ځله چاپ شوې ده.

۴- اخلاص هدیه، دا د نظمونو یوه ټولګه ده او په ۱۹۸۸ م کال کې د قبایلو او سرحدونو چارو د وزارت له خوا چاپ شوې ده.

۵- خوږې نغمې. د منلک جان د شعرونو دیوان دی چې لومړی ځل په ۱۳۳۵ او دوهم ځل په ۱۳۴۸ کال چاپ شوی دی.

۶- شعر و ادب، د شعر او ادب په باب د ګڼو لیکوالو د مقالو ټوګه ده، چې په ۱۳۳۳ کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

۷- تازه ګلونه. د اوسنیو شاعرانو د غوره شعرونو ټولګه ده. دغه اثر په ۱۳۴۲ کال تدوین شوی او په ۱۳۹۵ لمریز کال د قومونو او قبایلو چارو وزارت د خپرونو ریاست له خوا چاپ شوی دی.

۸- د باچا خان لیکونه.

۹-ادبي سوغات، په ۱۳۴۸ کال کې د رحمان بابا پر یوه بیت د جوړې شوې مشاعرې ټولګه ده. (۱۷).

۱۰- د عشق سوغات: د برکت الله کمین شعري کلیات دی، چې استاد په ۱۳۹۲ لمریز کال د هغه د کورنۍ په مالي لګښت په چاپ او خپور کړی دی.

**پایله**:

څېړنیوه استاد عبدالله بختاني خدمتګار یو له هغو ګوتو په شمار علمي – فرهنګي او سیاسي څېرو څخه دی، چې څو بعدي شخصیت لري، هغه په بېلابېلو موضوعګانو او علومو کې قلم چلولی، شعریې ویلی، نثریې لیکلی، ژباړې یې کړي او بالاخره فرهنګي نړۍ ته یې پریمانه ځانګړي علمي – څېړنیز آثار او په سلګونو مقالې ډالۍ کړي چې کلونه کلونه به د هغه له دغسې آثارو څخه استفاده کېږي.

کومه موضوع چې په دې مقاله کې لنډې خبرې شوې هغه د استاد هغه هڅې دي چې قلمي او چاپي آثار يې د متن څېړنې د اصولو په رڼا کې چاپ ته چمتو او خپاره کړي دي.

لکه څنګه چې دمخه وويل شول استاد متونو په څېړنه کې د متن څېړنې اصول تر ډېره بريده په پام کې نيولي، دا ځکه هغه شرايط چې د يوه متن څېړونکي لپاره وضعه شوې، د استاد په وجود کې شته دي.

همدارنګه يې چې کوم آثار را ټول، تدوين، مقدمې او حاشيې يې پرې ليکلي، د ملي شوو نورمونو له مخې چاپ ته چمتو او خپاره کړي دي.

## اخځليکونه او څرګندونې:

۱) څېړنپوه سيدمحی الدين هاشمي: د ادبپوهنې ځانګې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ميهن خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۳، ۱۳۶ مخ.

۲) پورتنی اثر، ۱۳۹ مخ.

۳) همدغه اثر، ۱۴۱ مخ.

۴) ياد اثر، ۱۴۲ مخ.

۵) څېړنپوه نصرالله ناصر: د ادبي متنڅېړنې اصول او لارې چارې، د ادبي څېړنو اصول او لارې چارې (د مقالو ټولګه)، د ژبو او ادبياتو مرکز، ۲۶ مخ.

۶) همدغه اثر، ۲۷ مخ.

۷) زلمی هېوادمل: لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي، په افغانستان کې د تحقيقي متونو د تهيې، چاپ او نشر بنسټ ايښودونکی، د استاد ياد، ۱۳۶۳، ۱۴۸ مخ.

۸) د دې اثر د چاپ شمېر د ښتينې خدمتګار په نامه اثر کې (۵۰۰) نسخې ښودل شوی، چې سمه بڼه يې (۱۵۰۰) نسخې دي.

۹) د خوشحال خټک رباعیات، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۴۹، د پوهاند رښتین سریزه، الف مخ.
✓ بختانی یعنې عبدالله بختانی، ځدراڼ= عبدالرحیم ځدراڼ، سربن= محمد اسمیعل سربن.
۱۰) ښاغلي ازمون د رښتینې خدمتګار نومي اثر په ۷۵مخ کې پنځه قلمي او پنځه چاپي نسخې ښودلې دي، چې سمه ښه یې درې درې نسخې دي.
۱۱) پادري هیوز: کلید افغاني، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۵۶، د پوهاند نوین یادونه.
۱۲) پورتنی اثر، ۳مخ.
۱۳) همدغه اثر، ۳مخ.
۱۴) په رښتیني خدمتګار نومي اثر ۷۵مخ کې د فیض طلب پر ځای فیض طالب لیکل شوی دی.
۱۵) یونس (خیبري): دیوان، د څېړندوی خدمتګار په زیار، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۵۶، نهه ویشتم مخ.
۱۶) د بیاض دیوان، نقل، سمون، حاشیې او مقدمه د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار، الفت اکاډمي، ۱۳۸۳ کال، ش مخ.
۱۷) لال پاچا ازمون: رښتینی خدمتګار، ۱۳۸۲ کال، ۷۸– ۸۴مخونه.

څېړندوی محمداصف احمدزی

## "هغوی چې بیا نه راځي"
## د تللیو ادیبانو د فرهنګي شخصیت رښتیني انځورونه

"هغوی چې بیا نه راځي" د هغو لیکنو لړۍ ده، چې د هېواد پیاوړي لیکوال او څېړونکي استاد حبیب الله رفیع، د تېرو شو لسیزو په دوران کې، وخت په وخت لیکلې او کله هم، چې د فرهنګ او ادب د لارې کوم مخکښ له دې نړۍ سترګې نه پټې کړې او ده د هغه د مړینې له غمه ډک دغه خبر اورېدلی او پرې خبر شوی، نو دغم درنه شېبه ورباندې تېره شوې، ټکان یې خوړلی، دردېدلی او بیا یې د هغه په اړه خپل تأثرات، په هماغه وخت کې قلمبند کړي دي.
دا لیکنې سره یوځای شوي او د "هغوی چې بیا نه راځي" تر نامه لاندې د کتاب په بڼه چاپ او خپرې شوې دي. دا ۴۸۸ مخیز اثر چې د ځلوېښتو ادبي مشرانو په اړه په کې خونړورې ځرګندونې شوي، د محمد نبي تدبیر په زیار په ۱۳۹۴هـ ش کال په جلال اباد کې د مومند خپرندویه ټولنې له خوا د زرو ټوکو په شمېر چاپ شوی دی. د

کتاب په لومړي مخ کې د اثر تر نوم لاندې «د تللیو ادبي استادانو او ادبي دوستانو ویاړمن او وېړمن یادونه» متن کښل شوی او په ورپسې مخ کې دا لنډۍ راغلې چې:

اشنا چې تلو دومره یې ووې
چې تر قیامته پورې بند شول دیدنونه

په بل مخ کې بیا د استاد رفیع دا بیت راغلی چې:

ته چې یې تللی ستا تصویر زما په سترګو کې دی
سترګې چې اوښکې تویوي ستا تصویرونه مینځي

محمد نبي تدبیر د دې کتاب په سر کې لیکنه کړې او په کې یې د دې اثر پر ځینو ځانګړتیاوو رڼا اچولې ده. ورپسې په خپله استاد حبیب الله رفیع سریزه کښلې او په کې یې ویلي: «زما ډېر ادبي یاران او ادبي مشران په لره او بره پښتونخوا کې د مرګ مېلمانه شول او پر کومو یې چې ما وخت پر وخت لیکنې کړې وې، هغه لیکنې هم وار په وار یو پر بل باندې پرېوتې او دا کتاب ترې جوړ شو».

د دې لیکنو یوه ځانګړتیا دا ده، چې پیل یې ډېر جالب او زړه راښکونکی دی او چې کله یې لوستونکی لومړی پاراګراف لولي، نو باور دی، چې تر پایه به یې بې له ځنډه ولولي. د بېلګې په توګه، "د خیبر پر ځلي" تر سرلیک لاندې لیکنې پیل داسې شوی دی:

"د ماښام تره غونې راخورېدونکې وه، له معمول سره سم د صابرشاه دوکان ته ورسېدم، خو د معمول خلاف د دوکان ور تړلی و، له طاهرشاه نه مې وپوښتل: صابر چېرې دی؟

هغه یو ناڅاپه راته وویل: خیبر مړ شوی، هغه د خیبر جنازې ته تللی او ویل یې، چې دی دې هم راځي.

زه د خبر له اورېدو سره بېرته راستون شوم، طاهرشاه وویل: راځه، چای وڅښه!

ما ویل: نه! چای نه څښنم.

بېرته راوګرځېدم، پر ځان پوه نه شوم چې د غریب آباد او سپین جومات ترمنځ لاره به مې څنګه او په څومره وخت کې وهلې وي؟ خو چې ځان ته مې کتل، د سپین جومات په تمځای کې د جم موټر ته ولاړ وم، بس راغی، په کې کښېناستم، روان شو، څه زما بېره وه او څه هم د جم بس و، زیات وخت یې واخیست، له باب خیبر سره خو یې د معمول مطابق اوږد ځنډ وکړ او بیا روان شو، "ټیلډي بازار" ته چې ورسېدم، له بس نه پلی شوم، داسې ښکارېده چې همدا وروستنی بس و، هوا بېخي تیاره شوې وه، زه وارخطا – وارخطا ګرځېدم، دوه تنه زلمي مې مخې ته راغلل، ترې و مې پوښتل:

خیبر به څه وخت خښېږي؟

ځوانانو ځیر – ځیر راته وکتل، زما لېونتوب ته حیران شول او بیا یې ځواب راکړ.

د خیبر جنازه پنځه بجې وه، دوخته خښ کړای شو! ما بیا وپوښتل:

قبر یې چېرې دی؟

د قبلې لور ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:

هغلته وړاندې!"(١).

دغه راز د "وروستني خدای پاماني" لیکنه یې بیا په یوه داسې ویرجن انداز پیل شوې ده:

"نن یې غږ بیخي بدل و،
غږېو نیولی و،
ژړغونی و
او له ورایه برېښېده چې څه د غم خبر لري!
هو!

هسې خو "شاهنواز جانباز" ماته هر وخت ټلېفون کوي
د "بي بي سي" له پاره خبرې سره کوو
او معمولاً د ادبي مسایلو او د ماشومانو د مسایلو په باب سره غږېږو.
خو نن یې له لومړي غږ سره اکر بکر بدل و
سلام او ستړي مه شي مو سره وکړل،
بیا غلی شو
ژبه یې بنده شوه
لکه څه چې غواړي، خو ویلی یې نه شي
زما اندېښنه زیاته شوه،
ترې ومې پوښتل:
خیریت و؟
په ډېر ورو غږ یې وویل:
لکه چې "ساهو" په حق رسېدلی وي!"(۲).

له دې ډول پیلامو وروسته، لیکوال د وفات شوي شخص په اړه خپلو تأثراتو او خاطرو ته دوام ورکړی، له هغه سره د پېژندګلوۍ او آشنایۍ خاطرې یادوي، د هغه شخصیت، ژوند او فن، لیکوالۍ او شاعرۍ په اړه څرګندونې کوي. بیا یې د ذهن فلم پر چورلېدو کېږي، له متوفی سره د لیدلو کتنو، فرهنګي ناستو پاستو او خوږو ترخو په اړه یې د ذهن په پردو کې فلمونه اوړي را اوړي او پرده په پرده له هغه سره د ژوند خاطرې مجسمې کوي.

بیا د اړوند شخص پر ادبي هڅو رڼا اچوي، پر آثارو یې لنډه خبره کوي او د هغو قدرداني او ستاینه کوي، د هغه د هیلو چې نیمګړې پاتې شوې، یادونه کوي.

او بیا چې کله ناروغ شوی، د پوښتنې لپاره یې ورغلی، ډاډینه یې ورکړې او له هغه سره د وروستي ملاقات یادونه یې کړې ده. د هغه شخص دردونه او کړاوونه یې بیان کړي دي.

په دې لیکنو کې ځای ځای شعري قطعې هم راغلې او هغه هم، هغه مهال چې د دې لیکنو د لیکوال سترګې نورې له اوښکو ډکې شوې، نو یې د خپل زړه آواز د یوې شعري قطعې چې ذهن ته یې غځونې کړې، په ترڅ کې په ډاګه کړی دی، لکه چې د خیبر اپریدي په اړه یې چې ویلي:

تلم یې دیدن ته زه، خو وخت ناوخته شوی و ډېر
خیبر و تللی ما یې څلي ته سلام وکړ
غبرګ مې پرې وکړ، راته ویې ویل د حال په ژبه:
"تر ډېر نارامه ژونده وروسته مې آرام وکړ" (۳)

یا یې چې د ایوب صابر په مړینه ژړلي دي:

ادبي یاران دې ستا په رحلت ژاړي
رومان ژاړي، عدنان ژاړي، رحمت ژاړي
رفیع هم هېروی نه شي د تا مینه
په هجرت کې هم د تا په هجرت ژاړي (۴)

د خاطراتو دا فلم، خپلو منظومو څرخونو ته دوام ورکوي، تر هغه چې له متوفی شخص سره د وروستي ملاقات صحنې تـه رارسېدلی او بالاخره چې هغه تر ګوره رسېدلی، نو یې مغز شوک کړی او بیا یې د خپل غمجن زړه تأثرات بیان کړي او لکه د حمزه بابا په اړه یې چې کښلي دي:

"او بالاخره حمزه بابا
وروستی سفر هم وکړ

له دې سفر سره
ده خپل قلم او کاغذ راونغښتل
د خپلو الماریو دروازې یې پورې کړې
خپل کتابونه یې کت کړل
پر خپل ادبي سفر یې وروستنی مهر ولګاوه
موږ ته یې خپل معنوي میراثونه
امانت را پرېښودل
او د خپل ادبي سفر په پای کې یې ابدي سفر وکړ
د ۱۹۹۴ز پېړدیز کال د فبرورۍ په ۱۹مه نېټه یې د خپل زاړه کور په څو مترۍ کې
خپل نوي کور ته کډه وکړه
او له کوره ګور ته ولاړ!"(۵)

استاد رفیع، بیا کله، کله د متوفی قبر ته هم ورغلی، لاسونه یې لپه کړي او له لوی خدای (جل جلاله) څخه یې ور ته دعا غوښتې، چې "پر ګور یې نور شه! ابدي ژوند یې په سرور شه! او د جنت په نعمتونو معمور شه!(٦)".

په پورته کرښو کې، چې د دې لیکنو د لړۍ د ځینو برخو یادونه ما وکړه، نو په دې کې د نثري ژانرونو د بېلابېلو فورمونو او شکلونو څرګونه تر سترګو کېږي؛ هم د ادبي راپور تاژ په زړه پورې والی، هم د ننداریک خوند او هم د ادبي انځور ښکلا په کې موجوده ده، په زیاتره لیکنو کې یې دا درې واړه ادبي ژانرونه غبرګ لیدل کېږي.

که له یوې خوا په دې ادبي نثري ادبي ډول کې، په هنري او ادبي ژبه له داخلیت او تخیل سره مل د یوې پېښې شوې کیسې واقعي او په حقیقت ولاړ بیان دی، چې همدغه ته ادبي راپور تاژ هم ویل کېږي(۷) خو له بلې خوا په کې د یوه شخص په اړه څرګندونې د ننداریک په بڼه پرده په پرده ښودل

شوي دي، ځکه په تندارلیکونو کې د یوې ټولنې د مهمو او برخلیک ټاکونکو پېښو او شخصیتونو په اړه لیکل کېږي(۸). تندارلیک د انساني ژوند د یوې برخې د غم، خوښۍ، مینې او کرکې، هیله مندۍ او ناهیلۍ مندتوب د حالت او سرګذشت بیان او نندار ه ده(۹).

په ادبي انځور کې د یوه وګړي د شخصیت عکاسي او ترجماني کېږي، چې په کې د یوه شخصیت هغه منفردې او ځانګړې پېښې بیانېږي، چې د ژوند د اړخونو په څرګندولو کې یې مرستندوی وي. دغه راز، په دې ډول ادبي ژانر کې له لیکوال سره د دغه شخصیت په هکله د پېښو او تأثراتو اوږده او لویه لړۍ موجوده وي، خو هغه په کې داسې پېښې را اخلي، چې د هغو په هنداره کې د دغه شخصیت بشپړ انځور څرګند شي(۱۰). د استاد رفیع په یادو شویو لیکنو کې هم، دغه ډول ځانګړتیا لیدل کېږي.

په پښتونخوا کې، سید صابرشاه صابر د "جنازې" په نوم اثر کښلی، چې په کې یې یوائې د څو تنو اشخاصو د جنازو لیدلي کتلي حالات په ادبي ژبه بیان کړي او له دې وراخوا یې د متوفی د شخصیت او ژوند، فن او فکر بشپړ جاج هم په کې اخیستی دی، خو د استاد رفیع د دې ډول لیکنو په لړۍ کې د پورته درې واړو نثري ژانرونو څرکونه تر سترګو کېږي، نو سړی نه پوهېږي چې دا د څو نثري ژانرونو ګډ یو امتزاج دی، که نه نثري ویرنې دي او که نه کوم بل نوی ادبي نثري ژانر دی، چې په دې اړه قضاوت به نورو ښاغلو څېړونکو او پوهانو ته پرېږدم.

خو د دې یادونه اړینه بولم، چې د دې لیکنو په زړه پورې والی په دې کې دی، چې له سره تر پایه، که له یوې خوا په کې د درد او غم خبرې نغښتې، خو له بلې خوا، په داسې یوه هنري خوږ نثر لیکل شوې، چې د وخت په تېرېدو

سره به یې لوستونکي زیات شي، ادبي تنده به یې ورباندې خړوبه شي او هرومرو به پرې اغېزه هم کوي، چې دا د هنري نثري ادبیاتو یوه ځانګړنه ده.

او سمهال که ځینې مخکښ ادیبان، لیکوال او فرهنګیان جسماً له موږ نه جلا شوي، خو د دې لیکنو د کرښو په لوستلو سره هغوی معنا ژوندي ساتل شوي او راتلونکو نسلونو ته په ښه هنري بڼه ورپېژندل شوي دي.

هیله ده، چې نور لیکوال هم، دغه ډول لیکنو ته مخه کړي او دغه په زړه پورې ژانر تاند او ژوندی وساتي.

په پای کې ویلی شم، چې د دې لیکنو له ادبي ښکلا او زړه راښکون اخوا، یو بل څه چې په کې تر سترګو کېږي، هغه په خپله د استاد رفیع اجتماعیت دی، ځکه د هر فرهنګي او ادبي شخصیت پر مړینې خواشیني شوی، د ځینو هغو قبر ته یې ځان رسولی او یا هم له لرې یې ورته دعا کړې ده. دغه راز تر ې جوتېږي، چې نوموړی د خپل مسلک له لارویانو سره څومره پراخې او خوږې اړیکې لري او بیا یې له هغو سره ملګرتوب او دوستي، آن د مرګ تر ورځې او له هغه وروسته هم، د همدې لیکنو په کښلو سره پاللې، چې د خاطرو لیکنې دغه لړۍ یې، ښې روښانه نمونې دي.

**اخځلیکونه**:

(۱) حبیب الله رفیع، هغوی چې بیا نه راځي، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۴هـ ش کال، ۴۳۶ – ۴۳۷ مخونه.

(۲) پورتنی اثر، ۴۶۴ – ۴۶۵ مخونه.

(۳) مخکینی اثر، ۴۴۴ مخ.

(۴) همدا اثر، ۳۰۸ مخ.

(۵) پورتنی اثر، ۸۹- ۹۰ مخونه.
(۶) مخکینی اثر، ۹۰ مخ.
(۷) احمدزی، شېرندوی محمداصف، په پښتو ادب کې ادبي راپورتاژ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۱لمریز کال، ٦۲ مخ.
(۸) هاشـمي، شېرنـوال سـید محی الـدین. د نثـري ادب ډولونـه (ادبـي ژانرونـه)، وحدت خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۸۹لمریز کال، ۵۹۳مخ.
(۹) پورتنی اثر، ۵۸۹- ۵۹۰مخونه.
(۱۰) مخکینی مأخذ، ۵۲۳- ۵۲۴مخونه.

سيد اصغر هاشمي

## د ګل پاچا الفت په شعرونو کې فلسفي څرکونه

ګل پاچا الفت د ويښو زلميانو د غورځنګ کليدي غړی و او همدارنګه د ويښو زلميانو د اهدافو په پلي کولو کې يې، په خپلو تخليقاتو (شعر او نثر) کې د دې ګوند اهداف په مستقيم او غيرمستقيم ډول ټولنې ته وړاندې کړل. د ده شعرونه د محتوا له مخې هر ډول مضامين لري چې فلسفي شعرونه، د اضدادو فلسفه او عدم تشدد فلسفي خبرې يې هم په ويناوو کې شته.

(غني خان فلسفي شاعر) اثر کې د فلسفې په اړه وايي: (فلسفه د هغو اصولو پوهنه ده، چې د هستيو ذاتي پېژندنې په غرض انسان ته ښوونه او د شيانو د حقايقو او د هغو د وجود له علتو څخه بحث کوي او د فکر او هستيو له اړيکو څخه هم غږېږي، چې د هغو د پېژندنې له اغېزې د انسان لاره د عالي هدف يا پوهنې لپاره پرانيستل کېږي، ډېر ځله داسې پېښېږي، چې کله انسان له ورځنيو چارو وزګار يا په يوه ګوښه کې يواځې شي، نو خپل ځان او چاپېريال ته وګوري، اسمانونه، ځمکې، سپوږمۍ،

ستوري، غرونه، سيندونه او بېلا بېلو ځناورو ته ځير شي او ډول ډول پوښتنې ورته پيدا شي، لکه زه څوک او څه يم؟ ولې يم؟ له کوم ځای څخه راغلی يم؟ ولې راغلی يم؟ د څه شي لپاره موجود يم؟ چېرې ځم؟ ما خپل ځان خپله نه دی خلق کړی، هغه څوک دی چې خلق کړی يې يم؟ ايا خپل خالق پېژندلی شم؟ ځمکه، اوبه او ټول هغه موجودات چې وينم يې ژوندي يا غير ژوندي، اسمانونه، ستوري، کهکشانونه، څرنگه پيدا، ترتيب او تنظيم شول؟

جسم، زمان، مکان، رڼا، تياره، جاذبه، حرکت، سکون، هستي او نېستي څه شی دی او د نورو موجوداتو په کميت او کيفيت کې څه اغېزې لري؟ او داسې نورې بې شمېره پوښتنې، چې انسان د خپل پيدايښت له پيله تر ننه ورسره مخامخ دی او هر چا د خپلې شعوري وړتيا په اندازه يا يو ډول ځواب ورته موندلی او يا يې د ځواب موندلو ارمان له ځان سره خاورو ته وړی دی.) (۱)

فلسفي شعرونه: په حقيقت کې فلسفه (ولې؟) ته په ځواب موندلو پسې لالهانده ده، په دې توگه ويلی شو چې د فلسفې په مرسته (ولې؟) ته ځواب لټول کېږي او هر هغه انسان چې په ويښه او هوښياری کې دا ډول پوښتنې ورته پيدا کېږي، په يو ټاکلي پړاو کې فلسفي دی او دا هڅه يې يوه فلسفي بوختيا گڼل کېږي.

هر انسان د زړه له کومې غواړي، په هغه څه وپوهېږي چې له ده نه پټ دي، د رازونو د سپړلو معنا په حقيقت کې پوهېدل دي، په تېره بيا د ژوندانه او نړۍ په اړه په حقيقت پوهېدل، هر چاته په زړه پورې دي، ځکه چې برخليک يې ورسره تړلی دی او هر څوک غواړي چې په هر ځای کې ښه ژوند وکړي او ښه برخليک ولري، له دې نه ښکاري، چې فلسفه کوم ځانگړی امتياز نه دی، چې يوازې ارسطو، افلاطون، سقراط او کانټ په برخه رسېدلی وي، بلکې ټول انسانان ځانگړي فلسفي افکار او نظريات لري او هر څوک کولی شي چې له خپل اند او توان سره سم د (ولې؟) ځواب ولټوي او

په اړه یې فکر وکړي. د استاد ګل پاچا الفت په ځینو شعرونو کې فلسفي نظریات او افکار لیدل کېږي چې د سوال په ډول په ځواب پسې ګرځي او د (ولې؟) یادونه یې په خپلو شعرونو کې کړې ده.

استاد ګل پاچا الفت ته فلسفي شاعر نه شو ویلی، خو د فلسفي شعرونو ځرکونه یې په شعرونو کې لیدل کېږي؛ لکه:

عقـــل څـــه دی، منطـــق څـــه دی، حکمـــت څـــه دی؟
غولـــــول دیـــــوه بـــــل پـــــه هغـــــه دا
کلـــه خـــوښ کلـــه غمجـــن کلـــه حیـــران شـــم
دا دنیـــــــا ده ګـــــــډه وډه تماشـــــــا
پـــه حرامـــو نـــاروا ســـړي تـــه ورشـــي
«څـــه لـــولې او بـــې حیـــا ده دا دنیـــا»

(۲)

استاد پـه پورتـه څو بیتونو کې د (عقل، منطق او حکمت) پوښتنه کړې ده او بېرته یې ورته ځواب لټولی او ورکړی دی، چې فلسفي رنګ لري، یو بل ځای لیکي:

نـــاوې جـــوړه شـــوه خـــو چاتـــه؟
یـــو ړانـــده تـــه نابینـــا تـــه
چـــې یـــې نـــه لیـــده جمـــال
بـــې دیـــداره د وصـــال
چـــاویـــل د نـــاوې کـــور کـــې
فکـــر وکـــړئ څـــه کـــوئ؟
نـــاوې چاتـــه جـــوړوئ؟
د ســـینګار معنـــا بـــه څـــه وي؟

چـــې کاتـــه ورتـــه هـــيڅ نـــه دي؟
مـــه کـــوئ خوشـــې خـــواري
د ړنـــدو ســـترګو لپـــاره

(۳)

د استاد الفت فلسفه ډېر ځله د انسان ټولنيزې اړيکې تر مطالعې لاندې نيسي، معنا دا چې دی د انسان اړيکه له انسان سره څېړي، ځکه له همدې اړيکې څخه ټولنيزې اړيکې رامنځ ته کېږي، موږ څوک يو؟ ولې ژوند کوو او په ټولنه کې څه ونډه او انتظار لرو؟

استاد الفت د يو سترګور ليکوال په توګه او د لومړي ځل لپاره زموږ اجتماعي اخلاق تر څېړنې لاندې نيسي، انتقاد کوي، طنز وايي او ښه خويې دا چې د حل لاره وړاندې کوي.

استاد الفت د دين فلسفه، د انسان د اجتماعي ژوند په ګټه تفسيروي، مثلا د هغه په نظر پر مسافرو ځکه روژه نه ده فرض چې حرکت کوي او هرڅوک چې ولاړ او ساکن وي، نو د خوراک، څښاک حق نه لري، استاد الفت ډېر ځله موږ حرکت، کار او تلاش ته هڅوي، استاد هر کله چې له طبيعت سره زموږ پر اړيکو غږېږي هم، موږ ته پېغور راکوي چې که موږ کار ونه وکړو، نو طبيعت هم زموږ دښمن کېدای شي، د هغه په ژبه زموږ په هېواد کې سيند ورانوونکی، ظالم او خونړی دی، خو کله چې له هېواده ووځي، هلته د ودانۍ او سمسورتيا نښه او وسيله ګرځي، يعنې دا چې موږ طبيعت نه شو رام کولی، د حرکت، کار او کوښښ د نشتوالي له امله طبيعت زموږ په مقابل کې درېږي.

استاد الفت د انسان د هستۍ په اړه فکر کوي او د خوشبينو مفکرينو په توګه انسان دېته هڅوي، چې له خپل ژوند څخه خوند او ګټه واخلي.

استاد الفت دېته متوجه و، چې په افغانانو کې باید د فکر کولو تمرین ته لاره اواره کړي، دا خلک اړتیا لري فکر وکړي، د خپل ځان، چاپېریال، دانسان او ټولنیزو اخلاقو په اړه سوچ وکړي، چې دې ته متوجه شي چې باید نیمګړتیاوې اصلاح او ښېګڼې لا ډېرې کړي، هو کې، فکر کول د فلسفې بنسټ جوړوي. (۴)

داضدادو فلسفه: د فلسفې د یوې څانګې په ډول د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې د اضدادو فلسفې په اړه شعرونه هم شته.

ټوله نړۍ له ضدینو جوړه ده، که د انسان د زړه خوښه وي او که نه وي، له دې اضدادو سره به وخت او ژوند تېروي.

د غني خان په شعرونو کې هم د ژوند او مرګ په اړه فلسفي شعرونه شته دي، چې د اضدادو د فلسفې ډېرې ښې نمونې دي. استاد ګل پاچا الفت په خپل (شعري کلیات، ص ۱۰۴) کې د (آغاز او انجام) تر سرلیک لاندې داسې وايي.

له اسمانه څاڅکي راغله د باران
پرې را شنه شوه سپین و سره او زېړ ګلان
یو څو ورځې پس یې باد ویوړلې پاڼې
خپل آغاز آنجام هیڅ نه شو ورعیان
په زرګونو کلو ګورو چې ژوندون شته
حرکت شته لو بدل شته مخکې یون شته
له آغازه له آنجامه خبر نه یو
دومره وایو چې دورونه د ګردون شته

(۵)

دانسان د پیدایښت ورځ او د مرګ ورځ الله تعالی ته معلومه ده او په تقدیر کې لیکل شوي وي.

هیڅ انسان نه شي کولای چې د بل انسان د مرګ وخت په دقیقه موده او وخت کې وښیي.

استاد الفت هم داسې نظر لري او د پورته راغلي شعر مفهوم دی: له اسمانه بارانونه راورېږي، ددې بارانونو له امله ټول بوټي شنه کېږي او ډول ډول ګلان پیدا کېږي، له څو ورځو وروسته د همدې شنو شوو بوټو او رنګارنګو ګلانو پاڼې د خزان د شمالونو له راتګ سره له منځه ځي، دغه بوټي په دې پوه نه شول، چې څنګه پیدا او فنا شول.

انسانانو هم په زرګونو کلونو ژوند وکړ، حرکت، کار او هلې ځلې یې وکړې، همدا انسان له خپل پیدایښته او مرګه خبر نه دی.

دلته هم د ژوندون او د مرګ په فلسفې په هنري، شعري او فکري انداز بحث شته دی، استاد الفت د ژوند او د مرګ په باب داسې نظر لري، چې د انسان د ژوند نېټه او د مرګ نېټه نامعلومه ده، نو په داسې بې اعتباره ژوند بیا اعتماد په کار نه دی.

استاد ګل پاچا الفت په نثري کلیاتو، ۱۸۵ مخ کې د (غم او خوشحالي) تر عنوان لاندې داسې وايي: (ډېر خلک دي، چې یوه ورځ یې ګرانه ښځه مري او دی غمجن کېږي، مګر بله ورځ نوی واده کوي او په دې خوشحالۍ سره هغه زوړ غم بېخي هېروي، نو دغه د خوشحالۍ ډولۍ او هغه د غم جنازه یو له بله ډېر ربط لري، که هغه غم دغه کاله ته رانه شي، دغه ښادي هم نه شي راتلی. استاد په شعري کلیاتو کې فیوډالي نظام ته اشاره کوي او وايي:

غنا په فقر حکومت کاندي
بدایان لوږوي په نورو باندې

راســــــره شــــــته دي ډېــــــر عزتونــــــه
پــــــه ماســــــمېږي واړه کارونــــــه
پــــــه خزانــــــو مــــــې فخــــــر شــــــاهان کــــــړي
جګــــــړې جنګونــــــه پــــــه مــــــا انســــــان کــــــړي
(۶)

استاد الفت د غریبو، بېچاره وو او مسکینانو طرفدار او له مالدارنو سره وران و، ده په خپلو شعرونو کې خانان، پیران او د وخت مشران غندلي دي او د فیوډالي نظام پر ضد یې ډېر شعرونه ویلي دي.

پورته راغلي شعر کې هم د مالدار او غریب یا د مال او پیسو خاوند او مفلس یادونه شوې ده، چې که فلسفي بحث پرې وکړو، نو د اضدادو فلسفې بحث ترې لاس ته راځي. (۷)

د عدم تشدد فلسفه: د استاد الفت په شعرونو کې د عدم تشدد مفکوره هم شته. د دې فلسفې سالار باچا خان دی. دی داسې یوه ټولنه او ولس غواړي چې هلته ظلم، ستم، تشدد، نفرت، بدبیني، کینه، ګوندي، تربګني، تعرض، تجاوز، ناداري او ناداني نه وي او ټوله محبت، ورورې، برابري، پېرزوینې، رواداري او همکاري وي. (۸)

د باچا خان د عدم تشدد مفکوره د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې ډېر لیدل کېږي او استاد الفت صاحب هم د (تشدد) طرفدار نه و.

عدم تشدد له دوو کلمو جوړ دی، چې (عدم) نشتوالی، نابودي، نشت، د وجود او هستۍ مقابل، د نه موجودیت حالت، د ځینو کلمو په سر کې راځي او د هغو مفهوم نفی کوي او (تشدد) سختي، زیاتي، جبر، سخت چلند او په سیاست کې وسله وال پاڅون ته وایي.

په عدم تشدد کې زور او زیاتی نه وي، هر کار د مینې، محبت او انسانیت په فضا

کې باید سرته ورسیږي، د استاد الفت په شعري کلیاتو کې د دې مفکورې ډېر مثالونه شته دي، چې د بېلګې په ډول یې یوه نمونه داده:

د سوتي او د سیاست خو د قدیمه آشنایي ده
د سوتي په زور یې کړې په هر وخت کې آغایي ده
په لېمو رانباسي ناتراش سوتي په زوره
وایي سترګو کې ځای ورکړئ دا د سترګو سیلایي ده
چې ډب نه وي ادب نه وي د سوتي د خولې منطق دی
ډبولو رابښودلی ډېر دلې دانایي ده
ظالمانو یو وهلي، ټکولي او رټلي
زړه کې وېره، سر کې وېره زموږ برخه ګدایي ده
چې وهي مو راته وایي ګورئ اوس به مو سړي کړي
په وهلو سړي کېږو د زور لښته مو دایي ده
د موسی امسا چینې کړې له وچ کاڼي نه روانې
د دهقان لاس کې یې کړې قلبه سمه په غوایي ده
ګدا ځان پرې دی ساتلی د خوروړي سپي له خولې نه
یو ړانده لره یې کړي ډېره ښه رهنمایي ده
کله شي خلی د سترګو بینا سترګې ړندوي
د رنجو سلایي سترګو ته ورکړې زیبایي ده
چې سوتی سلایي بولي او له چا نه نه شرمیږي
ښه په زور کې را روانه یاره ستا بې حیایي ده
(۹)

داستاد لـه پورتـه شـعر څخـه څرګنـدېږي، چـې د (تشـدد) خـلاف او د (عـدم تشـدد) طرفـدار دی، دی پـه حکومتـولۍ کـې هـم زور او زیـاتی نـه غـواړي او د سولې، مینې او وروروۍ غوښتونکی دی.

پایلـه: د ګـل پاچـا الفـت شـعرونه دفزیکـي جوړښـت لـه مخـې غزلـې او ډولونـه یـې، تحمیدیـه او خطابیـه قصـیدې، څلـوریزه او ډولونـه یـې او داسـې نـور مشـترک شـعرونه او همدارنګـه دولسـي او نـوې شـاعرۍ د ډولونـو نمـونې پـه شـعرونوکې شته دي. همدارنګـه یـې د محتـوا لـه مخـې شـعرونه هـر ډول مضـامین لـري چـې فلسـفي شـعرونه، داضـدادو د فلسـفې او عـدم تشـدد فلسـفې نمـونې یـې هـم پـه شـعرونوکې شـته دي. د استاد الفـت پـه شـعرونو کـې پـه سیسـتماتیک ډول فلفسـي نظریـات نـه شـته خو تخلیقاتو (شـعر) کـې یـې د فلسـفي شـعرونو څرکونـه لیـدل کېږي نـو لـه همـدې املـه پـه راغلـې مقـالې کـې د انتخـاب پـه ډول د داسې شعرونو نمونې پیدا کړې چې فلسفي مفهوم ارایه کوي.

**اخځونه**:


۱. محمـد نـادر ایـوبي: فلسـفه، صـحاف نشـراتي خپرندویـه ټولنـه، پېښـور، ۱۳۸۸ ل کال، ۶۲ مخ.

۲. ګـل پاچـا الفـت: اسـتاد ګـل پاچـا الفـت شـعري کلیـات (لـومړی چـاپ)، د شـهرت ننګیـال پـه زیـار، دانش خپرندویـه ټولنـه، پېښـور، ۱۳۷۵ ل کال، ۱۷۶ مخ.

۳. ګـل پاچـا الفـت: د اسـتاد ګـل پاچـا الفـت شـعري کلیـات (دویـم چـاپ)، د شـهرت ننګیـال پـه زیـار، دانش خپرندویـه ټولنـه، پېښـور، ۱۳۷۹ ل کال، ۳۷۰ مخ.

۴. عبدالغفورلیوال: داستاد الفت فلسفه، داستاد الفت یاد، خپرندوی میتودیک، کابل، ۵۴.۵۵ مخونه.
۵. گل پاچا الفت: استاد گل پاچا الفت شعري کلیات (دریم چاپ)، د شهرت ننګیال په زیار، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۷ ل کال، ۱۰۴ مخ.
۶. گل پاچا الفت: داستاد الفت شعري کلیات( دریم چاپ)، ۹۵ مخ.
۷. گل پاچا الفت: داستاد الفت نثري کلیات (لومړی چاپ)، محمد اسماعیل یون په زیار، یون کلتوري یون، کابل. ۱۳۸۷ ل کال، ۱۸۸ مخ.
۸. عبدالغفار خان باچاخان: زما ژوند او جد و جهد (دویم چاپ)، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، ۱۳۸۷ ل کال، ۲ مخ.
۹. گل پاچا الفت: داستاد الفت شعري کلیات، ۴۲۰ مخ.